# تاریخ داعوانانو



لیک او څېړنه
نهار اعوان

Mukhtasar Khan Awan
Chief Co-Ordinator
Idara Tehqiqui Awan Pakistan
Circle:..........BATGRAM

# تاریخ د اعوانانو

لیک او څیړنه
نهار اعوان

د کتاب ټول واک د نهاراعوان دے

د کتاب نوم: تاریخ داعوانانو
لیک او څېړنه: نهاراعوان
رابطه نمبر: 0313-9479540
شمېر: 1000
د چاپ کال: 2019ء
بیعه: 300 روپۍ
کمپوزنګ: سلیم ناشاد: 0346-9327068
د چاپ ځاے: سنګرپبلي کېشنز نوې اډه مردان

د موندو درکونه:
مکتبه الاحرار چارسده روډ نوې اډه مردان
ستار بک سنټر پي ار سي مارکيټ نوې اډه مردان
آصف بک سېلرز نوے سړک مردان
اقبال اعوان شاهين مارکيټ مردان
خان سيمنټ ګلزاراعوان نزد رېلوے سټېشن مردان
شاه سوارهوميو کلينک کسکورونه مردان

## خوروونکي

تنظيم الاعوان، اعوان قامي لويه جرګه مردان
پښتو نوې ادبي ټولنه مردان
پښتو ليکونکي مردان



# تړون

## د علم د ښار حضرت علي (رض)

د هغې دروازې په نوم چې د شهادت، بهادرۍ او ولايت د ټولو ځانګو سرچينه ګڼلے شي او ترقيامته به ئې په آل اولاد درود او سلام وئيلے شي.

د علي د آل په مدح کښې جنت دے
د خوشحال خټک په دې ده تسلي

(خوشحال خان خټک)

# ډالۍ

## د خپلو لونړو
## مریم اعوان او ماریه اعوان

په نومونو چې د دې څېړنې په دوران
کښې ئې ما سره ډېر لاس امداد کړے دے.



## شورو کوم په نوم د خدا ے
## چې بخښونکے او ډېر مهربان دے

(القرآن سوره الحجرات: ایت شمېر ۱۳)

اے خلکو ما تاسو ټول پېدا کړئ د یو سړي او ښځې نه د پاره د دې چې تاسو یوبل وپېژنئ او تاسو کښې مې قبیلې او خاندانونه جوړ کړۀ د الله په نسبت هغه څوک الله ته نزدې دے چې څوک د الله تعالی نه ډېر وېرېدونکے دے یقین وکړئ چې الله تعالی پوهه او باخبر دے.

(تفصیل عرفان القرآن)

# لړلیک


| شمېر | سرخط | مخ |
|---|---|---|
| 1 | پل دې بختور شه | 12 |
| 2 | افرین صد افرین | 14 |
| 3 | مننه | 17 |
| 4 | بسمه تعالی | 18 |
| 5 | اعوان (اوان) | 21 |
| 6 | د علوي اعوان مختصره پېژندګلو | 36 |
| 7 | د اعوان وجه تسمیه | 37 |
| 8 | تاریخ تاریخچه قوم اعوان یا آوان | 38 |
| 9 | د ضیاء الانصار لیک عبدالرحمٰن شاد | 40 |
| 10 | د تاریخ علوي اعوان سره زیاتې | 41 |
| 11 | قېس عبدالرشید | 45 |
| 12 | ملک | 51 |
| 13 | زما سفرنامه | 52 |
| 14 | د حضرت علي(رض) بن ابوطالب د اولاد شجره نسب | 53 |
| 15 | محمدالاکبر(رض) زوے د حضرت علي(رض) | 54 |
| 16 | حضرت محمد حنیفه(رض) په باره کښې بشارت | 55 |
| 17 | سیّد | 55 |
| 18 | علوي یا سیّد | 58 |
| 19 | جنګ صفېن او محمدالاکبر(رض) | 59 |





| | | |
|---|---|---|
| 20 | محمدالاکبر (رض) او رومي پالوان | 60 |
| 21 | اولاد علي (رض) | 61 |
| 22 | د محمدالاکبر(رض) دولس زامن | 62 |
| 23 | اولاد علي(رض) او معاویه(رض) ابي صفیان | 64 |
| 24 | په امت مسلمه کښې شیعان علي (په ړومبي ځل) | 65 |
| 25 | د بنو حنیفه (رض) په یمامه قبضه | 68 |
| 26 | شجره د حضرت بي بي خوله (رض) | 68 |
| 27 | د محمدالاکبر(رض) د مور بي بي نوم حضرت خوله | 68 |
| 28 | حضرت خوله (رض) د حضرت علي (رض) د بي بي په حېث | 69 |
| 29 | د خېبرې بي بي د دروغو قیصې او فتح خېبر | 70 |
| 30 | حضرت بي بي صفیه (رض) | 74 |
| 31 | محمدالاکبر(رض) او حضرت حسن (رض) | 78 |
| 32 | په کربلا کښې د امام حسېن (رض) شهادت او د محمد الاکبر (رض) ګډون نۀ کولو وجه | 78 |
| 33 | علویان او عبدالمالک بن مروان | 81 |
| 34 | بني هاشم | 82 |
| 35 | علویان او یزید اوّل | 84 |
| 36 | محمدالاکبر(رض) او عبدالمالک بن مروان | 84 |
| 37 | د محمدالاکبر(رض) په نوم د مختار لیک | 85 |
| 38 | محمدالاکبر(رض) او مختار ثقفي | 86 |
| 39 | محمدالاکبر(رض) د عبدالله بن زبېر(رض) په قېد کښې | 87 |
| 40 | محمدالاکبر(رض) د علماء په نظر کښې | 88 |
| 41 | د محمدالاکبر(رض) د وفات تاریخ | 89 |
| 42 | د محمدالاکبر(رض) اولاد | 89 |
| 43 | حسن بن محمدالاکبر(رض) بن حضرت علي (رض) | 90 |
| 44 | ابوهاشم عبدالله بن محمدالاکبر(رض) | 90 |

| | | |
|---|---|---|
| 45 | جعفر الاکبر بن محمد الاکبر (رض) | 91 |
| 46 | حمزه بن محمد الاکبر (رض) بن حضرت علي (رض) | 91 |
| 47 | علي بن محمد الاکبر (رض) بن حضرت علي (رض) | 92 |
| 48 | جعفر الاصغر بن محمد الاکبر (رض) | 92 |
| 49 | عون بن محمد الاکبر (رض) بن حضرت علي (رض) | 92 |
| 50 | القاسم بن محمد الاکبر (رض) بن حضرت علي (رض) | 92 |
| 51 | ابراهيم بن محمد الاکبر (رض) بن حضرت علي (رض) | 92 |
| 52 | عمر بن محمد الاکبر (رض) بن حضرت علي (رض) | 93 |
| 53 | عبدالرحمٰن بن محمد الاکبر (رض) | 93 |
| 54 | سيد او علوي اعوان | 93 |
| 55 | په مصر کښې د علويانو حکومت | 94 |
| 56 | دريمه صدي هجري د سلاطين علويه حکومت | 96 |
| 57 | د ابوقاسم محمد القاسم بامر الله | 98 |
| 58 | ابومحمد عبدالله المهدي | 98 |
| 59 | ابوتميم المعز الدين | 99 |
| 60 | ابوطاهر اسماعيل المنصور باالله | 99 |
| 61 | ابوعلي الحسین الحاکم بامر الله | 100 |
| 62 | ابومنصور نزار الغزيز باالله | 100 |
| 63 | ابو تيمم مهد مستنصر بامر الله | 100 |
| 64 | ابومعد علي الظاهري الاعزاز دين الله | 101 |
| 65 | ابو الميمون عبدالمجيد الحافظ الدين بن الله | 101 |
| 66 | ابوعلي منصور الامر باحکام الله | 102 |
| 67 | ابوالقاسم عيسیٰ الفائز بامر الله | 102 |
| 68 | ابومنصور اسماعيل الظافر لاعداء الله | 102 |
| 69 | ابو محمد عبدالله العاضد الدين الله | 102 |
| 70 | په مدينه منوره د علوي حکومت | 103 |







| | | |
|---|---|---|
| 71 | ظاهر بن مسلم علوي | 103 |
| 72 | په مکه معظمه د علويانو حکومت | 104 |
| 73 | په صعيد باندې علوي حکومت | 104 |
| 74 | صعره (يمن) کښې د علوي حکومت | 104 |
| 75 | امارات علويه ويلم او جبل او طبرستان | 105 |
| 76 | قزوين باندې قبضه | 105 |
| 77 | علوي او محمد بن عبدالله (مهدي) | 105 |
| 78 | محمد بن علوي او د دهٔ پرېوتل | 108 |
| 79 | علويان د عباسيانو د سترګو ازغي | 109 |
| 80 | په علويانو د بنو اُميه او عباسيانو ظلمونه | 110 |
| 81 | علوي اعوان د حضرت عباس (رض) اولاد نهٔ دے | 110 |
| 82 | سيد موسیٰ پاک شهيد ملتاني (رح) | 111 |
| 83 | سيد شاه قميص (رح) | 111 |
| 84 | اميرشريعت سيد عطاء الله شاه بخاري (رح) | 112 |
| 85 | سيد ابوالفرح واسطي (رح) | 112 |
| 86 | ميرسيد کمالدين ترمذي کيتهيلي قادري (رح) | 112 |
| 87 | ميرعلي کبير همداني (رح) | 112 |
| 88 | سيد محمد بندهٔ نواز ګيسو دراز (رح) | 112 |
| 89 | سيد عثمان مدوند المعروف لال شهباز قلندر (رح) | 113 |
| 90 | سيد فريدالدين عطار (رح) | 113 |
| 91 | ميرشاه ثمن بخاري سندهـ (رح) | 113 |
| 92 | سيد اکبر علي (رح) | 113 |
| 93 | سادات نهوړ، يو پي انډيا | 113 |
| 94 | سادات علوي تانوي (اشرف علي تانوي) (رح) | 113 |
| 95 | شاه سالار مسعود غازي (رح) | 113 |
| 96 | حضرت شاه نياز احمد بريلي علوي (رح) | 114 |

| | | |
|---|---|---|
| 97 | سید اشرف جهانګیر سمنائي (رح) | 114 |
| 98 | سید شمس العارفین سید شمس بابا کاظمي(رح) | 114 |
| 99 | خواجه معین الدین چشتي سنجري (رح) | 114 |
| 100 | سید شمس الدین مشهدي (رح) | 114 |
| 101 | مخدوم سید احمد چرمیوش (رح) | 115 |
| 102 | سید عبداللطیف بهټائي (رح) | 115 |
| 103 | خواجه قطب الدین بختیار کاکي (رح) | 115 |
| 104 | سرسید احمد خان (رح) | 115 |
| 105 | حضرت نظام الدین اولیاء محبوب الهي (رح) | 115 |
| 106 | سید شاه یقیق بخاري (رح) (سنده) | 115 |
| 107 | شجره د میر قطب شاه | 115 |
| 108 | ابوعلي عطاء الله غازي | 117 |
| 109 | قطب حېدرشاه علوي اعوان ملک غازي | 121 |
| 110 | په پېښور کښې د اعوانانو حکمراني | 123 |
| 111 | وادي سون سکېسر | 125 |
| 112 | خیبرپښتونخوا | 127 |
| 113 | قبیلې د پښتونخوا | 128 |
| 114 | دریائے کلپاني | 129 |
| 115 | دریائے سوات | 129 |
| 116 | د ضلع مردان اعوانان | 130 |
| 117 | د ازاد کشمیر علوي اعوانان | 132 |
| 118 | ډ بلوچستان اعوانان | 133 |
| 119 | د کراچۍ اعوانان | 135 |
| 120 | هغه ناوې چې په خپله ښائسته نۀ وي | 135 |
| 121 | پېشه په قوم نۀ بدلېږي | 136 |
| 122 | قوم او کسب | 137 |





| | | |
|---|---|---|
| 123 | جولا | 138 |
| 124 | کسب ګر | 138 |
| 125 | چنګړیان | 139 |
| 126 | کولال | 139 |
| 127 | دوبیان | 140 |
| 128 | چمیار | 140 |
| 129 | ګجران | 141 |
| 130 | ډېنډتي | 141 |
| 131 | ګډبه | 141 |
| 132 | د اعوان قوم د بېدارۍ تحریکونه | 143 |
| 133 | پېژندګلو او شجره د محبت حسېن اعوان | 144 |
| 134 | د کریم خان اعوان بېن المللي خدمات | 146 |
| 135 | ملک امجد حسېن علوي او د هغۀ ملي خدمات | 147 |
| 136 | ملک مشتاق الهي اعوان | 149 |
| 137 | طارق محمود اعوان | 150 |
| 138 | شوکت محمود اعوان | 150 |
| 139 | ښاغلے مختصر خان اعوان | 150 |
| 140 | ملک شوکت حیات خان | 151 |
| 142 | حاجي صدبرګ خان | 151 |
| 143 | د اعوان قوم دوېم تحریک | 152 |
| 144 | خوارۀ وارۀ اعوانان شخصیات | 157-152 |
| 145 | کتابیات | 158 |

# پل دې بختور شه

قرآن مجید کښې په سورے الحجرات کښې په دیارلسم نمبر ایت شریف کښې الله تعالی فرمائي چې:

"اے خلقو! مونږ تاسو د یو سړي او ښځې نه پیدا کړئ او ستاسو شاخونه او قبیلې مو جوړې کړې د دې د پاره چې تاسو یو بل وپیژنئ بې شکه چې الله تعالی ته زیات عزت دار هغه خلق دي چې پرهېزګار دي"

دغه شان یو بل حدیث شریف دے چې ترجمه ئې داده:

"چاچې خپل پلار نه سوا (علاوه) د بل چا د زوي کېدو دعوه ولړله یعني بل څوک ئې خپل پلار وګڼه باوجود د دې چې دۀ ته خپل اصلي پلار معلوم وي نو په دغه سړي باندې جنت حرام دے"۔

اعوان قوم د پاکستان یو معروف، مشهور او د ټولو نه زیات تعداد لرونکے قوم دے. په دې کښې ډېر لوے لوے صوفیان، عالمان، بزرګان، سیاستدانان، شاعران، ادیبان او د ژوند د هرې شعبې سره تړلے ډېر پوهه خلق تېر شوي دي او شته خو د دې قام تاریخ پله ئې بیخي په سنجیدګۍ ګامونه نۀ دي پورته کړي. چونکې دا قام اکثریت په پنجاب علاقه کښې دے هم دغه وجه ده چې د هغه ځاے لیکوالو لږ تر لږه خپل حق ادا کړے دے او څني کتابونه لکه باب الاعوان، زادالاعوان، تاریخ علوي، تذکرے الاعوان. تحفته الاعوان، تاریخ حېدري او څني نور کتابونه ئې چاپ کړي دي.



خو په پښتونخوا کښې بلها د کار سړي په اعوان قوم کښې تېر شوي دي او شته چې خپل نوم سره اعوان ئې ډېر په فخر سره لیکلے وي خو افسوس چې د خپل قوم باره کښې ورته نۀ څۀ معلومات وي، نۀ کول غواړي او نۀ چرته غریب لیکوال له ملا ډبول غواړي. هم دغه وجه ده چې د ملک د ټولو نه لوے قوم تر اوسه یو مبهم شکل لري حالانکې د دې دومره لوے قوم تاریخ باید چې ښکاره وے. خو د ډېر آید درست آید په مصداق مونږ د ښاغلي نهار اعوان د دې کوشش ډېره ستائینه کوو ځکه چې په پښتنو کښې د اعوانانو د تاریخ دا سهره به د دۀ په سر وي.

دا کتاب څومره ارزښت لري د دې د لوستو نه پس پته لګي خو بیا هم دا کتاب زۀ انتهائي قیمتي ځکه ګنم چې کېدے شي د دې کتاب په برکت په پښتنو کښې د اعوانانو په تاریخ نور هم کار وشي. الله دې وکړي چې دا کتاب د تاریخ په کتابونو کښې ځاے ومومي.

په اعوانه مینه

جنګرېز اعوان

جنرل سیکرټري د ادبي دوستانو مرکه مردان

**۳-۱-۲۰۱۹**

# صد افرین ! نهار اعوان

هسې خو مونږ ټول د بابا ادم علیه سلام بچوړي یو۔ د دې وجې نه په خپل خپل نسل ویاړ کول د کامرانۍ څۀ خاص دلیل نۀ دے. ولې هر چاته خپل جد امجد سره مینه کول فطري تقاضا وي او په خپل نسل ویاړ کوي۔ زما دا خیال وۀ چې زۀ په پښتو ژبه کښې په اعوان نسل یو تاریخي کتاب ولیکم او ماته د سوات اعوان ملګرو هم دا فرمائش کولو۔ ځکه چې اعوان نسل زمونږ پښتون اولس کښې ګمنام دے۔ د هغې یوه وجه دا هم ده چې اعوان نسل کښې لکه د خپل نیکۀ حضرت علي رضي الله عنه د نوم ناموس جذبه نۀ لري او بل دا عربي نسل د هرات افغانستان، ایران، هندوستان او بیا په پاکستان کښې په هره اولس والۍ کښې دومره خور شوے دے چې اوس یو بل په اسانه نۀ پېژني۔ د دوي په خټه کښې د خپل نیکۀ حضرت علي رضي الله عنه په شان د لیک لوست ملکه اغږلې شوې ده۔ د دین اسلام سره په ربښتونې مینه، راست بازي، ساده توب او په جنګ کښې مړانه د دې نسل ځو سپېځلي صفتونه دي۔

علي رضي الله تعالي عنه د فاطمې رضي الله عنها د وفات نه وروستو پرله پسې اووۀ ښځو سره نکاحونه کړي دي۔ د فاطمې رضي الله عنها نسل په سیدانو/میا ګانو یادېږي او د نورو بیبیانو نسل ئې په ساداتو نامېږي۔ علي رضي الله عنه پنځمه نکاح زمونږ د نیا ابۍ خوله بنت جعفرسره وکړه۔ چې د عقبه قبیلې سره ئې تعلق لرلو۔د دې نه ئې یو



زوے محمد (الاکبر) پیدا شۀ چې د تاریخ په پاڼو کښې ئې خلق د ابن الحنفیه په نوم پېژني۔ د دۀ په اولاد کښې ابوعطاءالله غازي پېدا شۀ۔ د دۀ په زامنو کښې سالار ساهو او سالار قطب حېدر چې په جهاد هند کښې دوي محمود غزنوي سره د مرستې اعلان وکړو نو دوي ته د سپه سالارۍ عهده وسپارلې شوه او په وولسمه حمله محمود غزنوي په درست هندوستان برے بیا موندۀ۔ محمود غزنوي د دوي نه ډېر متاثره شۀ او د دوي د بې لوثه مړانې او تعاون په وجه ئې دوي ته د اعوان دا عزت مند خطاب ورکړو۔ د دې نه مخکښې دې نسل د ګمنا مۍ ژواک تېرولو۔ دې سره کۀ مونږ د پاکستان سن ۱۹۶۵ د جنګ تاریخ ولولو نو د دې ګټې سهره اعوان نسل اچولې کېږي چې په دغه جنګ کښې په اهم اهم محاذونو جرنېلان اعوان وو۔

د الله پاک په فضل سره ما درځن نه زیات کتابونه لیکلي دي او د روماني شاعرۍ "باد د بېلتانۀ" نه علاوه ټولو کښې اسلامي تعلیمات دي۔ زما دا خیال وۀ چې په اعوان نسل هم یو تاریخي کتاب ولیکم۔ د ډېرې مودې نه مې دا ارمان وۀ او د بعضو ملګریو غوښتنه هم وه۔ ولې تاریخي کتاب په صحي ډګر ترتیب کول څه ګپ نۀ وي، دا څه افسانه نۀ وي چې بس د فراخه تخیل نه فائده واخلې۔ تاریخي کتاب د پاره به تۀ بلها مختلف کتابونه ګورې او د مختلفو مکتبه فکر مشائخو سره به ناسته کوې۔

زۀ په دې شش و پنج کښې ووم چې د خوش قسمتۍ نه په دویم دسمبر فضل معبود صائم صېب تانې ته یو ادبي پروګرام له راوبللم۔ چې راشه ستاسو نوم هم په اېوارډونو کښې شامل دے۔ د یخ موسم له وجې زړۀ نۀ کولو خو د بونېر تاریخ دان حېدرعلي اخون خېل صېب په حوصله مونږ دواړه لاړو۔ هلته مې د لعل بادشاه خیالي صېب نه تپوس وکړو چې

یره هغه پخوانۍ لیکوال شاعر او ادیب نهار اعوان نن سبا چرته دے. هم هغهٔ راله سمدستي د نهار صیب نمبر راکړو. رابطه وشوه. ما ورسره دا خبره کوله چې هغوي راباندې ورومبے شو. چې تا صرف فکر کړے دے او ما خو پرې مکمل کتاب په خپله مورنۍ ژبه کښې کمپوز کړے دے. د ډېرې خوشالۍ نه مې زړهٔ باغ باغ شو. زړهٔ مې قرار ونهٔ موندهٔ او په بله ورځ نېغ مردان ته د نهار اعوان صیب دیرې ته لاړم. ډېر قدر مدارات ئې راله وکړو. د کتاب مسوده ئې راته وښودله. سرسري نظر مې پرې واچولو او په دې نتیجه ورسېدم چې نهاراعوان واقعي چې کوم زیار په دې کتاب کړے دے، یقیناً د قدر وړ دے. دا ئې په پښتنو اعوانانو یو نهٔ هېریدونکے احسان کړے دے. هسې خو په نورو ژبو کښې په اعوان نسل بلها کتابونه شته ولې په خپله مورنۍ ژبه پښتو کښې دا لوړ مقام د مردان سیمې تکړه، شاعر، ادیب، او تاریخ دان ښاغلي نهار اعوان صیب ترلاسه کړو. دا ارمان مې پوره شو او سود مې وشو. او یقیناً چې هر اعوان (اوان) به نهار اعوان په خپلو خصوصي دعاګانو کښې ضرور یادوي.

**موسي ګل ګل اعوان**

ستر سکتر پښتو ادبي ټولنه پیربابا بونیر

**۵ جنوري ۲۰۱۹**



# مننه

زما کتاب "تاریخ د اعوانانو" ستاسو په وړاندې دے په دې لړ کښې د هغو ټولو ښاغلیو مننه کوم چاچې وخت په وخت قیمتي مشورې راکړې دي په تېره تېره د میاوکیل شاه فقیرخېل ډېره مننه کوم چې د خپلې مقالې د "اعوان، اوان" په لیکلو ئې زما پام دې طرف ته راوګرځولو چې زهٔ دې هم د تاریخ د اعوانانو باره کښې څېړنه وکړم.

د ښاغلي معراج علي اعوان مننه چې وخت په وخت ئې د څېړنې د پاره مواد راکړي دي.

د ښاغلیو لعل بادشاه خیالي، حضرت زېبر زېبر، مصباح الله مصباح او شېرملوک شمس مننه کوم چې د څېړنې په دوران کښې ئې ډاډګېرنه راکړې ده.

دغه رنګه د خپلو زامنو حافظ شهریار اعوان اوا نجنیئر افتخاراحمد اعوان مننه هم په ځان لازمه ګڼم چې زما هر ادبي او تحقیقي زیار ته د قدر په نظر ګوري. د خپل ورور سعیداحمد اعوان او ورارهٔ اوېس قرني هم مننه چې د منزل په لور مې هر قدم دوي په ډاډ او حوصله وي.

دد پښتو کتاب چاپ کولو کښې د ټولو نه ګران کار د معیاري کمپوزنګ او املا وي خوملګري سلیم ناشاد دکمپوزنګ اواملا دواړو مسئلو نه زهٔ خبر نهٔ کړم په دې وجه زما د خصوصي منني قابل دے.

نهاراعوان

# باسمه تعالیٰ

د الله تبارک و تعالی ډېر شکرګوزار یمه چې ما عاجز غوندې بنده له ئې دا توان راکړو او زما غوندې بنده ئې په دې خبره مجبور کړو چې د هغه پښتنو اعوانانو تاریخ په باره کښې څۀ نه څۀ ولیکم چې تراوسه پورې په لروبر پښتونخوا کښې ئې هډو چا ذکر ضروري ګڼلے نۀ دے او نۀ چا په دې حقله قلم پورته کړے دے. زۀ په ډېر افسوس سره دا خبره کوم چې ولې دې ټوله پښتونخوا کښې داسې یو قلمکار نۀ وۀ چې رښتیا ئې وئیلې وے ـــ او نۀ دغه تاریخ دان په پښتنو اعوانانو کښې لاتراوسه پېدا شوے دے چې دغه تاریخ دانانو له ئې جواب ورکړے وے ـ ولې د پښتونخوا په اعوانانو کښې د څۀ کمے وۀ ولې په دې کښې څوک صحافي ادیب شاعر محقق نۀ وۀ ولې دوي کښې عالمان ډاکټران وکیلان ادیبان محققین نۀ وو. ټولو سترګې پټې کړې دي د هغه بدنیتو نه چې د ملک ساهو په ځاے ئې د ملک شاهو نوم په دې وجه غلط لیکلے دے چې د دۀ تاریخ مسخ کړے شي او د دۀ د بهادرۍ سهره د بل چا په سر کړي. دغه بدنیتو خو اعوان د تاریخ د پاڼو نه هم ویستلے دے دغه اعوان چې د صدو نه د پښتو ویونکي دي او د پښتنو په خاوره د پښتو په ننګ ناموس ولاړ دي د پښتو په پره جمبه د چا نه وروستو نۀ دي. د خپل شناخت په ځاے ئې د پښتنو شناخت خپل کړے دے او نۀ ئې د پښتو ژوند څۀ عېب ګڼلے دے ولې د نوي کهول د اعوانانو اولاد هم د خپلو مشرانو نه دا سوال کوي چې مونږ څوک یُو زمونږ پلرونه نیکونه د کوم ځاے نه راغلي دي او



هغه د چا اولاد دے هر څو کۀ چا تاریخ مسخ کړے دے خو د قامولۍ نمر چرته پټېدے. شي په مردان کښې درې څلورو ځلو نه زیات او پښتونخوا کښې ګېرچاپېره به داسې تحریکونه د بېدارۍ په نوم ضرور خپل تحریکونه مخ په وړاندې بوتلے وي خو هغه په دې ناکامه شوي چې دا قسمه تحریکونه د شتۀ منو سرپرستي غواړي نوې ولولې غواړي محبتونه غواړي او داسې ډېرې قربانۍ غواړي او د یوبل ډاډګېرنه ــ ولې دغه شتۀ منو د اعوان د بېدارۍ د دغه تحریکونو سره هېڅ قسمه مرسته نۀ ده کړې. اوس هم ځني اعوانان د داسې قسمه تحریک حصه جوړېدل غواړي. هرکله چې یو بل قوم ورته سترګې برندې کړې وي او وائي چې تۀ څوک یې ماته خپل قام وښایه تۀ د چرته نه راغلے یې سره د دې نه چې د اعوانانو تاریخ ډېر ښکاره دے دا قوم د محمدالاکبر(رض) بن علي غېرفاطمي علوي اولاد دے. د بدقسمتۍ نه د حضرت علي(رض) اولاد سره اُمیه او عباسي قومونو ډېر ظلمونه کړي دي او بیا دا علوي فاطمي او غېر فاطمي اولاد هرات ته په کډه تلي دي. دې علویانو د سلطان سبکتګین په حکومت کښې یو ډېر لوے کردار ادا کړے دے چې وروستو د محمود غزنوي سره په هره معرکه کښې شامل وو. تر دے چې د سومنات د حملې نه پس ئې ورته د اعوان په نوم ونمانځل یعنې مددګار چې تاسو زما مدد وکړو دا قوم د افغانستان په ګېر چاپېره علاقو نه پس خیبرپښتونخوا علاقو باندې مېشته شوي دي چې کوم اعوانان په پښتنو علاقو وسېدل هغه پښتانۀ اعوانان دي کوم اعوانان چې کشمیر یا پنجاب ته تلي دي هغه پنجابیان دي او ځني کشمیریان دي چې کوم هندکیانو علاقو ته تلي دي هغه هندکیان دي خو افغانستان خیبرپښتونخوا او بلوچستان کښې پښتانۀ اعوانان په ډېر لوے شمارې سره اباد دي.

تاریخ علوي په نورو ژبو کښې یو ځانګړې حېثیت لري چې په عربی، فارسی، انګرېزی، پنجابی، سندهی، اردو داسې نورې په سوونو ژبو کښې تحقیقي مواد شامل دي چاپ شوي دي ــ خو د بده مرغه د ملک ساهو او د هغهٔ اولاد باندې په پښتو ژبه کښې هېڅ قسمه تاریخي مواد چاپ شوي نهٔ دي، سره د دې نه چې اعوانان د پښتنو سره پښتو وائي، پښتو کوي د پښتنو سره ژوند ژواک کوي او د پښتنو په ټولو کړلېچونو کښې خپلو پښتنو ورونو سره اوږه په اوږه ولاړ دي، سره د دې نه چې دا یو خپل دروند قوم اولاد علي (رض) دے خو اکثر په شناختي کارډ کښې د اعوان په ځائے د افغان نوم هم لیکلے دے یعنې دا ئې یو عیب نهٔ دے ګڼلے او د پښتنو سره ئې ځان پښتون کړے دے. اعوان قوم د تاریخ په حواله یو خپل قام دے. په دې حواله مې تاریخي موادونه راغونډ کړي دي کهٔ الله وغوښته نو څوک بل څوک به هم پېدا شي او د اعوانانو د تاریخ په حواله به دا سلسله جاري وساتي

نهار اعوان



# اعوان (اوان)

په پښتونخوا کښې د پښتنو قبیلو سره سره نورې هم داسې قبیلې ابادې او مېشته دي چې هغه پښتانهٔ نهٔ دي خو د یو ځائے استوګنې او د پښتو ژبې وئیلو، ثقافت او تهذیب خپلولو او یو بل سره د رشتو او تړون په وجه دغه فرق ختم شوے دے.

په دغه قبیلو کښې سید، اعوان، قرېش، ګجر، کشمیري وغېره شامل دي او دا قبیلې نهٔ صرف دلته وسېږي بلکې د پاکستان په ګټ ګټ کښې مېشته دي او دغه شان چې په کومه علاقه دي هم د هغه ځائے بودوباش او تهذیب، ژبه ئې خپل کړي دي او هر ځائے کښې ورته د عزت په سترګه کتلے شي. په دې قبیلو کښې یوه قبیله د اعوان، او یا اوان په نوم یادېږي. ډېر خلک په دې نومونو کښې فرق محسوسوي او وائي چې اعوان، اوان چې په پښتو کښې ورته اوان هم وائي بېلې بېلې قبیلې دي.

مورخین او محققین د اعوان او اوان فرق او وجه تسمیه باره کښې لیکي چې دلته ئې د محترم سکندرخان د کتاب "دامن اباسین" ۱۹۹۳ء مطبع امیدپرنټر لاهور په حواله سره لیکو. د دې کتاب په صفحه ۱۰۱ د اعوان (اوان) د سر خط لاندې د تذکره روسائے پنجاب په حواله سره لیکي

> "ایک زمانے میں خیال کیا جاتا تھا کہ اوان ارین ہیں کبھی یہ افغان کہلاتے ہیں بعض انہیں یونانی بختیاری کے نام سے مشہور کرتے ہیں بعض مورخین کا خیال ہے کہ یہ قطب شاہ کی اولاد ہے۔ قطب شاہ کے متعلق مشہور ہے کہ وہ محمود غزنوی کی فوج میں شامل تھا اور اس نے اسے اعوان (مددگار) کا خطاب دیا تھا۔

ترجمه: یو وخت دا خیال هم وؤ چې اوان ارین دي او کله به ورته افغان هم وئیلے شۀ ځنې ئې د یوناني بختیاري په نوم یادوي- د ځنو مورخینو خیال دے چې دا د قطب شاه اولاد دے او د قطب شاه متعلق مشهوره ده چې هغه د محمودغزنوي په فوج کښې شامل وؤ او هغۀ دۀ ته د اعوان (مددگار) خطاب ورکړے وۀ-

بل اقتباس هم په صفحه۱۰۱ دخواص خان دکتاب تحقیق الاعوان نه راخلي

"اعوان قوم کی ۸۳ گوتیں ہیں، اعوانوں کے مورث اعلیٰ قطب شاہ کا سن وفات ۴۳۱ھ/ ۱۰۳۹ء ہے اور مدفن غزنی ہے۔

ترجمه: د اعوان قوم دري اتیا خاندانونه دي- د اعوانانو مورث اعلی قطب شاه سن، وفات ۴۳۱ھ/ ۱۰۳۹ء دے او په غزني کښې دفن دے-

د تاریخ اعوان مصنف محمد اسلم خان جدون په حواله لیکي

"آوان فارسی کا لفظ ہے اس کے معنی وقت اور ہنگام کے ہیں جبکہ اعوان عربی زبان کا لفظ ہے اس کے معنی مددگار کے ہیں۔ بعض کے لیے یہ دونوں جدا جدا ہیں اور دو نسلوں کے لیے بولے جاتے ہیں ایک عربی نسل قریشی ہے اور دوسرے ہندی الاصل ہے"

ترجمه: اوان د فارسی لفظ دے د دې معنٰی وخت هنگامه ده- اعوان د عربی لفظ دے د دې معنٰی مددگار ده- دا دواړه جدا جدا لفظونه دي او دا د دوه نسلونو د پاره وئیلے شي- یو عربي نسل قریشي او بل هندي الاصل دي-

د دامن اباسین مصنف محترم سکندرخان په صفحه ۱۰۲ د شېرعلي خان بنوسي په لیک د اعوان باره کښې درج کوي:

"قوم آوان کے قبیلے کا تعلق راجہ مرکرن راجپوت سے تھا اس خاندان کی ایک راجدھانی دھنکوٹ تھی جو دریائے سندھ کے مشرق جانب کالاباغ کے بالمقابل تھی۔ اس بہادر قوم



نے ۱۰۰۴ء، ۱۰۰۰ء میں سلطان محمود غزنوی کے عہد میں بمعہ راجہ اسلام قبول کیا تھا محمود غزنوی نے جب روڈ ٹوچی سے سومنات پر حملہ کرنے کا قصد کیا تو چند دن دھنکوٹ میں قیام کیا جس کی آبادی اس وقت ساڑھے پانچ ہزار نفوس پر مشتمل تھی۔ سومنات کو روانگی کے وقت دھنکوٹیوں نعرہ تکبیر کے بعد کہا "اونجو ہند کیوں"! اونجو سے اوان بن گیا۔ فتح سومنات کے بعد محمود غزنوی نے افغانیوں کو خان اور آوانوں کو ملک کا خطاب دیا تھا بعد میں آوانو نے اسے اعوان بنا دیا۔

ترجمه: د اعوان قوم و قبیلې تعلق د راجه هرکرن راجپوت سره وۀ- د دې خاندان یو دارالخلافه دهنکوټ وه چې د دریائے سندھ نمرخاتۀ طرف ته کالاباغ ته مخامخ وه دې بهادر قوم په ۱۰۰۴ء، ۱۰۰۰ء کښې د سلطان محمود غزنوي په زمانه کښې اسلام قبول کړے وۀ- محمودغزنوي چې هرکله په سومنات د توچي روډ نه د حملې اراده وکړه هغه وخت کښې د دهنکوټ ابادي پینځۀ نیم زره وه- سومنات ته د روانېدو په وخت کښې د دهنکوټ خلکو نه پر "اونجوهندکیو" ووئیل د اونجو نه اوان شو- د سومنات د فتح نه پس محمود غزنوي افغانانو ته د خان او اوانانو ته د ملک خطاب ورکړۀ بیا وروستو اوانانو ترې اعوان جوړ کړۀ-

دې ټولو حوالو ته کۀ په غور وکتے شي نو ټول لیکونکي مورخین او محققین په دې خبره متفق دي چې اعوان یا اوان قوم د قطب شاه اولاد دے خو په دې حوالو کښې یو حواله د تاریخ الافغان د مصنف محمداسلم خان جدون ده چې په کښې ئې د اعوان او اوان فرق ښودلے دے او بله حواله د شېرعلي خان بنوسي ده-

د دې نه مخکښې چې مونږ په دې بحث وکړو چې د دې قوم سلسله د کوم ځائے نه او د چا نه شورو کېږي- اعوان ورته ولې وائي ښه به دا وي چې دا خبره سپینه کړو اعوان یا اوان یو لفظ دے او کۀ بېل، او هر کله چې بېل بېل لفظونه دي نو بیا ئې قبیلې هم جدا جدا دي-

محترم محمد اسلم خان لیکي چې اوان د فارسي لفظ دے چې معنی وخت او هنګامه لري او اعوان د عربي لفظ دے چې معنی ئې مددګار ده. زما سره په کتب خانه کښې د فارسي اوعربي لغاتونه دي په دې کښې د دې لفظونو معنې دا رنګه دي.

فرهنګ فارسي مؤلف مولانا محمدرفیع فاضل دېوبند او مولوي حکیم ابوالفضل محمدفاضل، فاضل جامع احمدیه بهوپال په صفحه (۲۰) د آوان لفظ معنی په داسې لیکلے:

اوان (ع) اوقات، لمحې

د دې نه معلومه شوه چې دا د عربي ژبې لفظ دے د فارسي نۀ دے او هرکله چې مونږ دا لفظ په القاموس الجدید عربي اردو لغت د مولانا وحیدالزمان قاسمي کیرانوي استاد عربي دارالعلوم دېوبند په صفحه (۳۹) ګورو نو معنی ئې داسې ده:

اَوَآن، سیزن، وقت، موسم، جمع، اَوِنَه، اوقات، حالات.

د دې نه معلومه شوه چې اوان د عربي لفظ دے د فارسي نۀ دے او بل طرف ته اعوان هم د عربي ژبې لفظ دے چې معنی ئې مددګار ده. د دې دلیل په رڼا کښې د محمداسلم جدون دا قتباس غلط ثابتېږي چې "اعوان عربي النسل دي او اوان هندي الاصل دي"

اعوان عربي لفظ دے چې د اعوان نه اوان شو ولې چې د عربي "ع" د "الف" سره په وېنا کښې یو شان وئیلے شي نو ځکه مونږ اعوان ته اوان وایو. پښتنانۀ ورته اواڼ وائي نو کۀ څوک ئې اعوان بولي او کۀ اوان یا اواڼ دا یو لفظ دے هغه اوان نۀ دے چې معنی ئې وخت ده بلکې هغه اعوان یا اوان دے چې معنی ئې مددګار ده. دا خو وۀ د "اعوان" او "اوان" فرق. معلومه شوه چې د وېناپه وجه دغه فرق ښکاري.



اوس د دې جائزه اخستل دي چې د اعوان یا اوان ورته ولې وائي د دې وجه څۀ ده. دا اعوان یا اوان مورث اعلی او سلسله نسب ئې څۀ دے په قوم اعوان یا اوان باندې ډېر تاریخي کتابونه لیکونکي په دې خبره اتفاق لري چې د اعوان قوم مورث اعلی (نیکۀ) قطب شاه وۀ. د اعوان قوم مورث اعلی خو معلوم شو خو معلومول دا دي چې دا قطب شاه څوک وۀ د چا په اولاد کښې وۀ شجره نسب ئې څۀ وۀ او هغه وجه څۀ وه چې د هغې په وجه ئې اولاد ته اعوان وئیلے شي. د دې باره کښې به دلته معلومات د تاریخ په رڼا کښې رقم کوو. د اعوان په باره کښې چې کوم تاریخي کتابونه لیکلي شوي دي په هغې کښې تذکره السادات د سید محبوب شاه هرات مسعودي د علوي عبدالرحمان چشتي، تاریخ حېدري د حېدرعلي لدهیانو، تحقیق الاعوان د محمدحسېن، تاریخ الاعوان د شېرمحمد خان حقیقت الاعوان د محمدهاشم الدین عرف بابا هاشم او دغه شان نور ډېر کتابونه او رسالې چې په کښې په مجموعي او انفرادي طور ذکر راغلے دے په دې متفق دي چې د قطب شاه سلسله نسب حضرت علي کرم الله وجهه ته رسېږي.

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لور بي بي فاطمته الزهره (رض عنها) د حضرت علي (رض) تېر وۀ حضرت امام حسن(رض) او حضرت امام حسېن (رض) د دوي اولاد وۀ. د حضرت فاطمته الزهره (رض) د مرګ نه پس حضرت علي (رض) نورو بیبیانو سره نکاح کړې وه، په دې باره کښې د "چوده ستارے" مصنف الحاج مولاناسید نجم الحسن کراروي په صفحه ۱۵۹ باندې "حضرت کی ازواج و اولاد" د سرخط لاندې د کتاب انوارالحسنیه جلد۲ صفحه ۳۵ د ارشاد مفیاد صفحه ۱۹۹ د جمهره ابن خرم و تهذیب الاسماء جلد۱ صفحه ۴۴۹ دناسخ تواریخ جلد ۳صفحه۷۰۷ طبع بمبي او ذکرالعباس صفحه ۴۴ طبع لاهور په حوالو

سره لیکلي چې حضرت علي (رض) د لسو بیبیانو سره وادهٔ کړے وهٔ او د
وفات په وخت ئې څلور بیبیانې ژوندۍ وې د هغوي نومونه دا رنګه وو۔
امامه، اسماء، لیلیٰ او ام البنین او په اولاد کښې ئې لس زامن او اتلس
لوڼه وے خو د حضرت علي د نسل سلسله د پنځو زامنو نه خوره شوې ده
چې د دغو زامنو نومونه داسې دي:

امام حسن(رض)، امام حسین(رض)، محمد حنفیه (رض)،
حضرت عباس(رض)، عمر بن علي(رض)۔

هم دغه شان تفصیل مولانا ابوالحسن علي ندوي په خپل کتاب
المرتضیٰ کرم الله وجهه کښې په صفحه ۲۸۴ باندې لیکلے۔ په دې پنځو
زامنو کښې د امام حسن (رض) او امام حسین (رض) اولاد ته حسني او
حسیني سادات وئیلے شي او د نورو زامنو اولاد ته علوي وئیلے شي۔ د
حضرت علي(رض) په زامنو کښې محمد حنفیه یا محمد ابن حنفیه هم
دے۔ د دهٔ په باره کښې د کتاب المرتضیٰ مصنف ابوالحسن علي ندوي
په صفحه ۲۸۴ په اُردو کښې لیکلي چې د هغې نه یو اقتباس ترجمه کوم۔
د حضرت علي(رض) په زامنو کښې محمد االاکبر(رض) چې په ابن حنفیه
ئې شهرت موندلے وهٔ او د مشرۍ و بزرګۍ په لحاظ سره ئې امتیازي شان
او حیثیت لرلو ډیر بهادر او د ډیر قوت خاوند وهٔ۔ د کتاب الله او سنت
نبوي ډیر لوے عالم او په فصاحت او بلاغت کښې ئې لوے شان وهٔ۔

د ماهنامه اعوان جنوري ۱۹۹۶ اسلام اباد په صفحه۲۳ د حضرت
محمد حنیفه په سرخط سره مقاله کښې لیکلي چې محمد(رض) ابن
الحنفیه په پنځو نورو نومونو هم یاد شوے دے۔ محمدابن العلي،
محمدالاکبر، محمدابن الحنفیه، امام حنیف او محمدحنیف د محمد ابن
العلي مطلب خو دا دے چې محمد د علي(رض) زوے دے، محمد الاکبر
ورته ځکه وائي چې د حضرت علي(رض) د درې نورو زامنو نومونه هم



محمد وو نو دوي د عمرونو په لحاظ سره عربو مورخینو د محمد الاکبر،
محمد الاوسط او محمد الاصغر په نومونو سره یاد کړي دي او محمد ابن
الحنفیه ورته ځکه وائي چې د دوي مور بي بي حوله بنت جعفر بن قیس
وه۔ د بني حنفیه خاندان سره ئې تعلق لرلو۔ د مور بي بي په دې نسبت سره
محمد ابن الحنفیه ئې کنیت شو او دغه شان په امام حنیف او محمد
حنیف نومونو هم یاد شو۔ د محمد ابن الحنفیه بل کنیت د خپل یو زوي
قاسم د نوم په نسبت ابوالقاسم هم وهٔ۔ محمدابن الحنفیه(رض) په طائف
کښې د پنځو شپېتو کالو په عمر کښې په ۸۱ ھ کښې وفات شوے دے۔
د دې محمد ابن الحنفیه(رض) زوے علي دے۔ د علي زوے محمد دے
د محمد زوے عون دے، د عون زوے عبدالمنان دے، د عبدالمنان
زوے بطل غازي دے، د بطل غازي زوے اصف غازي دے، د اصف
غازي زوے عمر غازي دے د عمر غازي زوے محمدغازي دے د
محمدغازي زوے طیب غازي دے، د طیب غازي، ظاهرغازي د
ظاهرغازي عطاالله غازي، د عطاالله غازي پیرقطب شاه غازي دے۔

د خاندان علویه د بنو امیه سره جنګونه وو د بنو امیه دا کوشش
وهٔ چې علوي او فاطمي خاندان په څهٔ نه څهٔ طریقو سره کمزورے کړي او
هم په دغه کوششونو کښې هغوي کامیاب شول۔ د دغې کمزورۍ په وجه
بنو امیه په اقتدار راغلل۔ د دوي په اقتدار کښې راتلو سره په علوي او
فاطمي خاندان ظلمونه شورو شول دوي۔ د دې ظلمونو او تکلیفونو نه چې
تنګ شول نو په هجرت مجبور شول۔

په علویانو کښې د حضرت محمد ابن الحنفیه په اولاد غزني د
غازیانو دښارپه وجه مشهوروهٔ۔ سلطان سبکتګین به هروخت دخواوشا
هندوانو راجګانو او د نورو کافرانو خلاف په جهاد کښې به مشغول وهٔ او
هم دغه وجه وه چې ډېرو هندوانو راجګانو ته ئې ماتې ورکړې۔

په دې جنګونو کښې علویانو هم دسلطان سبکتګین سره کلک ملاتړ کړے وۀ او هم دغه وجه وه چې دعلویانو یو مشرعطاالله د امیرسلطان سبکتګین په فوج کښې د سپه سالارپه عهده مقرر کړے شوے وۀ او په ډیرو جنګونو کښې د خپلې مړانې ښودلو په وجه د غازي په نوم مشهور شو۔

عطاالله غازي یو پرهېزګار او متقي انسان وۀ۔ د دۀ درې زامن وو چې د میرساهو، میرقطب حیدراومیرسیف الدین په نومونو یادېدل۔ میر ساهو هم د غزني په فوج کښې د سپه سالار په عهده وۀ۔ د امیر ناصرالدین سبکتګین نه پس د هغهٔ زوي سلطان محمود غزنوي خپل حکومت ترهندوستانه خور کړو۔ په هندوستان ئې شپاړلس حملې وکړې او راجه نندپال والئي پنجاب او د قنوج، میرټهه، کالنجر، مهترا، مالوه، اجمیر، ګوالیاراو دګجرات د راجګانومتحده فوجونوته ئې ماتې ورکړه او د پېښور او د سندهـ نه واخلې تر پنجابه ئې حکومت خور کړو۔

په دې فتوحاتو کښې د ټولو اهم فتح د سومنات وه۔ په تاریخ کښې د سلطان محمود غزنوي دا یوه لویه کارنامه ګڼلے شي۔ هر کله چې سلطان محمودغزنوي په هندوستان حملې کولې نو دغه وخت هم علوي خاندان خپله وفاداري ښکاره کړه او ځنګه ئې چې د امیر ناصرالدین سبکتګین سره ملاتړ او کومک کړے وۀ هم هغه شان ئې سلطان محمودغزنوي سره په جهاد کښې د حصه اخستو د پاره خپل ځانونه وړاندې کړل او دغه شان د عطاالله غازي بل زوي پیر قطب شاه د کفر و شرک د ختمولو او په هندوستان د اسلام بېرغ لګولو د پاره خپل لښکر سره د سلطان محمود غزنوي په خدمت کښې حاضر شو او درخواست ئې ورته وکړو چې مونږ ټول په دې جهاد کښې تاسو سره هر قسم ملګرتیاته تیاریُو اوخپل ځانونه پېش کوو۔ سلطان محمودغزنوي په دې ایماني جذبه ښکاره کولو د قطب شاه نه ډېر خوشحاله شو او قطب شاه ته هرکلے ووې او دعا ئې ورته وکړه



چې لوے خداے دې په خپل امان کښې وساته تا خو د اهل مدینه یاد تازه کړو ځنګه چې اهل مدینه د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم سره امداد او تعاون کړے وۀ او هغوي ته ئې د انصارو خطاب ورکړے وۀ دغه شان تاسو هم زما د امداد د پاره سر په تلي کښې اېښودے حاضر شوے نو په دې ایماني جذبه ښودلو تاسو ته زۀ د "اعوان" خطاب درکوم۔

په عربۍ کښې اعوان مددګار ته وائي او قطب شاه ته د دغه خطاب ورکولو نه پس د هغهٔ د اولاد نه چې کوم قوم جوړ شو هغه په اعوان یا اواڼ شهرت وموندلو او دغه خطاب د دغه قوم وجه تسمیه وګرځېدله۔

هرکله چې قطب شاه د سلطان محمود غزنوي ملګرے او ملا تړ جوړ شو نو د خپل قوم یو لوے لښکر سره ئې په پنجاب حمله وکړه او د پنجاب راجګانو ته ئې زبردسته ماتې ورکړه او اخر دا چې د پنجاب اخري سرحد کالاباغ ته ورسېدو او د دهنکوټ راجه کلک سره ئې جنګ وکړو راجه کلک او د هغهٔ قوم ئې مسلمان کړۀ۔

نن سبا د راجه کلک اولاد په کلیار، کلو باندې یادېږي۔ د دې نه پس ئې د پکهړ علاقه فتح کړه او دغه شان د پوټهوهار راجه پرتهوي ته ئې هم ماتې ورکړه هغه ئې مسلمان کړو راجه پرتهوي د چوهان قوم سره تعلق لرلو هغهٔ خپله لورقطب شاه ته وادهٔ کړه دهغې نه چې کوم اولادوشونودموره په نسبت سره چوهان او دپلار په نسبت سره اعوان وګرځېدهٔ۔ قطب شاه خپلې مړانې او کارنامې ښودلې په مخکښې روان وۀ چې د سون سیکسر علاقه ئې د راجه هارو نه ازاده کړه او دغه خلک ئې مسلمانان کړل۔ څهٔ موده ئې په انګاه کښې استوګنه وکړه دوه کاله پس ئې په لاهور حمله وکړه او کامیابي ئې حاصله کړه بیا واپس انګاه ته راغلو دا د ضلع خوشاب یوه قصبه ده۔ دلته څهٔ موده وسېدو زامنو ته ئې خپلې خپلې علاقې حواله کړې۔ دوه

زامنو سره غزني ته لاړو هلته د یو کال استوګنې نه پس د رمضان المبارک
۴۳۱ھ بمطابق ۲۴ ستمبر ۱۰۳۹ء د جمعې په شپه وفات شو۔

## اولاد:

قطب شاه چې کله د هند راجګانو ته ماتې ورکړه او هغه ئې مسلمانان کړل نو هغوي خپلې لوڼه قطب شاه ته په نکاح کړې د قطب شاه درې ښځې وے د هغوي اسلامي نومونه دا رنګې وو:

بي بي زېنب، بي بي خدیجه، بي بي کلثوم

وړومبنۍ ټبر بي بي زېنب نه ئې یوه لور بي بي رقیه او درې زامن مزمل علي کلګان، میر جهان شاه درّیتیم او زمان علي

مزمل علي کلګان د ټولو مشر وۀ۔ عالم، تقویٰ دار، سیاسي مشر او نور د ډېرو خوبو مالک وۀ دې او د دۀ اولاد د دریائے سندھ په غاړه د کالاباغ په علاقه اباد شول۔ د کالاباغ اعوانان یا اوانان د دۀ اولاد دے۔ زمان علي د راجپوت خاندان په کهوکهر شاخ کښې وادۀ کړے وۀ، د دۀ اولاد ته کهوکهر یا کهترو اعوان هم وئیلے شي حالانکې کهوکهر د راجپوت څانګه دہ۔

د دوېمې بي بي، بي بي خدیجې یوه لور بي بي فاطمه او درې زامن محمدعلي چوهان، فتح علي کلدان، نجف علي وو۔ د دې بي بي د راجپوت چوهان څانګې سره د تعلق لرلو په وجه د دې اولاد ته چوهان اعوان وئیلے شي حالانکې چوهان د راجپوت څانګه دہ۔

د درېمې بي بي، بي بي کلثوم هم یوه لور بي بي هاجره وه او څلور ئې زامن وو هغه دا رنګه نومونه لري۔ عبدالله، نادرعلي محمدعثمان، بهادرعلي محمد طلحه، کرم علي محمد روف۔ دا بي بي کلثوم د چهترې راجپوت راجه لور وه۔



## د استوګنې ځاے:

لکه څنګه چې مخکښې وئیلې شوي دي چې قطب شاه خپلو زامنو ته مختلفې علاقې حواله کړې او هلته ئې اولاد استوګنه کوي۔ د شپږو زامنو د استوګنې او ملکیتي علاقو نومونه په دا شکل دي:

مشر زوے مزمل علي کلګان په دهنکوټ کالاباغ کښې مېشته شول او دغه علاقه ئې په حصه کښې ورسېده۔ د میرجهان شاه درېتم په حصه کښې نیلاب د محمدعلي چوهان په حصه کښې قلعه رهتاس (جهلم) د عبدالله ګولړه په حصه کښې سون سکیسر د بهادرعلي محمدطلحه په حصه کښې تله ګنګ او د زمان علي په حصه کښې سرګودها ورسېده۔

اعوان یا اوان قوم اټک (کېمبل پور) ډویژن کښې په ګڼ تعداد کښې وسېږي۔ د دامن اباسین مصنف سکندرخان په صفحه۹۹ د اټک فېستیول ۱۹۸۹ء صفحه ۲۵ په حواله د ضلع اټک ابادي د ۱۹۹۸۱ء د مردم شمارۍ مطابق اتۀ لاکھ اتیا زره څلور سوه ووۀ نوي(۸،۸،۴۹۷) لیکې د دې مردم شمارۍ مطابق ضلع اټک کښې دوه قومونه اعوان او پښتانۀ په ګڼ شمېر کښې وسېږي۔ په دې کښې داعوان قوم ابادي یو لاکھ دوه اتیا زره نهۀ سوه څلیریشت ده (۱،۸۲۹۲۴) او د پښتنو شمېر یو لاکھ او پنځوس زره یونیم سل (۱،۵۷۱۵۰) ده۔ اعوان د ټولې ابادۍ شل فیصد دي او پښتانۀ د ټولې ابادۍ اتلس فیصده جوړېږي او په تله ګنګ کښې خو ئې دومره شمېر دے چې د اکثریت په وجه ورته شېخ ابوالفضل په ائین اکبري کښې اعوان محل وئیلے دے او چې هرکله ابادي نوره هم زیاته شوه نو په اعوان کاري باندې مشهور شو۔

دتله ګنګ وجه تسمیه دابیانېږي چې د قطب شاه زوے بهادر علي محمد طلحه چې د درېمې بي بي کلثوم زوے وۀ، د دۀ زېږون هم په دې ځاے کښې شوے وۀ او د دۀ د نوم محمد طلحه په نسبت سره د طلحه ګنګ په

نوم یاد شو وروستو دا نوم تله ګنګ شو ولې چې "ط" او "ت" یو شان وئیلے شي. په دوېم نمبر د هزارې ضلع د اعوان قوم د استوګنې ځاے دے، درېم پېښور، کوهاټ، ډېره اسماعیل خان او خواوشا علاقو کښې، څلورم شاه پور، خوشاب، پن ځم جهلم، شپږم راولپنډۍ او په اووم نمبر میانوالي کښې اعوان (اوان) قوم اباد دے. د دې نه علاوه سیالکوټ، ګجرات، ازاد کشمیر وغېره عرض دا چې دا قوم د پاکستان په ګټ ګټ کښې اباد دے.

## ژبه:

ظاهره خبره ده چې د دې قوم ژبه به دحضرت علي(رض) د اولاد د نسبت په وجه عربي وي خو دوخت دبدلون او دمختلفوملکونواو علاقو نه د هجرت په وجه دې قوم دهغه ځاے ژبه اختیارکړه داعوان (اوان) قوم د استوګنې ځایونه بیان کړې شو او دا هم ووئیلے شو چې دا قوم زیات تر د پنجاب په علاقه اباد دے. ددې قوم مورث اعلی قطب شاه اودهغهٔ زامنودهندوستان د حملې په وخت د پنجاب راجګانو ته ماتې ورکړه دغه راجګان هندوان وو مسلمانان ئې کړل په دغه هندي النسل راجګانو کښې ئې ودونه وکړل د هغوي نه ئې اولادپېداشواولوے قوم ترې جوړ شو نو په دې مناسبت سره ئې هندي ژبه خپله کړه اوورسره ګاونډي قبیلوهم دغه هندي ژبه خپله کړه اونن سبادغه ژبه په هندکو بللے شي او څوک چې دا ژبه وائي هغوي ته هندکي وئیلے شي حالاتکې هندکیان ځان ته قوم نهٔ دے. د دې باره کښې د "هندکي او هندکو" کتاب لیکونکے محترم خواجه محمد سائل په صفحه ۷۳ لیکي:

هندګو یا هندکو په معنا د هندوستاني ژبو ویونکے دے او هغه کسان چې د هند په ژبه لکه پنجابي، لاتړا، هندي، مرهټي، بنګالي، ګجراتي وغېره به ئې خبرې کولې پښتنو دغه خلک هندګو یا هندکو یعنې د هند په ژبه خبرې کوونکي بلل.



هندکو ژبې ته لاتړا هم وئیلے شي او په دې باره کښې محترم خواجه محمدسائل د "هندکو او هندکي" په صفحه ۸۴ د یو انګرېز ژبپوهان محقق ګریرسن په حواله لیکي:

لاتړا اکثر خلک پنجابي وائي او سرکاري خلک ئې مغربي پنجابي ګني دا د ښهٔ پنجابي لهجه نهٔ ده بلکې دغه نه جدا او مختلفه ده. دا په صوبه سرحد کښې په مختلفو نومونو لکه هندکي، هندکو او ډېره والي مشهوره ده. بل ځاے په صفحه ۸۳ لیکي:

هندکي یا هندکو د هندوانو ژبه ده چې د لاتړا علاقې (جهلم) نه پورته په مغرب کښې د لاتړا نوم دے. د دې کتاب په صفحه۸۹ لیکي:

اعوان د ضلع اټک جنوباً خوارهٔ پراتهٔ دي د دوي ژبه اعوان کاري ده. د دریائے سندهـ نه پورته په کوهاټ کښې دا ژبه هندوان او اعوان وائي چې د پښتنو په مېنځ کښې اوسي. دلته لاتړا په مختلفو نومونو یادېږي لکه اعوانکي، اعوان کاري، هندکي، هندکو د دې نه معلومه شوه چې د اعوان (اوان) قوم ژبه هندکو ده او کوم اعوان قوم چې دلته د مردان په خواوشا کلو کښې وسېږي هغوي سوچه پښتو وائي او د هغوي دا فرق ختم شوے چې دوي اعوانان دي او کهٔ پښتانهٔ بلکې د پښتو ژبې، تهذیب او ثقافت د پرمختګ د پاره په هلو ځلو کښې خو د هرچا نه وړاندې دي او دغه وجه ده چې نن د مردان په سیمه د مردان خوږ ژبې زلمے شاعر، د درنو اخلاقو خاوند په پښتو ژبه او د پښتنو په ننګ ناموس ورک مئین د پښتو ژبې د میاشتنۍ رسالې ننګ ناموس مدیر اعلی د پښتو ادبي ټولنې روح روان نهار اعوان، اعوان کم او پښتون زیات دے.

## روزګار:

دا ډېر بهادر، محنتي او تعلیم یافته قوم دے کهٔ یو طرف ته په دوي کښې ډېر د اوچتې پایې تعلیم یافته، عالمان، وکیلان، ډاکټران هم

شته او په حکومت کښې په لويو او اعلی عهدو افسران هم شته نو بل
طرف ته د تجارت، زراعت په مېدان کښې او دغه شان د ژوند په هره
شعبه کښې دوي امتيازي حېثيت او مقام لري.

## عالمان او مشائخ:

بزرگي او علميت خو د دوي په ختېه کښې اخلے شوے دے او
داسې به ولې نه وي ځکه چې د حضرت علي (رض) اولاد دے. حضرت
علي (رض) خو د علم دروازه وه او د تصوف سلسله هم لري او په دې
نسبت خو په دې قوم کښې ډېر عالمان، اولياء کرام، مشائخ عظام وو او
شته هم. د الاعوان ماهنامه لاهور ماه اپرېل مئي ۱۹۸۵ء په صفحه ۶۶
ليکي ترجمه ئې داسې ده:

د خواجه عبدالرحمان چهوهري (رض) په شان د اوچتې پايې
صوفي، عالم حضرت پير عبدالله (رح) شاه دمړي والي سرکار ميرپور ازاد
کشمير، مولانا يارمحمد هنديالوي، مولانا عبدالقادر رايې پوري په شان
قطب الارشاد مولانا غلام الله خان غوندې ستر عالم د حضرت مولانا الله
يارخان چکم اله د سلسله نقشبنديه اوېسه لوے بزرگ، پير صاحب دېول
شريف، حضرت خواجه قمرالدين سيالوي داټول بزرگان، اولياء کرام
مشائخ عظام او عالمان د اعوان سره تعلق لري او دغه شان نور هم په ګڼ
شمېر کښې الله واله خلک په دې قوم کښې شته.

مياوکيل شاه فقيرخېل

(په شکريه د مياشتنۍ پلوشه کراچۍ جنوري ۲۰۰۱ء)



## کتابونه

1. تاريخ الاعوان د شېر محمد خان کالاباغ ميانوالي
2. دامن اباسين د سکندرخان ۱۹۹۳ء ملي کتب خانه ويسه (ضلع اټک)
3. فاطمين مصر (تاريخ) حصه اول و دوم تاليف ډاکټر زاهد علي، نفيس اکېډمي کراچي
4. المرتضٰی کرم الله وجهه مولانا سيد ابوالحسن ندوي مجلس نشريات اسلام کراچي نمبر ۸
5. چوده ستارے الحاج مولانا سيد نجم الحسن کراروي حق برادر نيو انارکلي لاهور
6. تاريخ عرب، علامه سيد سلېمان ندوي نفيس اکېډمي کراچي
7. تاريخ اسلام حصه اول شاه معين الدين احمد ندوي مکتبه رحمانيه اردو بازار لاهور
8. تحقيق سيد و سادات محمود احمد عباسي مکتبه محمود لياقت اباد کراچي
9. تاريخ فرشته جلد اول محمد قاسم فرشته شېخ غلام اينډ سنز لاهور
10. فرهنګ فارسي مولانا محمد رفيع صاحب فاضل ديوبند منشي کامل دارلاشاعت اردو بازار کراچي
11. القاموس الجديد عربي اردو لغت مولانا وحيدالزمان قاسمي اداره اسلاميات لاهور
12. "هندکي او هندکو" ليکونکے خواجه محمد سائل بهادر کلے پېښور

## رسالې

1. الاعوان ماهنامه لاهور ماه اپرېل مئي ۱۹۸۵ء
2. اعوان ماهنامه اسلام اباد نومبر ۱۹۹۴ء
3. اعوان ماهنامه اسلام اباد اکتوبر ۱۹۹۵ء
4. اعوان ماهنامه اسلام اباد جنوري ۱۹۹۶ء
5. اعوان ماهنامه اسلام اباد جولائي ۱۹۹۶ء
6. اعوان ماهنامه اسلام اباد نومبر ۱۹۹۶ و دسمبر ۱۹۹۶ء
7. اعوان ماهنامه اسلام اباد مئي ۱۹۹۷ء

## د علوي اعوان مختصره پېژند ګلو:

حضرت علي کرم الله وجهه(رض) د حضرت بي بي فاطمه (رض) د وفات کېدو نه پس لس (۱۰) ودونه کړي وو. د لونړو نه علاوه ئې پنځه زامن وو، چې په کښې حضرت حسن(رض)، حضرت حسېن(رض)، محمد الاکبر (رض)، حضرت عباس علمدار(رض) او حضرت عمرالاطراف(رض) د اولاد نسلونه راروان دي او تراوسه پورې موجود دي. په دې کښې سېدان په تمامو ملکونو کښې موجود دي او د حضرت عباس علمدار په عربو ملکونو کښې موجود دي. د حضرت عمرالاطراف او محمد اکبر(رض) اولاد د عربو نه علاوه په برصغیر پاک وهند کښې موجود دي.

د اعوان معنی ده مددګار، دا خطاب سلطان سبکتګین او د هغه نه پس د هغه زوي سلطان محمود غزنوي څلورمه صدی هجري کښې دا خطاب د حضرت محمد الاکبر(رض) محمدحنیفه بن حضرت علي(رض) د پُشت نه ابوعلي عطاالله او د هغوي د زوي سالار ساهو او سالار قطب حېدرشاه (غازي ملک) ته ورکړے وه ځکه چې دې خاندان د غزنوي حکومت په هندوستان د حملو په وختونو کښې ډېره لویه مرسته او قرباني کړې وه. د اعوان لفظ د قطب حېدرشاه د اولاده پورې محسوس وه. وروستو بیا د عمرالاطراف(رض) او نورو علوي قومونو اعوان خان ته منسوب کول او خان ته به ئې اعوان وئیل. په ملتان، سندھ او بلوچستان کښې د عمرالاطراف اولاد ډېر زیات دے. د قطب حېدر قطب شاهي اعوانانو باندې مشهور دي.

په برصغیر او هند کښې علوي اعوان په هر ځاے کښې موجود ي چې کوم ځاے کښې سېدان وي نو هلته به خامخا اعوانان موجود وي. په مختلفو روایاتو کښې دي چې اعوانان شپږ سوه یا ووه سوه ګوندونه دي. اوسه پورې شپږ سوه دوه دېرش ګوندونه د محبت حسېن اعوان په



کتاب اعوان او اعوان ګوتین کښې چاپ شوي دي. تاریخ اعوان علوي دبرصغیر پاک و هند او خصوصاً هندوستان، پاکستان، کشمیر، پښتونخوا، پنجاب او د نورو علاقو سره په ډېر شمېر کښې موجود دي چې د نورو قومونو نه زیاته حصه لري دا قطب شاهي اعوان چې آباو اجداد محمدالاکبر(رض) بن علي(رض) د دوي د اولاد تفصیل په ډېرو مستندو کتابونو کښې موجود دے چې د اعوان قوم د تاریخ نچوړ دے.

## د اعوان وجه تسمیه:

اګرچې تزک تېموري (ترجمه سیدابوالهاشم) په لنبکر شاه اعوان مخزن افغاني لیکونکي خواجه نعمت الله هروي د ملک فېروز اعوان ذکر د درې اعوان محلو تله ګنګ، دهن کوټ او رشیان کړے دے. په نورو معتبر تاریخونو کښې ذکر نشته او نۀ پکښې وضاحت شوے دے چې علویانو من حېث القبیله لفظ اعوان د نسب د وئیلو د پاره کله اختیار کړے دے. په نولسمه صدی عیسوي په وړومبو یا اتلسمه صدی عیسوي په اخره کښې دعلویانو د سالار قطب حېدرشاه اولادونه ووچې دنسب په توګه په پاکستان اوهندکښې دعلوي په ځاے اعوان لیکل شورو کړي وو. د اعوان وجه تسمیه پنجاب کاستس لیکونکي سرډینزچارلس جېف ابېټن ۱۸۸۳ء کښې لیکي چې دا قطب شاه دغزنوي داولاد نه وۀ چې دحضرت علي(رض) غېر فاطمي اولاد وۀ. د دوي بزرګان ۱۰۳۵ په هرات کښې مېشته وو د دې نه پس دا خلک د هرات نه پېښورته راغلل دپېښورنه ګېرچاپېره اوبیاڅۀ خلک د پنجاب په علاقو خوارۀ شو او مستقبل یعنې پاښۀ اباد شو. کرنل مېسي خو د کالاباغ نواب خاندان سره ملک اعوان لیکلے دے خو د اعوان وجه تسمیه ئې نۀ ده بیان کړې. دغې نه پس تاریخونه لیکل او مرتب شول په دغه کتابونو کښې وړومبے کتاب د اعوان تاریخ کتاب ترتیب شو.

او بیا دوہم کتاب تاریخ حیدري په نوم مولوي حیدرعلي لدهیانوي لیکلے وۀ. اعوان او وجه تسمیه په باره کښې لیکلے وۀ د دې نه پس لفظ اعوان عام فهم شو یعنې استعمال ئې زیات شو. سلطان محمود غزنوي سره علویان راغلي وو، جهادونه ئې ورسره وکړل، سلطان ډیرې پیرې په هند حملې کړې وے. په دې کښې اوولس حملې مشهورې وې چې په دې ټولو حملو کښې علویان د سلطان سره شریک وو. سلطان د دوي ډیر شکر ګزار شو. څنګه چې د مدینې انصارو د رسول الله سره ملګري شوي وو او انصار خطاب ئې ورکړے وۀ داسې دې حضرات زما کومک وکړو دوي زما د زړۀ او ځان مرسته وکړه زۀ دوي ته د اعوان خطاب ورکوم. دې نه پس لفظ اعوان عام شو او علویانو ته اعوان لیکل. تاریخ علوي نه پس مولوي نورالدین بن حاجي نورمحمد مسکن کفري وادي سون سکېسر هم باب الاعوان و زاد الاعوان دوه کتابونه ۱۹۰۵- ۱۹۱۱ کښې چاپ کړل. مولوي نورالدین د لفظ اعوان وجه تسمیه داسې بیانوي چې جد اعلی په نوم اعوان مشهور شو. دۀ باب الاعوان زاد الاعوان شجره نسب د محمدالاکبر(رض) په ځاے د حضرت عباس ابن علي(رض) سره ملاؤ کړې ده. د دۀ دا تاریخ تاریخ دانانو ردکړے دے ځکه چې حضرت عباس(رض) په کربلا کښې شهید شوے وۀ او د علویانو یا اعوان چې مخکښې د ډیرو تاریخونو په حواله چې د دوي پلاران او نیکونه د محمدالاکبر(رض) نه حسب نسب راروان دے.

## تاریخ، تاریخچه قوم اعوان یا آوان

تاریخچه قوم آوان په شپږو صفحو یو اخبار نما غونډې کتابچه ده پروفیسر انور بیګ اعوان چیرمین مرکزي مطالعه تاریخ اثارشناسي و علم الاقوام بهون ضلع چکوال نه چاپ شوې ده. د تاریخچه اوان مفهوم دا دے چې اعوان اوان د دنیا د پخواني قومونو نه یو قوم دے. د دۀ اصل د



ایلام یا عیلام دے چې نن سبا خوزستان هم ورته وئیلے شي. دا صوبه د ایران په جنوب او مغربي علاقې باندې اباده ده آهواز د دې صدر مقام دے ابادان او خرم شهر د دې مشهورې بندرګانې دي. آوان یا وان نسبي لحاظ سره د حضرت نوح(ع) نمسے دے. د دۀ د پلار نوم یافث وۀ او یافث د مشهور طوفان نوح نه پس پیدا شوے وۀ. نیوز ایریډیا په رو سره د علاقې عیلام کوهستان زګروس او خلیج فارس په مینځ کښې یو ځاے دے. د پخواني تاریخ د عیلام څلور مشهور ځایونو نوم اوان، انشان، سیماش او سوس په نوم یادیدۀ د مخکښې زمانې تاریخ عیلام ثقافتي امور په وجه موجوده عراق سره یو ځاے وو د انشان خاندان یو ډیر اهم سردار چې نوم ئې نجامن وۀ او د دې خاندان خاتمه سکندر مقدوني په لاسو ۳۳۰ق م کښې شوې وه. پارتهن پهلوي یا اشکاني هم د اوان دعوه کوله او سیرپابکان ساساني چې هم اوان وۀ د پارتهیا د سلطنت تخته اُلټه کړه او شیرپابیکان ساساني اوان د کابل بلخ ګندهارا باندې قبضه وکړه. د ټیکسلا سره نزدې چیټه توپ دهرم رانیکا کاسټوپا سره نزدې یو کلے شاه پور اوسه پورې د دغې ساساني اوان بادشاه یو یادګار دے او خان دراصل د اوان قبیلې نوم دے دې مخکښې لیکي چې د اوان قوم کوټلے تاریخ په وجه د دې نۀ دے لیکلے چې دا د شجرو خوانو او قومي روایاتو په مرسته لیکلي شي او دې سره اختلاف هم د خلکو راپیدا کیږي. دې وائي چې ما د شل پنځلس کالو کښې خپل دا تحقیقي مقاله ولیکله چې دا د تاریخ دانانو په معیار پوره ورسي د دې ښاغلي د دې مقالې د لوستلو نه صفا پته لګي چې دې ښاغلي مخکښې تاریخونه هډو کتلي نۀ دي. د ټولو تاریخي لیکلو یوه معنی ده چې اعوان د حضرت علي(رض) د اولاد نه څرګند دے هغه کۀ علویان دي یا اعوان یا اعوانان دي. په دغه مقاله کښې چې کوم بحث شوے دے هغه چرته هم په نورو تاریخونو

کښې نشته. دا د دروغژنو يوه افسانه کېدے شي خو تاريخي مقاله نۀ شي کېدے. حضرت محمد(ص) او حضرت علي(رض) څوک هم د يافث د زوي د اولاد نه نشته او نۀ د اوان د نسل نه دا نسل اعوان دے دې صاحب د اعوانانو شجره نسب د علي(رض) په ځاے بلاش بن فيروز بن يزوجر بن بهرام بن يزوجرد اثم بن بهرام بن شاه پور بن زوالاکتاف اردشيربن هرمزد بن نرمس وغېره وغېره سره شجره نسب ملاو کړے دے يا د بدھ مت مشهور معروف پېروکار راسکاتهين بادشاه کشک سره شجره نسب د ملاوېدو خپله هڅه کړې ده.

## د ضياء الانصار ليک عبدالرحمٰن شاد

د ضياء الانصار دوه سوه ووۀ اتيا مخونه کتاب ليکونه د قبله انصار برصغير ته راتگ او په تله گنگ کښې د نورو اباد شوے قبيلې د تاريخونو د ليکونکي عبدالرحمٰن شاد به دوه زره شپږ کښې په لاهور کښې چاپ شوے کتاب صفحه نمبر ۱۱۶ باندې ليکلے دے چې اعوان قبيله د وادي سون سکېسر نه راغلي وه او په لاوه کښې اباده شوې وه. په کتاب صفحه نمبر ۱۲۱ نه صفحه ۱۲۳ پورې ليکلے شوے. د علاقه د نهار(چکوال) قطب شاه سره دخپلو زامنو په دې علاقه مېشته شو. دا وخت د محمود غزنوي دور وۀ. دې وائي چې دلته مزمل علي کلګان او دعبدالله ګولړه اولاداباد دے. دې وائي چې د علويانو يو بزرګ عطاالله د امير سبکتګين په فوځ کښې سپه سالار وۀ. د دې نه علاوه زاهد او عابداوپرهېزګارهم وۀ. الله تعالی دۀ ته درې زامن ورکړي وو. ميرساهو، ميرقطب حېدراوميرسېف الدين. ميرساهو دغزنوي دفوځ سرلښکر وۀ او د دۀ ښځه بي بي ستّرمعلی د سلطان محمود غزنوي خور وه. سلطان محمودميرقطب حېدر ته د اعوان خطاب ورکړے وۀ. د سلطان سره ئې په ډېرو ځايونو جهادونه کړي وو او د ډېرې ښې کارکردګۍ په وجه ورته



سلطان د اعوان خطاب ورکړے وۀ. په خصوصي توګه د سومنات په معرکه باندې د کوهستان د مالګې غرونو سره مېشته اعوانان خپل ځانونه د بادشاهو اولادونه ګڼي. دغه وجه ده چې دوي د خپلې نامې سره ملک يا بادشاه هم ليکي. په صفحه ۱۲۵ باندې ليکي چې کهوکهر د مسلمانانو سخت خلاف وو. ډهلي اعوان چې د بابا قطب شاه د اولاد نه وو. د دوي بيا د کهوکهرو سره د ګنډه په ځاے ډېر لوے جنګ هم شوے وۀ او بيا دلته ډهلي بابا يو نوے کلے اباد کړۀ. دې وائي چې د قطب شاه نهۀ بچي وو او تله ګنګ د دۀ د زوي بهار علي محمد طلحه په نوم باندې اباد شوے دے يعنې طلحه ګنګ.

دامعلومه شوه چې دکهوکهرقوم سره دعلوي قوم يا اعوان قوم هېڅ تعلق نشته سېوا د دې نه چې دا کافر وو او بيا مسلمانان شوي دي. دوي به بيا هم د چا قوم کښې پناه اخلي دلته داسې قومونه شته چې قوم ورته معلوم نۀ وي نو يا د يوسفزيو قام خپل کړي او يا اعوان.

## د تاريخ علوي اعوان سره زياتې

تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني ليک د خواجه نعمت الله هروي ۱۰۲۱ هـ اردو ترجمه ډاکټر محمد بشير حسېن مطبوعه اردو سائنس بورډ ۲۹۹ مال روډ لاهور مطبوعه۱۹۷۶ء د سن ۱۴۱۷هـ کښې چې سلطان محمدغازي چې په سومنات باندې کله حمله وکړه نو هغۀ د پښتنو دولس سرداران راغوښتي وو دوي نه ئې مدد اخستو په دې کښې ملک سلمان لودهي، ملک خانون، ملک داود، ملک احمد، ملک يحیٰ، ملک محمود، ملک غازي، ملک مامون، ملک کمال، ملک بهرام، ملک ساهو او نور کسان ملګري وو. بادشاه د دغې ټولو سردارانو ډېر عزت او شاباسې وکړۀ، دوي له ئې انعامونه ورکړۀ. دې سردارانو په مختلفو يعنې په هرقسمه جنګي کمالاتو قدرت لرۀ.

کاله د سومنات نه چاپېره جهادونه کول دې سردارانو د بادشاه سره درې کړۀ اوراجه رائے یشیلم ته ئې او د دوي په وجه بادشاه سومنات ټوټې ټوټې کړۀ اوراجه رائے یشیلم ته ئې ماتې ورکړه. په دې ټولو معرکو کښې دې سردارانو د طاقت ګوهر وشیندل او بیا غزنې ته واپس لاړل. دوي له بادشاه بیا انعامونه عزتونه ورکړل او په ډېره مینه ئې رخصت کړل. بادشاه ووې چې دې سردارانو د شریعت محمدي (ص) په عام کولو کښې ډېر خدمتونه کړي دي.

په دې دولسو سردارانو کښې د ملک ساهو یا ملک شاهو او ملک غازي تعلق د علوي اعوان خاندان سره تعلق لرو خو نعمت الله هروي دغه سرداران هم په پښتنو کښې شامل کړي دي. سره د دې نه چې تاریخ خان جهاني و مخزن افغاني لیکونکے خواجه نعمت الله هروي د جانب دارۍ نه کار اخستے دے خو بیا هم نعمت الله هروي په اعوان قبیلې دا احسان دے چې په نومونو کښې ئې غلط بیاني نۀ ده کړې. د ملک ساهو ملک غازي مخکښې بیان کښې راغي خو د خان جهاني و مخزن افغاني په دغه کتاب کښې (صفحه۱۲۳) غزنوي خاندان یوسل نهۀ کاله حکومت کولو نه پس ختم شۀ او حکومت د غوري خاندان په لاس راغے. سلطان شهاب الدین غوري چې په سلطان معزالدین باندې مشهور وۀ نو دوي اراده وکړه چې مونږ په خپل طاقت په هندوستان برے ومومو نو په دغه غرض ئې د پښتنو سردارانو په مرسته هندوستان باندې بریالي شو، په واپسۍ باندې په خپله سلطان شهاب الدین حکم وکړۀ چې افغان قبیلې دې په دې ځاے کښې ابادې کړئ. کوهستان دره، کوه سلېمان، اشنغر، باجوړ خواوشا د کابل نه واخلې دریائے نیلاب یعنې د اټک په شمالي علاقو د قندهار نه چاپېره د ملتان په سرحدي علاقو سره نزدې او ملک معزالدین غوري له شل زره کسان د دې کار د پاره ورکړي چې دغه قبیلې د ګوهستان غور نه د غرونو علاقو سره نزدې ابادې کړي او انتظامات ئې



وکړي. روه د دغه د تسلسل یوه کړۍ ده چې په اوږدوالي ئې د باجوړ نه واخله تر د بهکر سره نزدې یو کلے دے چې نوم ئې سېون دے، ته رسېدلے دے او ورو کوالے ئې حسن ابدال نه شورو کېږي چې د کابل نه قندهار پورې خور وور دے. کوه سلېمان، کوه اشنغر د غرونو په مېنځ کښې دے په دغه علاقو کښې وروميې ښار دغه خلکو اباد کړے دے.

هغه اشنغر دے سلطان معزالدین د پښتنو د دغه ابادۍ نه پس حکم وکړۀ چې دغه خدمت مو وکړۀ کاردارو ووئیل چې او ډېر خوشحاله شو سلطان به ورځ په ورځ مضبوطېدۀ، تر دې چې په هندوستان هم غالب راغلل. په درېمه پېره چې کله سلطان شهاب الدین غوري په دهلي حمله وکړه نو هغه د پښتنو ډلو قبیلې په مدد د غزنوي خاندان اخري سلطان خسرو ملک له ماتې ورکړې. تاریخ خان جهاني و مخزن افغاني لیکونکے خواجه نعمت الله هروي په دې موقع هم دملک شاهو یا ملک ساهو سردار نوم رقم کړے دے او د دغه خاندان بیان ئې په ډېر دلیل سره کړے دے. یقیناً داعلوي اعوان خاندان دے. د ساهو علوي تذکرې د محمود غزونوي په زمانه کښې هم ملاوېږي او د غوري په زمانه کښې هم ډېر په دلیل سره ښکاره دي. کېدے شي چې ملک شاهو پښتنو تاریخ دانو د ملک ساهو نه ملک شاهو جوړ کړے وي. په لیک د نعمت الله هروي چې ملک محمودلودهي په دُرانیانو کښې شمېر دے هر څۀ چې وي دا ټول تاریخونه دروغژن کېدے نۀ شي داپه حق کښې داعوانانودعلویانوپه تاریخ محمود غزنوي دور یعنې زمانه کښې د ملک ساهو او ملک غازي نومونه د سردارۍ په نومونو کښې ډېرښکاره دي او دا حقیقت دے چې ملک ساهو ملک غازي د محمود غزنوي په زمانه کښې د هغوي د فوځ سر لښکران وو. دغه ملک ساهو مشهور معروف بزرګ سالار مسعود غازي چې په بهرائم بهرائم هندوستان کښې مدفون دے پلار وۀ په ټولو پښتنو

تاريخونو کښې ملاوېږي خو دملک ساهواوملک غازي يعني قطب حېدر اولاد باندې د پښتنو تاريخ ولې غلے پاتې شوے دے. ملک ساهو ملک غازي دوه سکه ورونه وو د دوي تعلق د اعوان ياعلوي خاندان سره دے د پښتنو تاريخ دانو ډېر د تعصب نه کار اخستے دے چې د دغه سردارانو تاريخ ئې په خپلو کتابونو کښې شامل کړے نۀ دے. په خبره د نعمت الله هروي چې د کابل نه واخله تر د دريائے نيلاب يعني اټک نه تر شمائيلو علاقو پورې او د قندهار نه تر ملتانه پورې ابادي علاقې د پښتنو سره تعلق لري. خه رښتيا دي. کۀ داسې وي نو دا گز او دا مېدان رښتيا خبره خو دا ده چې په دغه ذکر شوو علاقو اوس هم چې څوک جائزه واخلي نو پته به ورته ولگي چې دغلته پښتانۀ دي او کۀ اعوان په ډېر شمېر سره موجود دي، چې د دغو دروغو يو ښکاره ثبوت دے او داسې کېدے نۀ شي چې افغان اعوان شي او خپلې شجرې د اعوانانو په نوم بدلې کړي. په دغه غريزې علاقو کښې څوک اباد دي افغان کۀ اعوان ټولو خلکو ته پته ده چې دا قوم اعوان دے دوي خپل تاريخ داسې بيانوي کوم چې افغان تاريخ دانان. نن چې کوم تاريخ مرتب کېږي په هغې د اعوانانو تاريخ د نشت برابر دے ولې دا تعصب نۀ دے نور څۀ دي ولې دنيا ته پته نشته چې ضلع مانسهره، ايبټ اباد، هري پور، کوهستان، مردان، پېښور، نوښار، صوابي، سوات، بنو، کوهاټ يعني داسې علاقې دي څوک وښائي چې اعوان په ډېر شمېر سره موجود نۀ دي اخر څۀ وجه ده چې دومره لوے قوم ئې د تاريخ نه جدا کړے دے. چرته ورته هندکيان وائي چرته ورته پنجابيان وائي هېچا هم د يو قوم په حېث سم قبول کړے نۀ دے حالانکې هندکو ژبه د پښتو ژبه ده هندکو قوم نۀ دے او کۀ دے د هندکو څۀ تاريخ دے د هغې لبو لباب څۀ دے، څوک دې د زړۀ خبره ښکاره کړي. کۀ نه د پېښور ښار کښې يو لويه درنه ابادي د اعوانانو ده چې دغه تاريخ بالکل



مسخ شوے دے چې چرته هم پښتو وئيلے کېږي هلته اعوان د نورو قومونو نه زيات په دليل سره ثابتوم بلکې په خبر پښتونخوا کښې اعوانان پښتو ويونکي ليکونکي په سلو کښې پنځوس فيصده دي مونږ د پښتنو کلتور تهذيب د دې خاورې مزاج رسم و رواج خپل کړي دي. زمونږ د پښتنو ورونو سره رشتې مرگ ژوند ننگ ناموس لکه د يو وجود درد او خوشحالي محسوسوو بيا هم مونږ د پښتنو سره پښتانۀ يو. زمونږ د پښتنو د اکثرو پارټو مشران اعوانان دي زمونږ ادبي صحافتي ډلو کښې د پښتنو سره په خدماتو کښې پوره پوره حصه ده. چرته کۀ خداے مۀ کړه د پښتو ژبې ننگ ناموس يا ټولې پښتونخوا ته څۀ قسمه چا د نقصان رسولو هڅه وکړه نو د پښتنو د نورو قومونو سره به اعوان اوږه په اوږه ولاړ نه بلکې د خپلو سرونو نه هم شاته نۀ شي.

## قېس عبدالرشيد

### په وېنا د پښتنو د تاريخ ليکونکي شجره نسب

قېس عبدالرشيد پښتون سره ملاوېږي چې کوم د رسول (ص) الله د زمانې نه مسلمان شوے وۀ. دغه د پښتنو تاريخ دے چې د سېدانو نسبتي تعلق دحضرت علي(رض) د زامنو حضرت امام حسن(ص)، حضرت امام حسېن(رض) او د هغوي د اولاد نه راروان دے. په پښتنو کښې چې کوم قوم سيّد، بادشا، باچه باندې يادېږي. ولې دغه سېدان د علي(ص) د اولاد کښې نۀ دي. او کۀ نۀ دي د پښتونخوا دغه دغه سېدان چې په زرگونو لکونو اباد دي دا د کوم ځاے نه راغلۀ. د افغانستان اباد سېدان چې پښتو وائي د پښتونخوا دغه سېدان چې پښتو وائي د دوي تاريخ څۀ شۀ. د دې سېدانو اهل و عيال نۀ وو، د دوي تاريخ څۀ دے، د دوي تاريخ څۀ شۀ. معلومه شوه چې د پښتنو سېدانو اکثر خلک اعوانان دي، علوي

دي، په ژبه، رسم و رواج، کلتورسره قوم نۀ شي بللے۔ زما یقین دے چې پښتونخوا او افغانستان کښې د علوي اعوانو او سېدانو شمېر د نورو قامونو نه هم زیات دي خو تاریخ ئې ورله ورک کړے دے او اعوان ئې څۀ په ډېر لږ شمېر حساب کړي دي۔ څوک دې دا ووائي چې ملک حضرخان څوک وۀ۔ پښتون وۀ، سید وۀ، کۀ سید وۀ نو بې شکه د علي (رض) د اولاد نه به وۀ۔ غورغښتي په پښتنو کښې مشهور دي۔ دا د پښتنو قبیلې توري، برني، کورني، اسحاق سېد زاده، سنجر شراني د اولادو نه وو هغه دې فېصله وکړي دې چې دوي د علي (رض) اولاد نۀ دے او کۀ چرې د علي د اولاد نه نۀ وي نو دا سېدان هم نۀ دي نو بیا د قېس عبدالرشید پښتانۀ اولاد هم نشته عقل والا دے د عقل نه کار واخلي۔

اعوان دصدونه داچغې وهي چې مونږدعلي (رض) اولادیود محمداکبر د اولاد نه یو مونږه سېدانو سره د نګرانۍ په توګه یو چې چرته سېدانو کډې کړې دي هلته اعوان موجود دي هغوي ورسره هم کډې کړې دي۔

تاریخ خورشید جهان لیکونکے وائي سردارشېرمحمد خان ګنډاپور چې د سېدانو نهۀ قومونه دي دغه نهۀ قومونه په پښتنو کښې یو شوي دي دوي یو بل سره په خاندانونو کښې رشتې یعنې ودونه هم کړي دي۔ د دوي اولاد په پښتنو کښې تربیت کړے دے۔ دوي د پښتنو رسم و رواج ناسته پاسته او زمیداري د پښتنو سره شریکه ده او دوي خپل ځان ته سېدان وئیل مناسب ونۀ ګڼل۔ رسول (ص) هم وئیلي وو چې ماما د پلار برابر وي دغه شان اعوانانو هم خپل ځان د خپلو ماماګانو په نسب سره نیولے دے۔ دا قسم قبیلې د حضرت علي(رض) د اولاد سره نسبت لري څنګه چې پښتنو قبیلو د پښتنو سره نسبت کړے دے خو حسب نسب په خپل ځاے قایم دے۔

| سید قوم | پښتون قوم |
| --- | --- |



| | |
| --- | --- |
| بختیار | شیراني |
| سوریاني | شیراني |
| سمن | شیراني |
| مشواني | کاکړ وهني |
| وردګ | راني |
| خوندي | دادي |
| سیدزئي | ترین |
| غرشین | میانه |
| کوئي | تیني |

دامعلومه شوه چې داقومونه یاسېدان دي یااعوانان دي او اولاد علي سره تعلق لري سردارشېرمحمدخان خو دسېدانو کورنۍ په پښتنو کښې د یو کولو بحث کړے دے خوپه لکونواعوانانوچې د سره پښتنو سره ئې ناسته پاسته رسم و رواج د یو بل رشتې بلکې په شناختي کارډ کښې د قوم په خانه کښې د اعوان قوم په ځاے قوم افغان لیکل یو ډېره لویه خبره ده۔ ځنې لیکونکو اعوانانو خو به تراوسه اعوان د خپل نوم سره نۀ شو لیکلے۔

ځنولیکونکو خو لفظ اعوان د دشمنۍ په نوم نیولے دے حالاتکې داسې نۀ ده۔ حسب نسب په خپل ځاے مونږ د پښتو سره مینه د نورو خلکو نه د لېونتوب د حده پورې ساتو غواړو کۀ چرې هم د نورو ژبو او پښتو په مېنځ کښې څۀ خبره راغله مونږ اعوانان به د پښتو نه خپل سرونه هم منے نۀ کړو خو خپل پلار خپل پلار وي څنګه ترې مخ واړوو کۀ داسې نۀ وي نو لوستونکي دے په خپله فېصله وکړي او زۀ بیا هم وایمه چې د اعوانو سره ډېر لوے ظلم شوے دے چا چې د تاریخ نه مخ اړولے دے دروغ دروغ وي رښتیا رښتیا ولې دا دروغ به تاریخدان څنګه پټ کړي شي۔ لیکونکي دې حق ولیکي۔ سبا به خداے ته هم جوابده وي اوس خو

پښتونخوا کښې نه بلکې په ټول پاکستان اعوانۍ چې له خېبره په لروبر ... اعوانۍ چې له خېره په لروبر پښتونخوا کښې نه بلکې په ټول پاکستان کښې د نورو قومونو نه په څو چنده سېوا دي او هغه پښتانهٔ اعوانان په پښتنو کښې بې شمېره دي پښتو وائي، پښتو لیکي او پښتو کوي او پښتو سره مینه کوي۔

د تاریخ خان جهاني او مخزن افغاني اردو ترجمه ډاکټر محمد بشیر اردو سائنس بورډ لاهور ۱۹۸۶ء په صفحه ۱۷۰ کښې لیکي چې کله محمودخان لودهي په حق ورسېدهٔ د کالي علاقه او د هغه ځاے حکومت د دهٔ د زوي جلال خان ته وبخښله جلال خان او د هغهٔ د وروریانو په خپل مېنځ کښې جګړه وه نو هغوي د روغې د پاره د سلطان په خدمت کښې دا غرض مخې ته کړو سلطان فېروز اعوانۍ ولېږلو چې جلال خان بهیکن خان او احمدخان دربار ته راوله۔ هم دې خان جهاني و مخزن افغاني په صفحه ۱۹۸ باندې لیکلي دي چې ګوالیار قلعه د قبضه کولو د پاره سلطان ابراهیم بهکین خان لودهي، جلال خان لودهي، سلمان فرسي، بهادرخان نوحاني، اسماعیل او ملک فېروزخان اعوان، بهادرخان سردائي، حضر خان لودهي، حضر خان توراني او خان جهان لودهي غوندې تکړه امیران لښکر جوړ کړو او د اعظم همایون امداد ئې وکړو او دوي سره ئې هاتیان هم ولېږل۔ ګوالیار باندې فتح وموندہ او بهر د غوا مجسمه یعنې بت چې په قلعه اوېزان وهٔ مات کړو، دې بت ته به هندوانو سجده کوله۔ دا بت ئې ډهلي ته راوړهٔ او د دهلي دروازې مخې ته ئې کښېښودو او په ۹۹۹هجري کال کښې ئې ویلے کړو او د هغې نه ئې د توپو سامان جوړ کړهٔ۔

په ژبه لیک د نعمت الله هروي چې تراوسه پورې په سرکاري اسلحه خانه کښې موجود دے۔ د ملک فېروزخان اعوان د سلطان ابراهیم لودهي په دربار کښې ډېر لوے اهمیت لرو۔ دې یو لوے سپه سالار وهٔ په



هر سخت وخت کښې به د سلطان سره وهٔ او سلطان به د دهٔ نه مشورې اخستې۔ زهٔ حېران یم چې نعمت الله هروي د تاریخ د پاڼو نه ولې ایستلے دے۔ اخر څهٔ وجه ده او بیا هم د ملک فېروزخان اعوان نوم ئې د پښتنو د اوچتو کارنامو په پښتنو سره نیولي دي او هغه ئې د علوي اعوانۍ د تاریخ پېژندګلو نه لر کړے دے۔

۹۲۳ء کښې د ملک فېروزخان د سلطان ابراهیم لودهي په دربار کښې د علوي اعوان یو لوے سردار وهٔ د دهٔ تاریخ په نورو تاریخونو کښې موجود دے خو د پښتنو په تاریخ کښې نشته په بعضې تاریخونو کښې د نوم مسخ کولوتابیا کړې۔ ده ملک فېروزخان
اوغان او دا قبیله ئې هم د پښتنو په ډلو کښې حساب کړې ده۔

په تاریخ فرشته محمدقاسم فرشته ترجمه عبدالحئي خواجه مرتب کړے۔ شېخ غلام علي لاهور د دوېم جلد په صفحه ۵۴۵ کښې لیکلي دي چې د جلال خان د دواړو وروڼو بهکین خان او حاجي خان په مېنځ کښې څهٔ معرکه وه بادشاه د کالي حکمراني د جلال خان نه واخسته او فېروزخان اوغان له ئې ورکړه او د دغې ښار حکمران شو اوغان نوم د یوې قبیلې دے چې د افغان سره یو شان یو والې راخي حیات لودهي مشهور په شوکت افغاني وهٔ۔ د دهٔ ترتیب کړے کتاب عبدالحکیم لودهي هم د بعضې لیکونکو په حواله لیکلي دي چې د دهٔ په خیال لفظ افغان، اغوان او الغان دا لفظونه په یو بل سره وران کړے شوي دي ځکه چې بعضې افغانان شروان کښې مېشته وو چې د الیان په نوم یادېدهٔ او خپل سردار ته به ئې اغوانج اغوینج ووئیلو۔ دا خلک هم د اغوان نه اغواني دعوٰی کوي۔ دا خلک عیسایان وو۔ افغان د یوناني لفظ دے د تاریخ افغان لیکونکے وائي چې دا الیاني دے شاهان ایران ته چې به کله هم څهٔ ضرر ورسېدهٔ نو هغهٔ به البانیانو ته په صحرا اسود او بحرهند ته وطن بدر

کول دا جلا وطن خلک اغوان یا اوغان دي خو ماسس یوجن بودي د دې خبرې رد کړې دے او لیکي چې افغان البانی نۀ دي داډېرپخوانے قوم دے. لیکونکے محمد عبدالحکیم خان لودهي ګمان دے چې دا افاغنه قوم په اصل کښې ایراني دے د دوي قومي ژبه فارسي وه دوي د فارس سره تعلق لري. د افغانانو یا د پښتنو ټول تاریخونه چې وګورې نو په دې کښې یوه ډله هم د پښتنو سره د اوغانو په نوم تعلق نۀ لري او د دې اوغانو په نوم د ډلې رد کوي اردو سائنس بورډ لاهور چاچې د خان جهاني و مخزن افغاني ترجمه کړې ده د خط کتابت په ذریعه د لفظ اعوان په باره کښې تپوس وکړو نو هغوي په دې حواله د چیټۍ نمبر۱.۳.۵ تاریخ ۱۶اګست په ځواب کښې لیکلي دي چې تاریخ خان جهانه ومخزن افغاني لفظ اعوان د استعمالولو چې کوم تپوس کړے دے، ټیک دے د دغې صفحې نه علاوه د دغې کتاب صفحه نمبر ۱۷۰ باندې هم دا نوم لیکلے شوے دے، بعضې فېروزخان اعوان په کالونو کالو په وړاندې هم د ډهاکې نه چاپ شوي کتابونه چې وګورې نو په هغې کښې هم د فېروزخان اعوان لیکلي دي بیا هم لفظ اعوان د قصد د اوغان په ځاے لیکل د دغې لیکونکي یو ډېر لوے جرم دے.

د پښتونخوا ډېر تاریخونه په یو لار تلي دي ولې د پښتونخوا په ټولو تاریخونو کښې د اعوانانو ځاے نشته دوي ته ځۀ خندان وو. د دوي مقصد ځۀ وۀ د پښتونخوا ټول اعوانان چې په لکونو دي یو ځان له غوربدلے تاریخ دے.

د هرقسمه تاریخ افغان یا پښتون د هغې پورې مکمل نۀ دے ترڅو چې په هغې کښې تاریخ اعوان یو ځاے نۀ کړے شي. دا قسمه لیکل ما د ښاغلي محبت حسېن د کتاب نه راواخستل هغه وائي چې ما خپل کتاب "تاریخ علوی اعوان تاریخ کے آئینے میں" ښاغلي نقاد تاریخ دان و سکالر



پرېشان خټک ته وړاندې کړو هغه ډېر زیات خفه شو. هغه په هغه وخت ډېر زیات بیمار وۀ. ووئیل کۀ ماله وخت مهلت راکړو نو زۀ به ډېر څۀ په پښتنو اعوانانو باندې ولیکم او ستاسو دا ټولې خبرې ټول تاریخونه په حقه دي. واقعي پښتنو لیکونکو نه ډېرې لویې غلطۍ شوي چې اوس ئې ازاله کول ډېر ګران کار دے.

## ملک:

چې کله محمود غزنوي په سومنات حمله کوله نو دولس پښتانۀ ملکانان ئې راغوښتلي وو. په دغه ملکانانو کښې لودهي ملک او علوي اعوان ملکانان ملک ساهو ملک غازي او نور ملکانان هم شامل وو یعنې د اعوانانو ملکانان زیات دي په حواله کتاب خان جهانه مخزن صفحه۳۲۶ کتاب لیکونکے خواجه نعمت الله هروي خو عجیبه خبره ده چې د دغه ملکانانو تاریخ ئې ولې ورک کړے او یا ئې دا زیاتے کړے دے چې دغه ملکانان ئې په پښتون قوم کښې شامل کړي دي، په دې وجه چې د اعوانانو تاریخ مسخ کړے شي ملکانان کۀ د پنجاب دي کۀ د پښتونخوا ارومرو د نوم سره ملک لیکي څنګه چې مېجر طلامحمد په خپله سفرنامه کښې لیکي، اعوان قوم د خپلو نومونو سره ملک لیکي او دا خطاب محمودغزنوي هم ورکړے دے. اعوانانو له ملک او پښتنو له خان. اعوانان دپښتنونه ځاربړي اوپه خپله پښتوژبه فخرکوي خو دوي چې کوم سبدان چې دنوم سره باچه ګان، صاحبزادګان لیکلے دے دا دعلي (رض) اولاد نۀ دے. په دې کښې ډېر د علي(رض) اولاد غېر فاطمي(رض) اولاد دے. یعنې علوي اعوان دے هغه ئې قبول کړي دي دې کومو اعوانانو چې پښتو ژبه رسم و رواج کلتور او د شناختي کارډ په ځاے د افغان نوم راوستل لیکلي دي هغه ئې قبول کړے نۀ دے. وخت په خپله هم تاریخ څرګندوي زۀ پخپله د جمالګړهۍ د ملکانانو پلو ته د ملک

وئيله هغه وائي چې ... راته خپله شجرنامه ووئيله هغه وائي چې فياض احمد سره ملاؤ شوم هغه ... راته خپله شجرنامه ووئيله هغه وائي چې فياض احمد سره ملاؤ شوم هغه کښې د هدايت شاه په باره مونږ هم اعوانان يو دغه شان په کس کورونو کښې د هدايت شاه په باره کښې چې دسېدانو کورنۍ سره ئې تعلق لرو چې ما معلومات وکړۀ نو هغه سېدان نۀ وو بلکې اعوانان وو. دغه شان د دوران اباد په باره کښې مې معلومات وکړۀ دا دنوښار قلعه سره نزدې اعوان ان دي او د هلته نه مردان کښې مېشته شوي دي، کۀ زۀ دغه شان معلومات کوم نو په هغې به ډېر وخت ولګي خو دا خبره رښتيا ده چې اعوانانو سره ډېر زياتے شوے دے. بې شکه چې مونږ پښتانۀ اعوانان يُو خو پردي پلار ته خو پلار نۀ شو وئيلے. ما ته يو ادبي ملګري ووې سوچه پښتون شه ما ورته ووې زۀ اول پښتون اعوان يم خو پلار خو نۀ شم بدلولے او چې څوک پردي پلار ته پلار وائي هغۀ ته خلک څۀ وائي؟ څني خلک چې مال ورسره راشي نو خپل قام بدلوي يا ترې خپل قام ورک شي نو يا يوسفزے شي او يا اعوان.

## زما سفر نامه:

مېجر طلاخان سدوزئي جهانګيرپوره پېښور په کتاب زما سفرنامه "ميرا سفرنامه" کښې مېجر طلاخان سدوزئي چې په ۱۹۳۲ء چاپ شوے وۀ، په صفحه (٦٧) کښې ليکي چې اعوان (ترکي نسل دے) د محمود غزنوي سره هندوستان ته راغلي وو. د محمود غزنوي مدد کومک ئې وکړو او د محمود غزنوي سره په ټولو حملو کښې شريک وو صرف اعوان قوم د خپلو نومونو سره ملک ليکي باقي يو قوم هم د ملک نوم د قوم سره نۀ ليکي انګرېزانو د اعوانانو نه بدله اخستله نو مختلف نومونه ئې ورته ورکړي دي کتاب ليکونکے ليکي په صفحه ۳۱۹ چې اعوانان برما، بهوټان، راسکماري، مدراس، بنګال، ګجرات، نيپال، رام پور او جے پور کښې اباد شوي اعوانان سره ملاو شوے وم. زۀ دارجالنګ نه واپس ښکته راتلم نو ما سره اعوانان ملاو شوي وو. ما ترېنه پوښتنه وکړه د قوم په باره



کښې بيا مې ورته ووې چې تاسو په بنګالۍ او کورکهئي کښې خبرې ولې کوئ. دوي اعوانانو ووئيل زمونږ مشران د پخوا نه د صدو په صدو دلته اباد شوي دي د بهوټان د اعوانانو نه مې تپوس وکړو چې تاسو په پنجابۍ او يا په پښتو کښې خبرې ولې نۀ کوئ هغوي هم ووئيل زمونږ مشران په سوونو کالو وړاندې راغلي دي مونږ نه څکه خپلې ژبې هېرې شوي دي. ليکونکے وائي چې اعوانان په چين کښې او په اوچتو عهدو باندې مامور دي. د ښاغلي طلا خان سفرنامه د قدر وړ ده.

## د حضرت علي(رض) بن ابوطالب د اولاد شجره نسب:

حضرت علي(رض) دبي بي فاطمې ابۍ(رض) لورد حضرت محمد(ص) د وفات کېدو نه پس په مختلفو وختونو کښې نورو بيبيانو سره ودونه کړي وو. د بعضې مورخينو اختلاف دے خو بيا هم د معتبرو تاريخونو نه دا ثابت دي چې د حضرت علي(رض) اتلس زامن وو

د بي بي فاطمه (رض) نه حضرت حسن (رض) حضرت حسېن (رض) حضرت محسن (رض) ــ د بي بي خوله (رض) نه حضرت محمد الاکبر (رض) او د نورو بيبيانو نه جعفر الاکبر(رض) عباس علمدار جعفرالاصغر عبدالله الاصغر عثمان عبېدالله ابوبکر محمد او سط يحٰی محمدالاصغر عون عمرالاطراف عمرالاکبر عبدالله اکبر

د حضرت علي(رض) د پنځو بچو اولاد نه نسلونه راروان دي حضرت امام حسن(رض) حضرت امام حسېن(رض) محمدالاکبر(رض) محمدحنفيه عباس علمدار عمرالاطراف د حضرت امام حسن(رض) او امام حسېن اولاد د فاطمي سيد په نوم مشهور دي چې د عربو ملکونو نه علاوه په پاکستان هندوستان بنګله دېش او ګېرچاپېره هېوادونو کښې اباد شوي دي. (محمدالاکبر(رض) محمد حنفيه) د دوي اولاد د علوي يا اعوان په نوم مشهور شوي دي. د عربو ملکونو نه علاوه پاکستان

هندوستان بنګله دېش افغانستان او ګېر چاپېر په هېوادونو کښې مېشته دي. په دې قطب شاهي اعوان د محمود غزنوي سره د مخکښې هند ته راغلي وو چې د قطب حېدر شاه په نوم مشهور دي. عباس علمدار(رض) چې په کربلا کښې شهید شوے وۀ. د دۀ یو زوے عبېدالله نه نسلونه چې په عربو کښې هم د علوي په نوم یادېږي او په هند و پاک کښې ئې اولاد نشته. د عمرالاطراف اولاد د علوي یا عمري په نوم مشهور دي. د عربو ملکونو نه علاوه پاک و هند کښې اباد دي. خصوصاً ملتان او سندھ کښې اکثر دعلویان په کورنۍ مشهورې دي.

## محمدالاکبر(رض) زوے د حضرت علي(رض):

د دۀ نوم محمد(رض) او ابو قاسم هم یادېدۀ د تاریخ کتابونه لیکي چې دې په پنځو نومونو مشهور وۀ. محمد(رض) ابن علي(رض)، محمدالاکبر(رض)، محمدحنفیه، امام حنیف او محمد حنیف تاریخ وائي چې محمدالاکبر(رض) حضرت محمد(ص) د امیرالمؤمنین حضرت علي(رض) د یو زوي د پاره مخصوص کړے وۀ. د محمد الاکبر(رض) پېدائش علامه ابن کثیر په خپل کتاب ابن کثیر کښې د دۀ پېدائش سن ۱۵ هجري لیکلے ده د رحمت المؤمنین لیکونکے محمدسلمان منصور پوري د دۀ پېدائش سن ۲۱ هجري لیکلے دے. دې نیو انسائیکلو پېډیا آف برټانیکا په حصه هشتم ۱۵ ایډیشن کښې د دۀ پېدائش ٦٣٧ هجري ښودلے دے. ابن قتیبه په خپل کتاب کښې د دۀ عمر پنځۀ شپېتۀ کاله او وفات ۸۱ یعنې کال ۱٦ هجري د تاریخ ډېر روایاتو نه ثابت دي چې د محمدالاکبر(رض)۱٦ هجري کال صحي تاریخ دے. شجره نسب محمد ابن علي(رض) چې مشهور په محمدالاکبر(رض) زوے د حضرت علي(رض) زوے د ابوطالب زوے د عبدالمطلب زوے د هاشم زوے د عبدالمناف زوے د قصٰی زوے د کلاب زوے د مره زوے د کعب زوے د



غالب زوے د مالک زوے د نفر زوے د کنانه زوے د خزېمه زوے د مدرکه زوے د الیاس زوے د مفر زوے د نذارمعد زوے د عدنان.

## حضرت محمد حنیفه(رض) په باره کښې بشارت:

صحیح بخاري جلد دوم ص ۱۱۹ په حاشیه باندې لیکلے شوے حدیث شریف د صحیحېن نه علاوه په نورو کتابونو کښې روایات دي چې د حضور علیه السلام د زمانې مبارکې خاص مقتفي دې چې سنن ابي داؤد کښې د حضرت علي(رض) نه ذکر شوے حدیث شریف دے چې ما حضرت محمد علیه السلام ته عرض وکړو چې یا رسول الله تۀ ګورې چې تاسو نه پس زما په کور کښې هلک پېدا شي نو زۀ ورله ستاسو نوم مبارک کېښېښودلے شم حضور(ص) وفرمائیل چې آو ـــ اعلحضرت مولانا احمدرضاخان صاحب قادري برکاتي برېلوي (رح) په کتاب الامن والعلے لناعي المصطفی ۱۱۸ کښې لیکلي دي حدیث نمبر ۳۲ طبقات ابن مصعد بن منتذر ثوري نه روایات کوي امیرالمؤمنین(رض)، حضرت طلحه(رض) په خپلو کښې خبرې کولې چې تا د خپل زوي محمد بن حنفیه ابوالقاسم په نوم کېښېښودے دے او کُنیت هم د حضور(ص) په نوم سره حالانکې حضور(ص) اکثر په دې سلسله کښې منع کړے وۀ داسې نه.

حضرت علي د قرېشو یو جومات راوغوښتو چې د دوي ګواهي وکړي چې حضور(ص) امیرالمؤمنین ته ارشاد فرمائیلو چې زما د دنیا نه د تلو نه پس به تاسو کره یو هلک پېدا کېږي چې ما خپل نوم او کُنیت دواړه هغۀ ته عطاء کړي دي.

## سیّد

دلفظ سیّدلغوي معنٰی ده (المنجد) سرداري کوونکے، سرداري کوونکي ته سیّدوئیلے شي او د دې جمع ته سادات "سېدان" وئیلي شي

سيد منتخب الغات شاجهاني کښې دي چې سيّد پېشوا ، بوډا
سړي ته هم وائي کريم الغات ص ۹۵ کښې دي چې سيد سردار بزرګ ته هم
وئيلے شي سيد رئيس ته هم وئيلے شي. فېروزالغات اردو کښې ص ۵۹ بان
دې په دوېمه حصه سيد امام ته پېشوا ، سردار وئيلے شي.

بيان اللسان ۲۵۱ص کښې دي چې سيد سردار سړي ته عقل مند ته
رحمدل ته وئيلے شي. بيان اللسان ص ۳۱۷ کښې دي سادات يعنې سېدان
شريف خلکو ته وئيلي شي. حضرت امام حسن(رض) نه روايت دے
حضور(ص) فرمائيلي وو چې زۀ د تمام جهانونو او د اهل جهان سردار يم،
ستر يم، حليته الاولياء يعنې زۀ د تمام اولاد ادم (ع) سردار يم يعنې الله
تعالى زۀ د تمام جهان اولاد سردار سيد کړے يم، حضرت علي(رض)
فرمائي چې حضور (ص) د عربو سردار دے، سيّد دے.

حضرت ابوبکر سيّد دے، ترمذي د انس بن مالک نه او د ابن ماجه نه
حضرت علي(رض) روايت دے چې ابوبکر(رض) و عمر(رض) د نبيانو او
پېغمبرانو نه علاوه د وروستو ډېرو عمر والو جنتيانو سرداران دي.

مولوي محمد وارث علي مصاحب به کتاب شمس التواريخ جلد سوم
جزو دوم ص ۷۴۴ کښې ليکلي دي چې حضور(ص) يوه ورځ په ممبر ناست
وۀ او وې فرمائيل چې په دې خلکو څۀ شوي دي ښۀ وائي چې د رسول الله
قربت نزديکيت د رسول سره تعلق چاته هېڅ نفع نقصان نۀ شي ورکولے دا
خيال د دوي باطل دے. زما رشته اوتعلق به په دنيا کښې تر قيامته پورې
قايم وي او په ورځ د اخرت به هم نفع ورکوونکے يم. زۀ به د هغه خلکو
څوک چې ماسره محبت کوي. زۀ هغه خلک نه هېر وم او حوض کوثر کښې
به د ډولو نه مخکښې د خپلو محبت کونکو تعلق دارو انتظار کوم.

حضرت فاطمه(رض) سيده وه. په صحيح بخاري جلد دوېم باب مناقبت
قربت رسول الله ص ۱۸۵ فاطمه د جنتي ښځو سرداره ده.



د حضرت عائشه صديقه(رض) نه روايت دے چې حضور(ص)
حضرت فاطمه(رض) ته وفرمائيل چې تۀ په دې رضا نۀ يې چې تۀ د
مومنانو ښځو د جنت سرداره يې.

دحضرت ابوبکر(رض) نه روايت دے چې حضور په ممبر باندې
ناست وۀ چې وۀ ئې کتل نو حضرت حسن(رض) بن علي(رض) خوا کښې
ناست وۀ چې خلکو ته توجه ئې وګرځوله او بيا ئې وفرمائيل (صحيح
بخاري جلد دوېم ص ۷۱) چې زما زوے سيد دے سردار دے او د دۀ په
وجه به الله تعالى د مسلمانانو د دوو ډلو روغوالے راولي.

حضرت ابوسعيدخدري(رض) روايت کوي چې حضور(ص)
وفرمائيل(د ترمذي حديث شريف دے) چې حضرت حسن(رض) او
حضرت حسېن(رض) به د جنتي ځوانانو سرداران وي.

په سودت القرب کښې د حضرت سلمان فارسي(رض) نه روايت
دے چې حضور(ص) به د حضرت حسېن(رض) ماتهے او خلۀ ښکلوله او
ورته به ئې وفرمائيل تۀ سيد يې او د سيد زوے يې.

حضرت امير کبير سيدعلي همداني کتاب سودت القربیٰ کښې ليکلي
دي د حضرت سلمان فارسي نه روايت دے چې زۀ د حضور(ص) په خدمت
کښې حاضر شوم. ګورم چې حضرت امام حسېن(رض) د حضور(ص) سره
نزدې ناست وۀ کله ئې سترګې کله ئې خلۀ مبارکه ښکلوله او فرمائيل به
ئې تۀ سيّد يې او د سيد زوے يې. تۀ امام يې او تۀ د امام زوے يې.

حليته الاولياء يعنې د امام حسن(رض) نه روايت دے چې
حضور(ص) وفرمائيل چې سيدالعرب يعنې علي (رض) راولئ نو ام
المؤمنين عائشه صديقه(رض) وفرمائيل يا رسول الله تۀ سيدالعرب نۀ يې
نو وۀ ئې فرمائيل زۀ د تمامو اولاد آدم سردار يم. سيد يم او حضرت
علي(رض) د عربو سردار دے. سيد دے.

د حضرت حسن(رض) نه روایت دے یوه ورځ حضرت علي(رض) په مجلس نبوي(ص) کښې حاضر وۀ چې حضور(ص) انصار هم راوبلل چې هغوي هم حاضر شول نو وۀ ئې فرمائيل دا د عربو سردار دے. زما د دوستی په وجه دۀ ته دوست ووایئ. زما د عزت په وجه د دۀ عزت وکړئ. الله تعالی په تخصیص سره دا پیغام د جبرائیل په ذریعه ما ته راولېږلے دے چې ما تاسو ته بیان کړو (حلیقته الاولیاء، ۵)

## علوي یا سید:

هاشمي یا قرېشي، د بني هاشم نسباً قرېشي نوم دے بلکې د قرېشو یو شاخ دے چې په نورو قرېشي خاندانونو باندې ئې اوچت والے ثرګند دے. د حضرت سیدالکونېن حضرت محمد(ص) بن عبدالله بن عبدالمطلب او د حضرت علي(رض) د پېدائش مبارک قرېشي خاندان کښې شوے دے او د هاشم صرف یو زوے وۀ. عبدالمطلب بن هاشم نه نسل راروان دے. علوي د معتبر کتب تواریخ نه دا خبره ثابته شوې ده چې په څلورمه او پنځمه صدی پېړی هجري کال پورې اهل عرب یانوروقومونود نسب او قومیت د وېنا په توګه لفظ سید استعمال کړے نۀ دے یعنې اولاد علي (رض) د سید نوم استعمال کړے نۀ دے بلکې تمام اولاد علي (رض) کۀ هغه د بي بي فاطمې (رض) اولاد وۀ او یا د نورو بیبیانو اولاد حضرت امام حسن، حضرت امام حسېن اولاد دے او کۀ حضرت محمد الاکبر(رض) عباس علمدار یا عمر(رض) بن علي(رض) نه وو لفظ علوي به ئې د نوم سره شاملولو او نۀ په عربو کښې اوسه پورې دسېدانو کورنی. لفظ سید لیکي بلکې علوي لیکي. چې چرته هم سېدان وي هم هلته به د هغوي سپایان علوي به موجود وي، غېرفاطموي(رض) اولاد دفاطموي (رض) اولاد خدمتګاران دي. بعضوخلکو فاطمي اولادو سره خپلې سلسلې تړلې



دي او شجره نسب ئې بالکل ګډوډ کړے دے، چاچې دغه ادلون بدلون کړے د غه تفصیل په تاریخ علوي اعوان[1] کښې موجود دے.

دشیعه ګانو یوه فرقه کسیاتیه ده. دا فرقه مختارشقفي په نوم یادېږي دهغوي عقیده ده چې وړومبے امام علي (رض)، دوېم امام حسن(رض)، درېم امام حسېن(رض)، څلورم امام محمدالاکبر(رض) دے اووم امام د محمدالاکبر(رض) زوے ابن هاشم، اتم امام محمدالاکبرزوے علي(رض) نهم بل زوے حسن بن علي بن محمدالاکبر (رض) هغه زامن چې د امامت په درجه مقیم وو دهغوي ذکرکړے دے خو تفصیل ئې نشته. بعضې تاریخ دانانو بالکل د حقیقت نه سترګې پټې کړې دي چونکې په دغووختونوکښې هم لکه دنن اثررسوخ استعمال شوے دے، تاریخ ئې مسخ کړے دے. دمحمدبن عمر بن علي(رض) د اولاد په باره کښې مفصل حالات تاریخ کښې نۀ ملاوېږي. عباسي خلیفګانو خلافت حاصل کړے دے او چې د چا څۀ ډېرې چرچې وې یعنې چې څۀ ئې اخستل هغه ورته ملاو شو. هغه داچې ابي هاشم بن محمدالاکبر(رض) بن حضرت علي(رض) د وفات کېدو نه پس د امامت حق محمدبن عبدالله بن عباس (رض) په حق کښې وصیت لیکل خو دهغې باوجودهم عباسي خلیفه ګانودخپلو محسنانوسره دومره زیاتې وکړې چې دهغوي حسب نسب کښې ئې هم د وروکولو خپل پوره پوره کوششونه کړي دي دهغې په وجه دغه محسنان په هجرت مجبورکړے شو.

## جنګ صفېن او محمدالاکبر(رض):

دا جنګ د حضرت علي(رض) او حضرت امیرمعاویه (رض) په مېنځ کښې دصفېن په ځاے شوے وۀ ۳۷ھ کښې داجنګ ډېرې ورځې روان وۀ چې عمروبن العاص(رض) په مشوره سره حضرت امیرمعاویه (رض) فوځ قرآن

[1] تاریخ علوي اعوان، محبت حسېن اعوان

په نېزو اوچت کړو او د فېصلې د پاره اوازونه وکړل اخر دا چې دا جنګ ودرېدو. د طبقات ابن سعد روایت دے چې د حضرت علي(رض) پیاده فوځ مشري حضرت عمار یاسر کوله او د بېرغ فوځ سر لښکر محمد الاکبر په لاسو کښې وۀ. په دغه جنګ کښې محمد الاکبر بې مثاله کارنامې کړې وې. په دغه جنګونو کښې بیا بیا محمد الاکبر حصې اخستې او حضرت علي(رض) به حسنیان(رض) د خپل ځان سره کول چا د محمد الاکبر نه پوښتنه وکړه چې تا بار بار جنګ له د ځان سره حضرت علي(رض) بوځي او حنسیان(رض) په ارام ناست دي څۀ وجه ده نو محمد الاکبر(رض) ووئیل چې زما د پلار دا فېصله صحي ده ځکه چې زۀ د حضرت علي(رض) ښې لاس یم او حسنیان(رض) د حضرت علي(رض) سترګې دي نو ځکه حضرت علي خپل ښې لاس د خپلو سترګو په حفاظت کښې ساتي.

## محمد الاکبر او رومي پالوانان:

د امیر معاویه په دور کښې بادشاه روم دوه پهلوانان د حضرت امیر معاویه(رض) دربار ته ولېږل یو پهلوان ډېر دنګ وۀ او بل ډېر زورور. امیر معاویه د دوي په مقابله کښې د قېس بن سعد (رض) خوښ کړو او زورور پهلوان په مقابله کښې د محمد الاکبر خوښ کړو چې زورور پهلوان د محمد الاکبر(رض) په مقابله کښې راغے او ورته ئې ووې تۀ کښېنه ثاوچتوم پهلوان کښېناستۀ اوحضرت محمد الاکبر(رض) اوچت کړوبیاپهلوان ووې محمد الاکبر(رض) ته اوس تۀ کښېنه تااوچتوم پورته کوم خو پهلوان محمد الاکبر(رض) اوچت نۀ کړے شۀ او دغه شان د محمد الاکبر(رض) نوم د پهلوانئ په مېدان تر لرې لرې لاړو.

محمد الاکبر(رض) د خپل پلار حضرت علي(رض) سره په ډېرو جنګونو کښې شامل شوے دے. د جنګونو بیانول ځان له یو کتاب چاپول پکار دي خو زۀ په دغه تفصیل پسې نۀ ځم په دغه جنګونو کښې یو



جنګ، جنګ صفېن هم وۀ. دا جنګ د حضرت امیر معاویه(رض) او حضرت علي(رض) ترمېنځ شوے دے. د صفېن په ځاے ۳۷ ھ کال شوے وۀ چې څو ورځې روان وۀ. اخر داسې وشو چې عمروبن العاص(رض) په مشوره سره د امیر معاویه قرآن په نېزو اوچت کړو او وې وئیل چې په قرآن به فېصله کوو. دا اواز راپورته شو جنګ ودرېدۀ او د فېصلې د پاره وخت مقرر کړۀ. د حضرت علي(رض) د طرفه ابوموسیٰ(رض) اشعري او د امیر معاویه د طرفه عمروبن العاص(رض) وټاکلے شو. سن ۳۸ ھ کښې د فېصلې اعلان وشۀ او حضرت ابوموسیٰ(رض) اشعري حضرت علي(رض) د خلافت نه لرې کړو او حضرت عمرو بن العاص(رض) د حضرت موسیٰ(رض) اشعري مرسته وکړه چې د امیر معاویه د خلافت اعلان ئې وکړو. حضرت علي(رض) ونۀ منله. طبقات ابن سعد نه روایت دے چې د حضرت علي(رض) پیاده فوځ حضرت عمار بن یاسر په مشرئ کښې وۀ او د جګړې واکمن حضرت محمد الاکبر(رض) وۀ چې دومره بهادري وښودله چې مثال ئې نشته او کامیابي ئې بیا مونده.

## اولاد علي:

د حضرت علي(رض) د حضرت بي بي فاطمه(رض) ابئ نه درې زامن وو حضرت حسن(رض) حضرت حسېن(رض) حضرت محسن(رض) حضرت حسن(رض) په زهرو شهید شوے. وۀ حضرت حسېن(رض) په کربلا کښې شهید شوے وۀ. حضرت محسن(رض) په وړوکوالي کښې الله تعالی ته ګران شوے وۀ. د حضرت علي د بي بي فاطمې(رض) ابئ په ژوند کښې د نورو بیبیانو سره د ژوند ملګرے کړے نۀ وه. د دوي د حق رسېدو نه پس حضرت علي بي بي خوله په نکاح اخستې وه ځوک چې د محمد الاکبر(رض) یا امام حنیفه د مور بي بي په نوم یادېدۀ چاته چې حضرت علي(رض) د شهید کېدو نه مخکښې د ژوبل کېدو په وخت

حضرت حسن(رض) حضرت حسین(رض) او محمدالاکبر درېواړو ته د یو
بل د احترام د یو بل مرسته او خپلو کښې د مینې ترون تاکید کړے وۀ. د
دې نه علاوه د حضرت علي(رض) دوه زامن نور هم مشهور وو حضرت
عباس علمدار څوک چې په کربلا کښې شهید شوے او بل عمرالطراف.

## د محمدالاکبر ابو حنیفه دولس زامن وو:

(۱) حسن (۲) عبدالله (۳) ابوهاشم (۴) جعفرالاکبر (۵)حمزه (۶) علي
(۷) عون(۸) قاسم (۹) ابراهیم (۱۰) عمر (۱۱)عبدالرحمٰن

د حسن عبدالله ابوهاشم جعفرالاکبر حمزه او علي سکه وروڼه وو او د مور
بي بي نوم ام ولد وۀ. د عون د مور بي بي نوم ام جعفر دے د قاسم د مور
بي بي نوم نوفليه وۀ د ابراهیم د مور بي بي نوم نوفليه. وۀ قاسم او ابراهیم
سکه روريان وو دعمرد معتبرو د تاریخونو په حواله د دۀ تاریخ ورک دے.

د عبدالرحمٰن تاریخ ورک دے. په تاریخونو کښې د محمدالاکبر
زوے ښودلے شوے دے خو نور تفصیل ئې نشته اُموي خاندانونو
حکمراني کوله عباسیانو د علویانو په مرسته اموي حکمراني ختمه کړه
خو عباسیانو علویانو سره دښمني شورو کړه. د عباسیانو اخري بادشاه
معتصم باالله پورې علویانو خپله دښمني برقرار ساتله. تر دے چې
سېدانو او علویانو څوک چې په یو نوم سره یادېدۀ یعنې علویانو هرات ته
کډه وکړه په هرات کښې د دوي حکمراني وه چې سبکتګین سلطان سره
ملګري شول. د سلطان سبکتګین په مشرۍ کښې حکمراني کښې ډېر
ملکونه فتح کړل او دغه شان سلطان محمود غزنوي په اوولس حملو
کښې هم دغه علویان ملک ساهو، ملک شاهو او قطب حېدرغازي هم
شامل وو. په دغه زبردستو حملو کښې د سومنات فتح هم شامله وه.



د دې مړانو بهادرو په سبب سلطان محمود غزنوي دوي ته د
اعوان یعنې مددګار خطاب ورکړو او ملک مسعود غازي ته د سلطان
محمود غزنوي خور ستر معلی په نکاح ورکړې وه.

د علویانو دا قبیلې ورستو د اعوان په نوم هم مشهورې شوې دي
قطب حېدر شاه اولاد د افغانستان نه ګېر چاپېره خور وور شو خصوصاً
پېښور باندې خو اعوانانو حکمراني کړې ده. د خیبرپښتونخوا علاقه د
پښتنو اعوانانو نه ډکه ده. د قطب شاه بابا اولاد په پنجاب کښې ډېرې
حملې کړې دي. دغلته د هندوانو راجګانو بادشاهي وې چې فتح شوې د
قطب شاه بابا ډېرو زامنو په هندوانو د حملو نه پس د هغوي ښځو سره د
ایمان راوړلو پس رشتې هم کړې دي.

مثلاً وادي سون، کالاباغ، طلحه ګنګ، کوهستان، نمک د پنجاب اکثر
علاقواودخیبرپښتونخواټولې علاقې اعوانانوفتح کړې دي. د افغانستان
سره نزدې په سرحدونو اکثر اعوانان مېشته دي خو ځنې تاریخ دانانو د
پښتووئیلوپه بناتاریخ مسخ کړے اواعوانانوخپل قام ته کتلي نۀ دي ځکه
چې دغه فرق نۀ وۀ شوے دپښتو په رسم و رواج دود دستورکلتورمذهب د
یوپه وجه د اعوانانوپښتنوفرق نۀ دے ساتلے. په سرحدونودملکي نظام یا
د ملکي نوم د اعوانانو او خانانو د محمود غزنوي د دور نه راروان دے. د
اعوانانوپښتنوپخپلوکښې دمینې په وجه دتاریخ خیال نۀ دے ساتلے چې
ځنې تاریخ دانانو د خپل ذاتي مفاداتو د پاره تاریخ غلط استعمال کړے
دے. د افغانستان د سرحدونو څنګ په څنګ کۀ بلوچستان دے کۀ
پنجاب دے خیبرپښتونخوا ده چرته چې پښتانۀ دي هلته پښتانۀ اعوانان
هم دي. په پنجاب کښې پنجابي وئیلے کېږي په بلوچستان کښې خو پکار
وه چې بلوچي وئیله هلته هم چې چرته پښتانۀ دي هلته پښتانۀ اعوانان په

کثرت سره مېشته دي. فرق صرف دا دے چې په پښتونولۍ کښې د اعوان په ځاے اعوانان وئیلے کېږي.

د محمود غزنوي په پېښور برے موندو نه پس په پېښور حکمراني اعوانانو کړې ده. دپېښور نه د اټک پورې پښتانهٔ اعوانانو په هرې سیمه په ګڼ شمېر مېشته دي. اعوان قوم په کروړونو دي او داسې هم شوي دي اوکېږي د چا نه چې خپل قوم ورک شي نو یوسفزي شي او یااعوان دغه یوېېله خبره ده په اعوانانو کښې نهٔ خوچاقلم راخستے دے او نهٔ چا اواز پورته کړے دے چې زهٔ څوک یم چرته نه راغلے یم. د چا زوے یم اونهٔ ئې خپل قام ته کتلي دي خوخپلو مشرانو ورته وئیلي دي چې مونږاعوانان یوچاسره شجرې شته اواکثروسره شجرې نشته. اوس ورته ورو ورواحساس کېږي. راویښ شوي دي او څکه چې د پښتونخوا ټولو قومونو ته خپل حق په ایف سي او داسې نورو فورسس کښې نهٔ ملاوېږي اوپښتون اعوانانویه یا یوسفزي یا د ګجر یا د نورو قامونو په کار او روزګار پسې منډې وهي. په دې ملک کښې څوک هم چاله خپل حق نهٔ ورکوي. د دې دپاره دخپل قوم شناخت پېژندګلو ضروري ده.

د بې نومه مقبرې خاورې دې مهٔ خوره
ځان له نوم د تاریخ پاڼو کښې پېدا کـه

زمونږمشرانودحضرت علي(رض) نه تر قطب شاه بابا پورې بلکې د دې نه وروستو هم د اسلام د تاریخ په پاڼو کښې تاریخي قربانۍ ښکاره دي او په دغه سبب علویان اعوان اعوانان ژوندي دي خو چې اعوانان پخپله په خپل تاریخي اسلافو نظر نهٔ ساتي، د حقیقت نه سترګې پټې ساتي نو داسې قوم به هیچرې بریالے نهٔ شي.

## اولاد علي(رض) او معاویه(رض) ابي سفیان:

(۴۱ھ نه تر ٦١ ھ پورې) د حضرت علي(رض) او معاویه (رض) په



مېنځ کښې مخالفت بیان شوے دے. مختصرداچې حضرت علي(رض) د حضرت امیرمعاویه(رض) خلافت منلے نهٔ وهٔ. د دې په وجه جنګونه هم وشول او اسلامي مملکت په دوو حصو کښې تقسیم شو. د حضرت علي (رض) شهادت او د امام حسن(رض) د خلافت بېلېدلو نه پس خپل پوره حکومت امیرمعاویه(رض) جوړ کړو. د دهٔ په دغه دورکښې محمد الاکبر(رض) او د دهٔ اولاد سره دامیر معاویه ښهٔ سلوک کېدهٔ څهٔ داسې واقعه راغلې نهٔ وه چې پکښې اولاد علي(رض) ته نور څهٔ نقصان رسېدلے وي خو امام حسن(رض) حضرت امیرمعاویه ته په دې شرط حکومت پرېښودے وهٔ چې د امیرمعاویه(رض) نه پس به خلافت د حضرت حسېن(رض) وي خو هغهٔ ته ئې خلافت ورنهٔ کړواودکربلاپه ځاے سره دخاندانه او دملګرو سره شهید کړو، حالانکې د شهادت حسن(رض) او حسېن(رض) نه پس د اموي خلافت لاره نوره هم صفا وه خو د حضرت علي(رض) بل زوے محمد الاکبر(رض) بن حضرت علي(رض) د دوي د خلافت د پاره لویه خطره وه نو په دې خاندان باندې به ئې نظرساتلو. جنګ صفېن کښې محمدالاکبر (رض) دحضرت علي(رض) سره اوږه په اوږه ولاړوهٔ اود دهٔ د بهادرۍ سترګې دوي لیدلې وے. امیر معاویه(رض) او د دهٔ ملګرو ته دا هرڅهٔ یاد وو. حضرت عبدالله بن زبېر چې په حجاز کښې وهٔ په مکه او په حجاز قابض وهٔ د محمدالاکبر(رض) سره په جنګ کړو چې دې د خلافت د سوچ نه بهر وي خو د مختار ثقفي چاچې د حسېن(رض) او د هغهٔ د ملګرو د یو یو بدل چې په کومه بې دردۍ سره اخستې وهٔ په دې کښې د محمدالاکبر(رض) سره ډېر لوے عقیدت او د هغهٔ د مرستې لاس ضرور شامل وهٔ.

## په امت مسلمه کښې شیعان علي(رض): (په وړومبي خل جوړېدل)

د اسلام وړومبۍ فرقه شیعان علي(رض) جوړه شوه او دوېمه فرقه چې د علي په زندګۍ کښې د شیعان علي نه جدا شوې وه د هغې نوم دے

خوارج په دې نوم مشهوره شوې وه حالاتکې دا دواړه فرقې د سیاست
پېداوار دے دواړه د خلافت سره په اړ کښې راغلې وے خو په دې کښې د
خلافت یا امامت څۀ فقهي مسئلو باندې اختلاف وۀ۔ د دې په ضد کښې د
شیعه ګانو په سوونو فرقې پېدا شوې په دغه فرقو کښې یوه د کسیانیه یا
مختاریه په وجود کښې هم راغلې وه —— کسیانیه د مختارشقفي په نوم
جوړه شوې وه۔ د دوي عقیده ده چې د حضرت علي(رض) نه پس د دۀ
زوے محمدالاکبر(رض) چې د قبیلې حنیفه د یوې ښځې بي بي خوله نه
پېدا شوے دے چې په محمدالاکبر په نوم یادېږي۔ امام دے او اوسه پورې
ژوندے دے۔ دې کښې یوه بله ډله وائي چې د علي(رض) نه پس امام
حسن دے او بیا امام حسېن او په څلورم نمبر باندې محمدالاکبر(رض)
امام دے۔ یوه فرقه سحریه دا هم وائي چې محمدالاکبر(رض) غائب شوے
دے او دې د امام غائب په نوم یادوي یوه بله فرقه وائي چې د
محمدالاکبر(رض) وفات شوے دے د هغۀ زوے ابوهاشم ژوندے دے او
دوباره به ظاهرېږي فرقه حارثیه وائي ابوهاشم غائب دے دې به بیا راځي
ځکه چې د هغۀ د یو وصیت ترمخه معاویه له حکومت ورکړے دے او
هغه په اصفهان کښې موجود دے په هرحال څومره فرقې دومره خبرې۔
معتبره خبره دا منلې شي چې محمدالاکبر(رض) زوے بني هاشم حضرت
عباس(رض) د رسول د اولاد نه عبدالله په امامت باندې مقرر کړے وۀ او
امامت بنو عباس ته منتقل شو۔ دکسیانیه فرقه څۀ داسې وائي حضرت
علي(رض) حضرت حسن(رض) حضرت حسېن(رض) محمدالاکبر(رض)
ابوهاشم علي — او حسن امامان ګڼي۔ د ابن خلقان په (۶۰۸) حواله کتاب
الصحاته په حوالې سره لیکي کیسان د مختارثقفي لقب وۀ۔ نور تاریخ
دانان لیکي چې کسیان د حضرت علي(رض) یو غلام وۀ چې خلک به ئې
د محمدالاکبر(رض) امامت ته مائل کول۔



د شیعان علي(رض) تاریخ لیکونکے علي حسن رضوي لیکي چې
د ابوهاشم په باره داسې نۀ شي وئیلے چې د هغۀ په زړۀ کښې څۀ وو خو
هغه د هشام بن عبدالمک ټاکلے شوے سړے وۀ او دمشق کښې د دۀ د
عقیدت مندو یوه لویه ډله هم وه۔ د هغۀ نه خو پخپله کسیانیه فایده
اوچته نۀ کړه خو د عباسي تحریک مخکښې دعوې کوونکي محمدبن
علي (رض) د ابوهاشم ناڅاپي وفات مرګ باندې دمشق کښې د خپل
امامت پټ اعلان وکړو۔ محمدبن علي(رض) چې کله سن ۹۲ء کښې د
ابوهاشم پناه ته ورسېدۀ نو په دغه ورځو کښې هشام ابوالهاشم له زهر
ورکړۀ او مړ ئې کړۀ۔ محمدبن علي(رض) د دغې موقعې نه فایده واخسته
او خپل حق کښې ئې د دۀ د وصیت اعلان وکړو او دغه شان د ابوالهاشم
پټ تحریک د عباسیانو لاس ته راغے۔

د اُموي دورحکومت په څنې ځایونو کښې د محمدالاکبر(رض)
اولاد او د حسنیانو اولاد به چې چرته هم یو ځاے شو او د هغه وخت
حکومت خلاف به ئې اواز پورته کړو خو هغه اواز به دومره زورور نۀ وۀ
چې کامیاب شوے وۀ اولاد علي(رض) چې کوم ځاے کښې وۀ په ډېرو
سختو سره خپلې ساه ګانې د غم اسوېلو سره اخستې۔ انفرادي په شریکه
مرګونه د ژوند یو عامه خبره وه۔ بعضې ځایونو کښې به د کربلا د بیان څۀ
نه څۀ ردعمل وشۀ او په اولاد علي(رض) باندې به د ظلمونو غر راپرېوتۀ۔ د
یوڅو نورو شهیدانو قبرونه به جوړ شو یو څو ورځې به پرې ژړاګانې
ماتمونه وشو او بیا به خاموشي شوه۔

د مروان بن حکم په لاسو کښې حکومت د زور په وجه مېدان د
علي(رض) د اولاد نه خالي شوے وۀ خو یو انقلاب او روح پروره جذبه به
په زړونو کښې ګرځېده چې څنې څنې ځایونو به ئې اواز پورته کېدۀ د

هغې نه فاطمي تحریک ته فایده ورسېده خو دغه تحریک مخکښې په تلو کښې عباسي تحریک جوړ شو.

## د بنو حنیفه په یمامه قبضه:

د علامه عبدالرحمان ابن خلدون تاریخ ابن خلدون مخکښې د اسلام تاریخ الانبیاء دوېمه حصه ترجمه علامه حکیم احمد حسېن اله ابادي مرتب شوے کتاب نفیس اکېډمي اردو بازار کراچي چاپ ۱۹۹۰ء په حواله ډېر شاخونه څانګې او قبیلې دي. په دې کښې الدّمرل او بن حنیفه دي د دوي وطن یمامه زمکه د اعجاز ده. د دې په مشرق بحرین او په شمال کښې نجد دے. د یمامې اوږد منزل د څلورو ورځو زمکه حجازه پورے سفر دے. د باغونو او د زمکې کروندې په لحاظ زرۀ پورې شمارلے شي د دې دارالحکومت دارالخلافه حجر وو. د بنو حنیفه د قبضې نه پس د دارالحکومت حالت د اسلام اباد په شان وۀ.

## شجره نسب د حضرت بي بي خوله (رض)

بي بي خوله لور د جعفر زوے د قېس زوے د عبید زوے د ثعلبه زوے د ثعلبه الاّول زوے د حنیفه زوے د لجیم زوے د صعب زوے د علي بن البکر زوے د وائیل.

## دمحمدالاکبر(رض)دموربي بي نوم حضرت خوله وۀ

د محمدالاکبر(رض) د مور بي بي نوم په ټولو صحي تاریخونو کښې حضرت خوله لور د جعفر لیکلے شوے دے چې البدایه و نهایه تاریخ ابن کثیر علامه حافظ ابوالعلا عماالدین تاریخ طبري علامه ابي جعفر بن جریر اطیري تاریخ اسلام مولانا اکبرشاه خان تاریخ شهرآشوب مناقب ال ابي طالب معین الدین احمد ندوي سعید بن حرام الامرسي او داسې نور په سوونو تاریخونه دي خوله لور د جعفر لیکلے شوے دے.



## خوله لور د جعفر د حضرت علي د بي بي په حېث

چې کله نه د حضرت محمد(ص) د دنیا نه پرده شو نو ابوبکر صدیق(رض) د مسلمانانو خلیفه شۀ نو بعضې قبیلې د اسلام نه روګردان شوې او مرتد شوې په دغې مرتد شوو کښې څۀ قبائیل د زکات د ورکولو نه هم منکر شوي وو. یو سړے سیلمه دروغژن د نبوت یعنې د نبي دعوٰی هم کړې وه. د دغو ټولو منکرین غوغاګانو خلاف ختمولودپاره او د دې د انجام رسولودپاره حضرت ابوبکرصدیق(رض) د اصحابو یوه ډله جوړه کړه. دا لښکر اسلام د حضرت خالد بن ولید(رض) په مشرۍ کښې یمامه ته روان شو. دغلته سیلمه دروغژن او د قبیلې نورو خلکو د زکات نه هم انکار کړے وۀ. دغلته چې څومره خلک وو د بنو حنیفه قبیلې سره تعلق لرو. د دغې قبیلې سردار او رئیس مالک بن نویده وۀ. مالک بن نویده په جګړه کښې ووژلے شۀ نو د حضرت خالدبن ولید په قېد کښې یو سړے چې نوم ئې مجاعه بن مداره وۀ هغۀ حضرت خالدبن ولید(رض) ته خواست وکړو چې ما پرېږده چې زۀ قبیلې ته لاړ شم او هغوي د روغې د پاره رضامند کړم. مجاعه لاړو او د قبیلې مشرانو سره ئې د روغې جوړې خبرې وکړې. واپس راغے او د خالد بن ولید(رض) سره ئې د روغې په حقله د هغه مشرانو سره څۀ شرطونه وړاندې کړل:

1. ټول مال اسباب سرۀ سپین څاروي نیم مونږ ته واپس راکړئ.
2. په هر کلي کښې به یو باغ او څۀ زمکه کرونده کوونکي ته به ورکوئ او د دې په باره کښې مونږ ته نیم قېدیان ازادوئ.

چې بیا وروستو مجاعه د مال اسباب سامان څلورمه حصه تاسو قبوله کړئ او زمونږ قېدیان پرېږدئ چونکې د مسلمانانو قېدیان ډېر خوږ شوي وو نو حضرت خالدبن ولید(رض) ورته غاړه کېښوده او جنګ ئې هم نۀ وړدولو. دغه شان د روغې جوړې لوظنامه وشوه او دغه سامان او

قېدیان ئې حضرت ابوبکر صدیق(رض) ته حواله کړۀ. په دغه قېدیانو کښې بي بي خوله هم وه چې حضرت علي په نکاح واخسته. دغه بي بي چې وروستو دحضرت محمدالاکبر(رض) د موربي بي په نوم یادېده. دحضرت علي(رض) دغه زوی د محمد حنیفه په نوم هم یادېدۀ وائي چې حضرت علي دغه بي بي خوله ازاده کړه اوبیائې ورسره نکاح وکړه. سیدابوالاعلی مودودي په تفهیم القرآن په څلورم جلد کښې لیکلي دي چې ابوبکرصدیق(رض) اعلان وکړوچې دابنځې او ماشومان غلامان کړی. دوي اسیران شویعنې قېد شو هم په دغې کښې یوه ښځه وه چې نوم ئې خوله دحضرت علي په حصه کښې راغله او حضرت(رض) ورسره نکاح وتړله چې د هغې نه محمدالاکبر(رض) پېدا شو. دا کار د حضور(ص) د دنیا نه د تلو نه پس شوی وۀ. دا واقعه په سن ۱۱ ھ په اخره کښې او د سن ۱۲ ھ په شورو کښې شوې وه.

حضرت محمد(ص) د وصال ۱۱ ھ ۱۲ ربیع الاول په میاشت نه پس حضرت بي بي فاطمه(رض) شپږ میاشتو پورې ژوندۍ وه او حضرت علي(رض) د بي بي فاطمه(رض) په زندگۍ کښې بلې بي بي سره نکاح کړې نۀ وه. بعضې تاریخ دان وائي چې بي بي فاطمه (۷۵) پنځۀ اویا ورځې او بعضې سل ورځې هم یادوي چې د نبي (ص) نه پس ژوندۍ وه. حضرت بي بي فاطمه (رض) نه پس حضرت علي(رض) د بي بي خوله سره وادۀ یعنې نکاح کړې وه. دا ئې دوېمه بي بي وه چې محمدالاکبر(رض) ترېنه پېدا شو.

## خېبرۍ بي بي، د دروغو قیصې:

جنگ نامه زېتون او جنگ نامه حامد دا دوه کتابونه په یوه قیصه لیکلي شوي دي خوزۀ په جنگ نامه زېتون باندې خبرې کوم د میر بخش دپنجابۍ ژبې په اتیاصفحې یوکتاب دے. حمید بک ډپو اردو بازار کښې چاپ شوے دے. د کتاب لیکونکے امیر بخش دے. شاعر دا



کتاب ۱۲۷۴ کښې چاپ کړے دے. شاعر د پنجابۍ ژبې یو لوے نظم خدا ے خبر په کوم خیال کوم دلیل لیکلے دے شاعر خپل نوم نه وړاندې شېخ اوبیاککئي زئي وئیلے دے. دا نظم (۷۹) صفحو کښې خپل ښار وټاله ښائي. جالندر چاوڼۍ هندوستان وسېدونکي په خپلو شعرونو کښې وائي چې دکتاب نچوړدادے چې شاعر په خپلو شعرونو کښې یوه قصه بیانوي چې یوه ورځ حضرت علي (رض) ته محمد (ص) ووې چې د کوهِ قاف په غرونو کښې یو ځاے دے چې د هغې نوم خېبر دے هلته کافران وسېږي. تۀ هلته لاړشه، هلته یوقلعه ده هغه دکافرانو نه ازاده کړه یعني فتح کړه. حضرت علي (رض) د حضرت محمد(ص) د حکم پاسداري وکړه او د اصحابو سره روان شۀ چې د خېبر خلکو ته پته ولگېده دغلته یو مرحب سردار وسېدۀ هغۀ د جنگ د پاره خپلې هلې ځلې شوروکړې وے شپږ ورځې جنگ وشۀ چې پکښې دقلعه سردارهم واصل جهنم شۀ د هغه سردار یوه ښکلې لور هم وه چې نوم ئې حنیف وۀ حضرت علي(رض) دې ته د اسلام قبلولو دعوت ورکړۀ خو هغه د خپل پلار بدل اخستو دپاره علي سره د جنگ کولو اراده وکړه. حضرت علي (رض) او بي بي حنیف یو بل ته مخامخ شو. حضرت علي ته ډېره غصه ورغله چې ماته یوه ښځه په مقابله کښې ولاړه ده. بي بي حنیف چې د حضرت علي غصه ولیدله نو بي بي حنیف ورته د خبرو اترو دعوت ورکړۀ چې زۀ د زور خاونده یمه. ماسره خپل زور وازمایه یعنې کشتي وکړه کۀ زۀ په خپل زور کښې ناکامه شومه نو وسله به گوزار کړم. حضرت علي دا شرط قبول کړۀ وائي چې ووۀ ورځې دغه د لاسو زور هم دغه شان د زو جگړه کېدله او اخر داسې وشو چې بي بي حنیف ئې راگوزار کړه او دا شرط ئې وگټو. بي بي حنیف مسلمانه شوه. حضرت علي ورسره نکاح وکړه او حضرت علي بي بي حنیف ته ووې کۀ زما زوے وشۀ نو نوم ورله حنیف کېده چې لوے شي نو مدینې ته ئې

راولېږه. کۀ چرې لور وشي نو د ځان سره ئې کړه. هم دغه شان حضرت علي
بیامدینې ته واپس شۀ. حضرت حنیف پېدا شو او چې لږ لوے شۀ نو مور
ورله دحضرت علي رومال او ګوتمه ورکړه او مدینې ته ئې روان کړۀ. د دې
قیصې نه مخکښې حضرت علي چې مدینې ته ورسېدۀ نو حضور(ص) ته
ئې د فتح خیبر قلعه ټول حال احوال ووئیلو او د بي بي حنیف د نکاح حال
ئې هم بیان کړے وۀ. وائي چې نبي (ص) خوشحاله شۀ. هر کله چې حضرت
حنیف د څوارلس کالو شۀ نو مور بي بي حنیف مدینې ته روان کړۀ. د
روانېدونه مخکښې حضرت حنیف دمورنه سوال کوي چې زما پلار څوک
دے او مور ورله دغه رومال او ګوتمه ورکوي چې مدینې ته لاړ شه خپل
پلار وګوره. چې مدینې ته ورسېدۀ په لاره ډېر اوږے شۀ ګوري چې یو باغ
دے په کښې د بېرې ونې دي چې ګوري په دغه باغ کښې حضرت علي
(رض)، حضرت حسن(رض) او حضرت حسېن (رض) موجود دي. حسنیانو
بېرې خوړلې چې شاه حنیف ئې د لاسو نه بېرې واخستې او خوړلې ئې.
حضرت علي(رض) شاه حنیف ته ووې د دوي لاسونه پرېږده زۀ بېرې
شوکوم تۀ هم خوره او دوي به هم خوري. شاه حنیف د حضرت علي(رض)
په عربي ژبه نۀ پوهېدۀ چې دې څۀ وائي. حضرت علي ته غصه ورغله او
شاه حنیف ته ئې پړق ورکړۀ. شاه حنیف په ژړا شۀ او ورته ئې ووې کۀ زما
پلار وے نو ستا نه به ئې بدله اخستې وه. حضرت(رض) ووئیل چې تۀ
څوک یې. شاه حنیف ووې چې زۀ د خیبر نه راغلے یم زما د پلار نوم
حضرت علي(رض) دے او په ژړا کښې ئې ووې چې دا رومال او ګوتمه
چې د جیب نه ئې راوویستۀ او ښودله ئې وائي چې حضرت علي(رض)
وپېژندۀ ورته ئې ووې چې تۀ زما زوے یې، ښکل ئې کړۀ او کورته ئې
بوتلو حضرت فاطمه(رض) سره ئې د دۀ پېژندګلو وکړه او بیا وروستو ئې
د دۀ مور بي بي هم مدینې ته راوسته.



د معتبر تاریخي واقعې په حقله وئیلے کېږي چې غزوه خیبر په اوومه هجري
کال کښې شوې وه. په دې غزا کښې حضرت علي(رض) او محمد(ص) دواړو
شرکت کړے وۀ. حالات داسې وو چې په عربو کښې د یهودیانو لوے
طاقت په خیبر کښې وۀ. د یهودیانو د قبیلې بنو نضیر او بنو عطفان نورو
یهودیانو قبیلو مسلمانانو ته په جنګ اماده کولو یعنې په شا ډبولو او په
مدینه ئې د حملې کولو تیاري کوله. حضرت محمد(ص) ته چې پته ولګېده
نو حضرت عبدالله بن رواجه ئې د تحقیقاتو د پاره ولېږلو. هغوي(رض) د
دغه پخلې وکړۀ چې دا رښتیا دي او یهودیان په مدینه د حملې کولو اراده
لري. د دې نه پس حضور(ص) په خیبر د حملې کولو تیاري شورو کړه. د
ټولو نه وړاندې ئې د یهودیانو یوه ډله بنو فزاره محرم ۷ هجري کال د زي
قدو څرونګي چرته چې به د حضور(ص) مبارک څاروي څرېدل حمله وکړه.
دغلته ئې څۀ اوښان هم په خپله قبضه کښې واخستل. د دې نه پس حضور
د مخکښې تلو د پاره شپاړلس سوه مسلمانانو سره د محرم په ۷مه نېټه د
خیبر قلعه په لوري روان شۀ. په مقام رجیع کښې ئې څۀ ښځې او سامان
پرېښودۀ او د خیبر قلعه ته ورسېدۀ. په خیبر کښې د یهودیانو شپږ قلعه
ګانې وې. په هغې کښې شل زره جګړمار وو. د عربو مشهور بهادر مرحب
په دغه ځاے کښې وسېدۀ. د ټولو نه وړومبی حمله په قلعه ناعم باندې
وشوه او فتح ئې بیا مونده، دغلته یوه خاص قلعه قموص وه چې پکښې
سردار مرحب وسېدۀ. د ټولو نه وړومبے حضور(ص) حضرت ابوبکر(رض)
او حضرت عمر(رض) خاص نګرانی د پاره مامور کړل خو قلعه باندې
فتح ونۀ شوه او دغه شان په دوېمه معرکه کښې حضرت علي(رض)
خدمات وړاندې کړل او اخر دغه سردار مرحب قتل کړے شۀ او د
یهودیانو قوت ختم کړے شۀ. د شلو ورځو د جهاد نه پس د یهودیانو زور
په ځاے کښېناستۀ. ۹۳ یهودیان قتل شو او شل مسلمانان شهیدان شو.

دغه زمکې د یهودیانو په قبضه کولو نه پس یهودیانو حضور(ص) ته خواست وکړۀ چې زمکې به مونږه کرو او تاسو ته به نیمه حصه د غلو درکوو چې حضور(ص) ومنله. په دغه جنګ کښې چې د رئیس خیبر لور هم قېد وه چې بیا وروستو د حضور(ص) په عقد نکاح کښې داخله شوه صفیه، ام المومنین د مسلمانانو مور بي بي باندې یادېږي.

## حضرت بي بي صفیه (رض):

حضرت بي بي صفیه د حضور(ص) لسمه بي بي وه چې کله خیبر فتح شۀ نو د خیبر رئیس اعظم چې د بنو نضیر د قبیلې سردار او د یهودیانو مذهبي عالم چې بن اخطب یوه ډېره ښکلې لُور بي بي صفیه هم د مسلمانانو په قېد کښې راغله حضور(ص) د خیبر سره نژدې وادي صهبا کښې په یوه خېمه کښې (تشریف فرما وۀ) موجود وۀ صحابي رسول حضرت وحید بن خلیفه کلبي د حضور (ص) نه اجازت غواړي چې اے د الله رسوله (ص) په قېدیانو ښځو کښې ماله یوه کنیزه غلامه کنیزه راکړے. حضور(ص) وفرمائیل چې لاړشه خوښه کړه صحابي (رض) ځي او بي بي صفیه خوښوي څۀ وخت تېر شوے نۀ دے چې صحابه د حضور(ص) سره ملاوېږي چې یا رسول الله (ص) تاسو د بنو نضیر د قبیلې او د بنو قریضه قبیلو نور نظر لور صفیه وحید ته ورکړه حالانکې بي بي صفیه ستاسو شان سره جوړېږي صحابه (رض) حضور(ص) ته ووئیل چې تاسو د دغو قبیلو د اثر رسوخ نه ښۀ خبر یئ بیا د رسول الله په فېصلو کښې د الله رضا هم شامله وي او په هغې کښې د الله تعالی حکمت وي. حضور حضرت وحید بن کلبي (رض) او حضرت بي بي صفیه راوغوښتله چې دواړه حاضر شول. رسول الله وحید کلبي (رض) ته وفرمائیل چې تۀ بل څوک خوښ کړه یعنې بله غلامه واخله او بیا ئې حضرت بي بي صفیه ته ووئیل چې ما تۀ ازاده کړې او کۀ تۀ ایمان راوړې نوزۀ تاسره نکاح کولو ته



تیار یم کۀ مسلمانه کېږې نه نو خپلې قبیلې ته هم واپس تلې شې. حضرت صفیه په دې حېرانوونکې فېصلې سره څۀ بل شان شوه. په پنجره کښې قېده بي بي د پاره څۀ بل شان خبره وه. مالک په خپله د ازادېدو اعلان کوي د حضرت بي بي صفیه په سترګو کښې اوښکې راغلې. دغه وخت د بي بي صفیه عمر اولس کاله وۀ خودیوې اهمې فېصلې توان ورته په وراثت کښې ملاو شوے وۀ او وې فرمائیل چې اے د دواړو کونو سرداره چې دا زما د پاره ډېره د فخر خبره ده چې ماغوندې قېدي ښځه او د هغې د پاره ازادي ورکول او بیا د مسلمانانو رهبرعظیم د مدینې حاکم د دوو کونو سردارماته دنکاح د پاره دعوت راکول ما په غلامۍ کښې قبلوي ډېره د ویاړ خبره ده. دا یو اعزاز دے. زۀ خو د دې خبرې قابله نۀ یم. یارسول الله زۀ حاضره یم حضور(ص) مسلمانه کړه او د ایمان راوړو نه پس ئې په نکاح واخستله. حضرت بي بي صفیه د مسلمانانو مور بي بي د حضور(ص) لسمه بي بي وه. صحابه وفرمائیل چې مهر به څومره وي حضور (ص) وفرمائیل د دې مهر د دې ازادي ده د وادۀ په موقع د غوښې روټۍ په ځاے غوړي پنیر کجورې پېش کړې شوې وې. حضرت انس(رض) فرمائي دا څیزونه هم صحابه (رض) پېش کړي وو. د خیبر نه مدینې پورې په مزل کښې حضور (ص) درې ځله بي بي صفیه سره ملاقات کړے وۀ. ګوري حضور(ص) چې د حضرت بي بي صفیه په تندي یو خاص نښان نخښهویني. حضور تپوس کوي چې حضرت بي بي صفیه دا څۀ دي. بي بي صفیه فرمائي چې د خیبر فتح کولو نه مخکښې ستاسو د راتلو نه مخکښې ما یو خوب لیدلے وۀ چې د اسمان نه سپوږمۍ زماغېږې ته راکوزه شوې ده حالانکې زما ستاسو په باره کښې تصور هم نۀ وۀ. ما چې کله دا خوب خپل خاوند ته بیان کړۀ هغۀ زما په مخ د پړق ګوزار وکړۀ. هغۀ ووې چې د هغه بادشاه ارزو کوې چې څوک دمدینې بادشاه دے (الرحیق

المختوم ۵۰۱) د حضور(ص) بي بي صفیه سره د نکاح نه پس به یهودیانو حضور(ص) سره داسې سلوک او عزت کوۀ لکه څنګه چې په دې معاشره کښې یو سخر د زوم سره کوي او د دې نه پس چې څومره جنګونه غزاګانې کېدې نو حضور(ص) ته به د یهودیانو سرداران مخې ته نۀ ودرېدل ځکه چې یهودیانو مشرانو به دا ګڼل چې زمونږ د یو اعلی خاندان لُور د مدینې حاکم د دوو کونو سردار بي بي ده. د حضرت بي بي صفیه (رض) د پلار نوم حُي بن اخطب وۀ څوک چې د مشهورې یهودي قبیلې بنو نضیر مذهبي مشر وۀ. د دۀ تعلق د حضرت هارون علیه السلام د نسل نه راروان وۀ. د دغه تعلق په وجه به یهودیانو د دوي احترام کوۀ. د مور د طرفه د چا چې نوم فره بنت سحوال د رئیس بنو قریضه سره تعلق لرو. غرض دا چې د تمامو یهودیانو او د بني اسرائیلو ډلو قبائلو د دې کورنۍ د پاره یو خاص احترام کوۀ.

د حضرت صفیه بي بي وړومبے وادۀ سلام بن مشکم القرقلي سره شوے وۀ خو ډېر زر په څۀ خبره طلاق شوے وۀ. دوېمه نکاح د عرب رئیس او مشهور سوداګر ابي الحقیق زوي کنانه سره شوے وۀ. کنانه په خپله هم سردار وۀ. د خېبر مضبوطې قلعه قموص حاکم وۀ. د وادۀ څۀ ورځې شوې وې د خېبر معرکه وشوه د حضرت بي بي صفیه خاندان ټول کسان چې په کښې د حضرت بي بي صفیه خاوند کنانه د مسلمانانو سره د بې لوظۍ په سبب په جرم کښې د خان نه خلاص شو او دغه شان د بي بي صفیه خپلوان سړي ښځې د مسلمانانو قېدیانې شوې د خېبر قلعه د مدینې منورې نه تقریباً سل میله په شمال پرته ده دلته یهودیان چې د فلسطین نه شړل شوي وو استوګنه اختیار کړې وه د فصلونو باغونو او د هواګانو او اوبو په لحاظ دا ښکلے ښار د یهودیانو د پاره یو خاص ځاے وۀ. ډېر یهودیان چې د مدینې نه هم شړل شوي وو دلته ډېره وو. خېبر د مسلمانانو



د پاره یو خاص د سازش کور جوړ شوے وۀ حضور(ص) ته پته ولګېده چې د خېبر نه ډېر زر یو حمله په مسلمانانو کېدونکې ده. د صلح حدیبیه په واپسۍ په مدینه کښې څو ورځې دمه وکړه او په اوومه هجرۍ خېبر ته د جنګ د پاره د خېبر نه بهر سرګردان شو چې یهودیانو د مسلمانانو دا قافله ناڅاپه ولیده نو بې حواسه شو او قلعه ئې بنده کړه خو مسلمانانو ټولې قلعه ګانې په خپل اختیار کښې اخستې وے.

د حضرت بي بي صفیه د خاوند کنانه قلعه قموص باندې ډېر خاص ناز وۀ. د مسلمانانو د قلعه قموص نه ګېرچاپېره لارې نیولې وې خو د دې باوجود هم د قلعه قموص قبضه د مسلمانانو په لاس نۀ راتله چې حضور(ص) حضرت علي(رض) ته بېرغ په لاس کښې ورکړۀ. حضرت علي(رض) خصوصي دعا د الله تعالی نه وغوښتله د خپلې کامیابۍ د پاره او مخ په وړاندې شو او کامیابي او فتح ئې په نصیب شوه. په دې جنګ کښې د بي بي صفیه د خاندان وغېره اووۀ کم سل کسان وژلي شوي وو. شل کسان د مسلمانانو شهیدان شوي وو. د حضرت بي بي صفیه انتقال د روژې په میاشت په پنځوسمه هجرۍ کال کښې دشپېتو کالو په عمر کښې شوے وۀ. د دوي زیارت قبر مبارک په جنت البقیع کښې دے د نبي کریم د دوي سره د ژوندانۀ ورځې څۀ موده څلور کاله وۀ او د نکاح په وخت د دوي عمر ۱۷ کاله وه د نبي کریم (ص) عمر یو کم شپېتۀ (۵۹) کاله وۀ.

د دې خبرې نه څرګندېږي چې زېتون نامه د دروغو یوه افسانوي قیصه ده. پته نۀ لګي چې دې دروغو له ئې څۀ نه څۀ جواز جوړ کړے دے.

دغه شاعر د پنجابۍ یو جټ شاعر دے چې فرضي قیصې به ئې نورې هم جوړې کړې وي. د دې دروغو د اسلام په مذهبي جنګونو کښې هېڅ څۀ ذکر نشته او نۀ څۀ تاریخ لري بلکې دا د دۀ یو ذهني ارتقا ده. دومره خو دا واقعه مشهوره شوې ده چې پښتانۀ اعوانان هم اکثر دغه

قیصه کوي یعنې د خیبرۍ بي بي چې پهلوانه وه او حضرت علي(رض) ئې راګوزار کړۀ او چې هغې د حیدري اواز پورته کړۀ او خیبرۍ ابۍ ئې راګوزار کړه او بیا ئې ورسره وادۀ وکړۀ او دغه شان د شیعه ګانو د ډلې کسانیه مشر مختار ثقفي هم وائي چې امام ابوحنیف یزیدانو پسې د کربلا د معرکې نه پس ورغلے دے چې تراوسه غائب دے۔

## محمدالاکبر(رض) او حضرت امام حسن(رض):

بحرالانوار او د نوروکتابونو په حوالې سره اصحاب المبین نه په وېنالیکلي دي چې امام حسن(رض) په اخري وخت کښې محمدالاکبر (رض) راوبلۀ او هغۀ ته ئې ووئیل چې الله تعالی په بعضو کښې په بعضو اوچتوالے کړے دے۔ الله تعالی حضرت محمد(ص) په ټولو مخلوقاتو باندې یعنې غوره اوچت ګرځولے دے۔ زما تاسره څۀ حسد نشته ځکه چې حسد د کافرانو کار دے۔ ماته یاددي چې ستاپه باره کښې حضرت علي (رض) د جنګ بصرې په وخت وئیلے وو کۀ څوک ماسره په دنیا او اخرت څۀ نېکي کول غواړي نو محمدالاکبر سره دې نېکي وکړي چې کله امام حسن (رض) د دنیانه د تلو وخت نزدې شونو محمد الاکبر (رض) دغه وخت موجود وۀ۔ وروستو د شهادت نه چې کله کفن ئې ورته واغوستلو د محمدالاکبر(رض) د سترګو نه ډېر بې اختیاره رودونه روان شو د ورور په غم ډېر غمژن وۀ۔

## په کربلا کښې د امام حسین (رض) شهادت او د محمد الاکبر د نۀ شاملېدو وجه:

اهل عراق به تقاضې کولې او خطونه به ئې هم رالېږل حضرت امام حسین(رض) په ۱۰ ذي الحجه سن ۶۰ هجري د خپلو اهل بیتو سره چې پکښې ښځې سړي او ماشومان د مکې معظمې نه عراق ته روان شو۔ یزید خپل والئي عراق عبیدالله بن زیاد ته ولیکل چې حسین سره مقابله وکړه



اهل کوفه د کوفې خلکو حضرت امام حسین(رض) یواځې پرېښودۀ او حضرت امام حسین(رض) ئې شهید کړو۔ د کربلا په ځاے باندې محمد الاکبر(رض) د امام حسین(رض) سره کربلا ته تلے نۀ وۀ خو د خاندان اکثر خلک د امام حسین(رض) سره تلي وو۔ تاریخ دانو وئیلي دي او وجې ئې بیان کړې دي وائي چې د پلار د وختو نه د دۀ په لاس کښې زخم راغلے وۀ او توره ئې نۀ شوه نیولے په دې وجه تلے نۀ وۀ یا د دغه زخم په وجه داسې کمزوري راغلې وه چې جنګ ئې نۀ شو کولے یا نور څۀ بیمار وۀ۔ محمدالاکبر(رض) وائي چې د امام حسین(رض) سره تلونکو په شمېره کښې مخصوص ټاکلي شوي خلک وو چې زمانامه پکښې شریکه نۀ وه۔ بحارانوارجلد ۱۰ کښې وئیلي دي چې امام حسین(رض) محمد الاکبر (رض) ته په خپله وئیلي وو چې تۀ مۀ ځه او په مدینه کښې پرېښودلے وۀ، چې تۀ به مونږه وخت په وخت د حالاتو نه خبروې او یو وصیت نامه ئې ورته هم لیکلې ورکړې وه۔ یو وجه دا هم وه چې په دغه وخت په ټولو عربو کښې درې بزرګان هستۍ وې چې د دوي په ټولو عربو د شجاعت بهادرۍ بزرګۍ علامات ګڼل۔

په دې کښې د محمدالاکبر(رض) مسلم بن عقیل(رض) او عباس بن علي(رض) نومونه شامل دي۔ حضرت امام حسین(رض) حضرت محمد الاکبرته په مدینه کښې د وسېدو حکم ورکړۀ۔ مسلم بن عقیل ئې کوفې ته ولېږلو او عباس ئې د ځان سره کړو۔ د حضرت امام حسین(رض) حکم منل کربلا ته د نۀ تلو وجه وه۔ علامه اطبري المتوفي ۳۱۵ ھ تاریخ طبري اردو ترجمه کتاب نفیس اکیډمي کراچي حصه څلورم کښې داسې لیکلي دي چې کله امام حسین او اهل بیت روان شو نو محمدالاکبر(رض) خواست وکړو چې ورور جانه زۀ تا د دې ټولې دنیا نه د ټول مخلوق نه د خپل ځان نه زیات غواړم۔ زۀ غواړم چې تۀ د یزید بن امیر معاویه(رض) د هرقسمه

قیصه کوي یعنې د خیبرۍ بي بي چې پهلوانه وه او حضرت علي(رض) ئې راګوزار کړۀ او چې هغې د حېدري اواز پورته کړۀ او خیبرۍ ابی ئې راګوزار کړه او بیا ئې ورسره وادهٔ وکړۀ او دغه شان د شیعه ګانو د ډلې کسانیه مشر مختار ثقفي هم وائي چې امام ابوحنیف یزیدانو پسې د کربلا د معرکې نه پس ورغلے دے چې تراوسه غائب دے۔

## محمدالاکبر(رض) او حضرت امام حسن(رض):

بحرالاتوار او د نوروکتابونو په حوالې سره اصحاب المبین نه په وېنالیکلي دي چې امام حسن(رض) په اخري وخت کښې محمدالاکبر (رض) راوبلۀ او هغۀ ته ئې ووئیل چې الله تعالی په بعضو کښې په بعضو اوچتوالے کړے دے۔ الله تعالی حضرت محمد(ص) په ټولو مخلوقاتو باندې یعنې غوره اوچت ګرځولے دے۔ زما تاسره څۀ حسدنشته څکه چې حسدد کافرانوکاردے۔ ماته یاددي چې ستاپه باره کښې حضرت علي (رض) دجنګ بصرې په وخت وئیلې وو کۀ څوک ماسره په دنیا او اخرت څۀ نېکي کول غواړي نومحمدالاکبر سره دې نېکي وکړي چې کله امام حسن (رض) د دنیانه دتلووخت نزدې شونومحمد الاکبر (رض) دغه وخت موجود وۀ۔ وروستودشهادت نه چې کله کفن ئې ورته واغوستلودمحمدالاکبر(رض) د سترګو نه ډېر بې اختیاره رودونه روان شو د ورور په غم ډېر غمژن وۀ۔

## په کربلا کښې د امام حسېن (رض) شهادت او د محمد الاکبر د نۀ شاملېدو وجه:

اهل عراق به تقاضې کولې او خطونه به ئې هم رالېږل حضرت امام حسېن(رض) په ۱۰ذي الحجه سن ۶۰ هجري د خپلو اهل بېتو سره چې پکښې ښځې سړي او ماشومان د مکې معظمې نه عراق ته روان شو۔ یزید خپل والئي عراق عبېدالله بن زیاد ته ولیکل چې حسېن سره مقابله وکړه



اهل کوفه د کوفې خلکو حضرت امام حسېن(رض) یواځې پرېښودۀ او حضرت، امام حسېن(رض) ئې شهید کړو۔ د کربلا په ځاے باندې محمد الاکبر(رض) د امام حسېن(رض) سره کربلا ته تلے نۀ وۀ خو د خاندان اکثر خلک د امام حسېن(رض) سره تلي وو۔ تاریخ دانو وئیلي دي او وجې ئې بیان کړې دي وائي چې د پلار د وختو نه د دۀ په لاس کښې زخم راغلے وۀ او توره ئې نۀ شوه نیولے په دې وجه تلے نۀ وۀ یا د دغه زخم په وجه داسې کمزوري راغلے وه چې جنګ ئې نۀ شو کولے یا نور څۀ بیمار وۀ۔ محمدالاکبر(رض) وائي چې د امام حسېن(رض) سره تلونکو په شمېره کښې مخصوص ټاکلي شوي خلک وو چې زمانامه پکښې شریکه نۀ وه۔ بحارانوارجلد ۱۰کښې وئیلي دي چې امام حسېن(رض) محمد الاکبر (رض) ته په خپله وئیلي وو چې تۀ مۀ ځه او په مدینه کښې پرېښودلے وۀ، چې تۀ به مونږه وخت په وخت د حالاتو نه خبروے او یو وصیت نامه ئې ورته هم لیکلې ورکړې وه۔ یو وجه دا هم وه چې په دغه وخت په ټولو عربو کښې درې بزرګان هستۍ وې چې د دوي په ټولو عربو د شجاعت بهادرۍ بزرګۍ علامات ګڼل۔

په دې کښې د محمدالاکبر(رض) مسلم بن عقیل(رض) او عباس بن علي(رض) نومونه شامل دي۔ حضرت امام حسېن(رض) حضرت محمد الاکبرته په مدینه کښې د وسېدو حکم ورکړۀ۔ مسلم بن عقیل ئې کوفې ته ولېږلو او عباس ئې د ځان سره کړو۔ د حضرت امام حسېن(رض) حکم منل کربلا ته د نۀ تلو وجه وه۔ علامه اطبري المتوفي ۳۱۵ ھ تاریخ طبري اردو ترجمه کتاب نفیس اکېډمي کراچي حصه څلورم کښې داسې لیکلي دي چې کله امام حسېن او اهل بېت روان شو نو محمدالاکبر(رض) خواست وکړو چې ورور جانه زۀ تا د دې ټولې دنیا نه د ټول مخلوق نه د خپل ځان نه زیات غواړم۔ زۀ غواړم چې تۀ د یزید بن امیر معاویه(رض) د هرقسمه

فتنې نه ځان وساتې، کۀ د کوفې خلک ستا نه بېعت غواړي نو ډېره ښه ده او کۀ نه د چا بل څوک بېعت کول غواړي نو دې سره به تاته دين ته څۀ قسم نقصان ضرور نۀ رسېږي کوفې ته يا بل ښار ستا تلل د فساد جوړېدلو سبب جوړ نۀ شي. ماسره ويره ده چې هسې نه يوه ډله ستا په حق کښې او بله ډله مخالفه شي کۀ چرې داسې وشي نو د وينې بهېدو او د خپل خاندان د بربادۍ به وګرځي. بيا حسېن(رض) ووئيل نو زۀ بيا کوم خوا لاړ شم محمدالاکبر ووئيل مکې معظمې ته. کۀ دغلته هم تۀ خوشحاله نۀ شوے او څۀ د غم خبره وي نو ريګستان يا د تورو غرونو طرف ته لاړ شه ګوره چې اوښ په کوم لور ځملي تۀ زما خوښ تر ورور يې تۀ د جنت د زلمو سردار يې د يزيد د بېعت نه ځان لرې ساته. حضرت امام حسېن(رض) ووئيل کۀ په دې ټوله دنيا کښې هم زما ځاے نۀ وي زۀ به د يزيد بېعت بيا هم ونۀ کړم. بس ستا په خبرو ورسېدم.

امام حسېن (رض) ووې تاله دې خداے پاک جزايې خېر درکړي. تا ماته ډېرې ښې خبرې وکړې. امام حسېن ۲۸ رجب د مدينې نه روان شۀ په اول شعبان مکې ته ورسېدۀ امام حسېن(رض) څلور مياشتې په مکه معظمه کښې ايسار شو. امام محمدالاکبر هم د حج اراده کړې وه او رسېدلے وۀ چې کله امام حسېن(رض) حج په عمرې بدل کړو او په ورځو د حج ئې د تلو فېصله وکړه نو امام محمدالاکبر زر د امام حسېن(رض) په خدمت کښې حاضر شو تۀ د کوفې د خلکو د مکروفرېب نه خبر يې تا ليدلي وو چې هغوي زمونږ پلار حضرت علي(رض) او زمونږ ورور حضرت حسن(رض) سره کوم سلوک کړے وۀ هسې نه چې تاسره هم د کوفې خلک دوکه وکړي. تۀ په مکه کښې ايسار شه امام حسېن(رض) ووې هسې نه يزيد څۀ نه څۀ بهانه ولټوي او ما په مکه کښې شهيد کړي. هسې نه زما په وجه د حرمت بېت الله يعنې بېت الله سپکاوے ونۀ شي کۀ دا خبره وي



يمن ته لاړ شه هلته به ستاالله تعالی ښۀ حفاظت وکړي. امام حسېن(رض) ووې زۀ به پرې غور وکړم. زۀ به تاته ووايم چې محمدالاکبر خپل د وسېدو ځاے ته ورسېدۀ. سحر خبر وشۀ چې امام حسېن(رض) د تلو هڅه کړې ده. امام محمدالاکبر ته وئيلے وو چې زۀ به پرې سوچ وکړم داسې څۀ خبره وه چې د تلو اراده دې وکړه. امام حسېن (رض) ووې تاسره مې وعده کړې وه چې سوچ به وکړم نو بيا څۀ وجه ده چې سوچ دې بدل کړو. امام ووې ستا د تلو نه پس زمونږ نيکۀ حضرت محمد(ص) تشريف راوړلے وۀ. هغوي مبارک ووې حسېن (رض) تۀ لاړ شه الله پاک غواړي چې تۀ د شهادت په درجې ورسېږې. ما ته نبي ووې د الله تعالی هم په دې کښې رضا ده. بيا بچي او ښځې ولې د ځان سره بوځې حضرت امام(رض) ووې ماته رسول الله دا خبر راکړے دے چې دوي به قېديا نورو سختو سره مخ وي. دې کښې هم داالله رضامرضي شامله ده. دې نه پس محمد الاکبر(رض) څۀ قسم د خبرو هسه ونۀ کړې شوه.

علامه حسېن بخش اصحاب اليمين په رواياتو نه ليکي چې مدينه کښې حضرت محمدالاکبر(رض) ته د کوفې د قافلې د اهل بېتو د واپس کېدو پته ولګېده نو حضرت زر د خپل ځاے نه رامنډې کړې. ورته معلومه شوه چې امام حسېن(رض) شهيد کړے شوے دے. دۀ چې واورېدۀ نو بې هوشه شۀ، پرېوتو او چې په هوش کښې راغے نو ووئيل اے وروره په تا به څۀ څۀ نۀ وي تېر شوي او په ژړا ژړا کښې ئې د حضرت عباس(رض) پوښتنه وکړه، ووئيل هغه هم شهيد شوے دے. او بيا ئې د بني هاشم د نورو ځوانانو پوښتنه وکړه.

## علويان او عبدالمالک بن مروان:

۶۵ھ تا ۸۶ھ پورې د مروان حکومت کښې ځاے په ځاے جګړې روانې وے خوخصوصاً مختار ثقفي د حسېن(رض) د قاتلانو د

بدلو اخستو د پاره اواز پورته کړو خو په دې اواز کښې د محمد الاکبر (رض) نوم هم شامل وۀ او په دې وجه په زرګونو سرفروشان د مختار ثقفي نه تاؤ شوي وو. تر ډېره حده ئې قاتلان حسېن (رض) قتل کړل. چونکې عبدالله بن زبېر (رض) داسې نۀ غوښتل او محمد الاکبر (رض) ئې قېد کړو او ورسره ئې دا هم غوښتل چې د عبدالله بن زبېر خلافت ومنه خو هغۀ نۀ منلو نو هغۀ ئې قېد کړو خو د مختار ثقفي فوځ ډېر اهم کردار وکړو او هغه ئې د قېد نه ازاد کړو. دغه دور هم د محمد الاکبر (رض) او د هغۀ د اولاد د پاره ډېر د درد و غم نه ډک وۀ خو په دغه دور کښې محمد الاکبر (رض) په ټولو عربو کښې یو اهم سیاسي او روحاني سړے خلکو ګڼلو. محمد الاکبر (رض) په سن ۸۱ هـ کښې په حق ورسېدو.

## بني هاشم:

هاشمي یا قرېشي د بني هاشم نسباً د قرېشو یوه څانګه وه په دې د نورو قرېشو. خاندانونو باندې بې شکه اوچتوالے وۀ. د سیدالبشر حضرت محمد (ص) بن عبدالله بن عبدالمطلب او د حضرت علي (رض) پېدائش مبارک د قرېشو خاندان کښې شوے او د هاشم یو زوے د بني هاشم د نسل نه راروان دے. بااختیاره نسب او قومیت په ټولو قرېشو خاندانونو او هاشمي خاندان د بنو عبدالمطلب یو شان دے، (علوي) د معتبر تاریخ دانانو د لوستلو نه دا خبره څرګندېږي چې څلورمه او پنځمه صدي هجري پورې اهل عرب یا نورو قامونو د نسب او قومیت د وئیلو په توګه اولاد علي (رض) د پاره سید استعمال کړے نۀ دے بلکې د ټولو اولاد علي (رض) کۀ فاطمي (رض) دے او کۀ غېر فاطمي (رض) یعنې امام حسن (رض) او امام حسېن (رض) اولاد دے او کۀ محمد الاکبر (رض) عباس علمدار یا عمرالاطراف بن علي (رض) دے، د دوي د نسبي شناخت پېژندګلو د پاره علوي الفاظ وئیلے شوے دے یعنې اولاد علي



چرته هم سید د خپل نوم سره لیکلے نۀ دے او نۀ تر اوسه پورې په عربو ملکونو کښې د خپل نوم سره سید لیکي. د اولاد علي (رض) د خپل نوم سره علوي لیکي دا د اولاد علي (رض) د پېژندګلو د پاره ثبوت دے. د شهادت حسېن (رض) واقعه خو په عباسیانو دامیانو ترمېنځه امام حسن (رض) امام حسېن (رض) د حسنېنو خبرې کېدے. د حضرت علي (رض) د نورو اولاد محمد الاکبر (رض) عباس علمدار او عمرالاطراف بن حضرت علي (رض) به دغه موقع خپلې پېژندګلو نۀ دي کړې بلکې د حسنېنو (رض) پېژندګلو به ئې کوله څومره چې تحریکونه چلېدلي دي همېشه داسې کېږي د خپل امیر پېژندګلو د نسبت سره کېږي. داسې محسوس کېدل چې د اموي او عباسي خلفاګانو په دور کښې د حسنېنو (رض) د اولاد کردار د مشرانو ډله د مخالفو وه. غېر فاطمي اولاد دوي د انصار او اعوان وۀ غېر فاطمي اولاد په شان د سپایانو وۀ. دوي په دې جهاد کښې خپل وختونه لګولي وو چې چرته خو به زمونږ حسنېن ورونه په خلافت کښې راشي د تاریخ دانو تاریخ کۀ په غور سره وګورئ نو معلومه به شي چې په دې نومونو کښې د غېر فاطمي اولاد علي (رض) د نومونو سلسله هم د حسنېنو (رض) سره ملاو شوي ده او په دې طریقه د حضرت علي (رض) د غېرفاطمي اولاد شجره نسب بالکل ختمه کړې شوې. ده تاریخونو کښې د علویانو ذکرونه موجود دي. اصلي شجره نسب موندل ډېرګران دي. دا هغه اولاد علي (رض) دے چې محمد الاکبر (رض)، عمرالاطراف او حضرت عباس علمدار د دوي شجره نسب د حضرت علي (رض) سره ملاوېږي خو د چا چې پلاران نیکونه حسن (رض) یا حسېن (رض) نۀ دي. په دې وجه د دوي شجره نسب ئې بالکل نظرانداز کړے دے. حسن اطروش علوي ته وګوره مسعودي دغه واقعه د محمد الاکبر (رض) د اولاد نه لیکلے ده. څني تاریخ دانو دغه واقعه د زېن العابدین د اولاد نه

لیکلي ده داسې د تاریخ ډېرې حوالې چې په سوونو دي، کډې وډې وراندې کړي دي چې زۀ ئې په دې مختصر کتاب کښې ځایولے نۀ شم۔ دا معلومه شوه چې عباسیانو په دوکه خلافت هم اخستے وۀ او تر ډېره وخته پورې په خلافت کښې وو چې ټول دښمنان ئې علویان ګڼل۔ د دوي غوړ سارنه ئې کړې ده۔ دوي خپل محسنانو سره زیاتې کړے دے بلکې د دوي حسب نسب د وارانو دلو خپلې پوره پوره حصې هم کړي دي۔ په دې وجه دوي د خپلو ځایونو نه کډې کړې دي۔

## علویان او یزید اول بن معاویه:

۲۰ھ تا ۶۲ھ کال د معاهده د نېټې سره د حضرت معاویه(رض) د وفات نه پس د خلیفه جوړېدو حق د امام حسن(رض) جوړېدو خو امیرمعاویه(رض) خپل زوے یزید خلیفه وټاکلو۔ د یزید په وصیت اولاد علي(رض) باندې د ظلم غر راپرېوتۀ۔

سره د دې چې په دغه لویه معرکه کښې په ځۀ وجوهاتو محمد الاکبر(رض) شامل نۀ وۀ خو د امام حسین(رض) د شهادت نه پس ټولې ذمه وارۍ د محمدالاکبر(رض) په سر وې او تر ډېره حده ئې مقابلې کړې هم وې او قاتلان حسین(رض) نه ئې بدلې هم اخستې وې۔

## محمدالاکبر او عبدالمالک بن مروان:

محمدالاکبر(رض) د زم زم نه شعب علي ته لاړلو وخت په وخت دۀ سره څلور زره (۴۰۰۰) فوځ جمع شو او د مختار رالېږلې پېسې ئې په خلکو تقسیم کړې او بیا مختار هم په حق ورسېدۀ۔ د عبدالله بن زبیر(رض) دقدم طاقت، نورطاقتور شو نو محمدالاکبر(رض) نه ئې د بېعت اخستوتابیا وکړه، هغۀ د دې خبرې نه عبدالمالک بن مروان خبر کړو۔ هغۀ ورته ووې چې شام ته راشه ترڅو پورې چې ستا خبرې ختمې شوې نۀ وي دلته کښې په عزت احترام سره وسېږه، زۀ به تاسره ډېر په ښۀ



سلوک سره ملاوېږم۔ د حضرت عبدالله بن زبیر(رض) د شهادت نه پس عبدالماک سره۔ وۀ عبدالمالک حجاج ته د محمدالاکبر(رض) د تعظیم کولو او حق پرستۍ او احترام کولو د پاره ووې۔ بیا وروستو عبدالمالک ته ئې ووې چې ما باندې د حجاج ماتختي ښه نۀ لګي، دا بالادستي ختمه کړه۔ چې عبدالمالک ومنله۔ دې نه پس بیا ابن حنفیه(رض) عبدالمالک ته ولیکل چې حجاج زمونږ ښار ته راغلے دے۔ هسې نه چې په ماد ژبې یا د لاسوغلبه ونۀ کړي۔ عبدالمالک بیا حجاج ته حکم وکړو چې داسې ونۀ کړي۔ حجاج محمدالاکبر(رض) په بېت الله کښې ولیدلو نو حجاج خپلې شونډې وچیچلې او وې وئیل چې امیرالمؤمنین زۀ ستا په حقله ولې منع کړے یم چې تۀ دۀ ته ضرر مۀ رسوه۔ محمدالاکبر(رض) په بدو اخته شې تاته علم نۀ دے چې هره ورځ او شپه د الله تعالی له اړخه درې سوه شپېتۀ نظرونه وي، کېدے شي چې په یو نظر کښې ئې راغلے یم، دغے یو نظر زۀ ستا د شر نه بچ ساتلے یم او په خپل رحمت کښې ئې ځاے کړے یم۔ روایات کوونکي وائي چې دا خبره حجاج عبدالمالک ته وکړه او عبدالمالک شاه روم ته ولیکله او هغۀ شاه روم له دهمکي ورکړې وه نو شاه روم حضرت معاویه(رض) ته په خط کښې دا خبره ولیکله چې دا خبره داسې څوک کولے شي او نۀ ستا پلار نیکۀ کولے شي دا خبره صرف نبي کولے شي یا د نبي اولاد کولے شي۔

## د محمدالاکبر په نوم د مختار لیک:

شورو کوم د الله پاک د نوم نه چې بخښونکے او مهربانه دے دا خط د علي(رض) د زوي په نوم دے۔ د مختار ابن ابي عبېد له اړخه سلامونه اے صاحب لار ښوونکے د الله وحده په شان کښې دې صفتونه وي۔ الله تعالی ماله ستا د دښمنانو نه بدله اخستو موقع راکړه په دې کښې مې ډېردښمنان وژلي دي اوځۀ تښتېدلي هم دي۔ په دې د الله شکر دے چې

ستاسو قاتلان ئې زما په لاس وژل او ستاسو ملګري ئې زما ملګري کړل.
زۀ دعمربن سعداو د هغۀ د زوي سرونه درلېږم. د امام حسېن(رض) او اهل
بېتو څومره چې قاتلان دي چې په چا زما وس کېدۀ ما قتل کړل او کۀ په
چا مې هم وس راغے هغه به وژنم. زۀ دا پاکه زمکه د دغه ناپاکونه پاکوم.
اوس چې ستاسو څۀ رايې وي هغه راته ووايه.

## محمدالاکبر او مختار ثقفي:

مختار ثقفي د بني هوزان د قبيلې نه وۀ. د دۀ د پلار نوم عبېد وۀ. ډېر
بهادرتکړه وۀ. په ۱ھ کښې پېداشوے وۀ اوپه سن ۶۷ھ کښې د ۶۷ کالو په
عمر کښې په حق رسېدلے وۀ. ډېره ښکلې زندګي ئې تېره کړې وه. دا ډېره
مشهوره ده چې د حسېن(رض) د قاتلانو بدله ئې تر ډېره حده پورې
اخستې وه. د دۀ په حقله وئيلے شي چې مختلف روايتونه چې د بعضې
خلکو خيال وۀ چې دې د اهل بېتو دومره خېرخواه هم نۀ وۀ خو دۀ په دې
چل باندې حکومت اخستلو تابيا کوله او دخلکومرسته ئې ځان ته کوله.
دوېم قسم خلک د دۀ نوم ډېر په احترام اخلي او دۀ له هغه ځاے ورکوي
کوم چې په دغه وخت د اهل بېتو باندې شوے ظلم د وينې د بدل اخستو
د پاره دومره لويه قرباني ورکوي څکه چې په دغه وخت يزيدي حکومت
چې د رسول(ص) د اولاد نه هم مخ نۀ اړوي نو څۀ څۀ ئې نور هم کولے شو.
وئيلے شي چې دۀ د اهل بېتو سره ډېره مينه کوله. هرڅۀ چې دي زۀ د
محمدالاکبر(رض) او مختار ثقفي په مېنځ کښې چې څۀ شوي دي هغه
راولم. وئيلے شي چې مختار د کوفې حکومت ونيوۀ چې وروستو دۀ
عبدالله بن عمر(رض) ته خواست وکړو چې ما پرېږده هغۀ د دۀ خواست
قبول کړو او پرېښودۀ ئې. مختار د ځان سره څۀ کسان يو ځاے کړل او دا
خبره ئې ګډه کړه چې د محمدالاکبر(رض) او عبدالله بن زبېر(رض) د
وخکلو تابيا شوې ده خلک د دوي په خبرو کښې راغلل چې ځنې خلک



محمدالاکبر(رض) سره په دې خبره چې دا خبره رښتيا ده تپوس د پاره هم
راغلۀ، محمدالاکبر پحواله ترجمه الکامل حصه اول دا ځواب ورکړو چې
تاسو د کوم سړي په باره کښې خبرې کوے، دا سړے زمونږ خلکو د وينې
بدله اخستو د پاره دعوت ورکوي يعنې د کربلا د حسېنو(رض) بدل
اخلي، د هغۀ په باره کښې زۀ دومره وايم چې زۀ غواړم چې الله تعالى ته
کومه خبره غوره وي هغه کار به د هغې مخلوق نه اخلي. دغه بدل زمونږ د
دښمنانو چې څوک اخلي. الله تعالى دې امداد وکړي، زۀ تاسو له او ځان
له د الله تعالى نه د بخښنې دعا غواړم. بيا دې خلکو د مختار ثقفي
ملګري شو چې د محمدالاکبر په خبرو پوهه شو. وائي چې مختار ته يو
لوے طاقت ملاؤ شو.

## محمدالاکبر(رض) د عبدالله بن زبېر په قېد کښې:

امير مختار ليکلے شوے د سيد بشارت حسېن کامل مرزا پوري
ليکي په کتاب کښې چې حضرت عبدالله بن زبېر(رض) ته چې پته
ولګېده اوحالاتوته ئې وکتل چې مختارد محمدالاکبر(رض) په نوم قتلونه
کوي نو هغۀ محمدالاکبر(رض) راوبلۀ چې په هغه ورځو کښې په مکه
معظمه کښې وۀ او هغۀ ته ئې ووئيل چې تا خو به وئيل چې زما د دنيا سره
هيڅ څۀ کار نشته ولې تا مختارعراق ته نۀ دے لېږلے. هلته هغۀ زما
کارکوونکي کارنده ووژل او هلته ئې دغه خلک تباه و برباد کړل.
محمدالاکبر ووې مختار د امام حسېن(رض) قاتلان وژني هغه د امام
حسېن(رض) بدله اخستوکښې مشغول دے. عبدالله بن زبېر(رض) ووې
زۀ به تر هغې پورې تا نۀ پرېږدمه ترڅو چې تا مختار ته دا خط ونۀ ليکے
چې د دې قسمه حرکتونو نه په قرار شه ګني نو زۀ به تا قتل کړم.
محمدالاکبر(رض) په ما باندې دا لازم نۀ دي چې زۀ مختار منع کړم. د زم
زم په ځاے ئې خېمه ولګوله. څلوېښت کسانوېه نګراني کښې ئې

محمدالاکبر (رض) قېد کړۀ. محمدالاکبر په پټو ذریعو یو خط مختار ته ولیکلو. دا خط ئې د خپل غلام سعد په لاس ولېږلو. اے مختاره تۀ دې د دې خبرې نه خبر شې چې زۀ به زم زم سره نزدې په یوه خېمه کښې د عبدالله بن زبېر (رض) په قېد کښې یم. ماته بن زبېر (رض) وائي چې تۀ مختار د دغې قتل غوغا نه واړوه ګنې تا به قتل کړم ځلوېښت کسان په ما ماموره دي ما خپل کور ته هم نۀ پرېږدي. تۀ زما په باره کښې غور وکړه. مختار ته چې پته ولګېده نو یو فوځي قافله یې د هاني بن قېس په مشرئ کښې روانه کړه او نورې فوځي قافلې ئې ورپسې وخت په وخت لېږلې. دغه مختصر فوځ چې د هاني بن قېس په مشرئ کښې تلے وۀ، زم زم ته ورسېدۀ او د خېمې نه بهر محمدالاکبر (رض) سره ملاو شو او دغه فوځ ئې د تورو وهلو نه منع کړو حضرت عبدالله بن زبېر (رض) ته چې په دغه موقع پته ولګېده خو هغۀ هېڅ نۀ شو کولے. اهل مکې والو ورسره ملګرتیا ونۀ کړه خو په عبدالله بن زبېر (رض) باندې دا ښه ونۀ لګېده او بهانې ئې محمدالاکبر ته جوړولې او دې به ئې تنګولو بیا محمد الاکبر (رض) د مکې نه یمن ته هجرت وکړو بعضې تاریخ دانو ووې چې طائف ته ئې هجرت وکړۀ.

## محمدالاکبر (رض) د علماء او تاریخ دانو په نظر کښې:

راحت حسېن ناصري په خپل کتاب محمدحنیفه د شېک جعفر تعدي کتاب منن الرحمن په حوالې سره د محمدالاکبر (رض) په باره کښې لیکلي دي چې محمد اکبر (رض) ډېر پرهېزګاره او تقویٰ داره عالم عابد فقیر زاهد کرم نواز سړے وۀ هغۀ ته د خپل پلار حضرت علي (رض) د خدمت ګوزاره او تابعدارئ فضیلت حاصل وۀ. د حضرت امام حسن (رض) او امام حسېن (رض) نه د خدمت او وفادارئ اعزاز هم حاصل کړے وۀ. د خپل پلار



حضرت علي (رض) سره په نره جنګونو کښې حصه اخستله. وائي چې کیسانیه ډله د دۀ د امامت ګمان هم کوۀ خو هغه د دې کار نه بې زاره وۀ.

## د محمد الاکبر (رض) د وفات تاریخ:

تاریخ فاطمین مصر جلد اول مطبوعه کتاب نفیس اکېډمي کراچي لیکونکے ډاکټرزاهدعلي وائي په صفحه نمبر۲۸ باندې د محمد الاکبر (رض) وفات کال ۸۱ هجري دے. حضرت محمدالاکبر (رض) د عبدالمالک بن مروان په دورکښې د پنځۀ شپېتو کالو په عمر کښې په حق رسېدلے وۀ. محمدالاکبر (رض) د وفات ځاے کښې اختلاف دے. ځنې تاریخ دان وائي په مدینه کښې وفات شوے دے او ځنې طائف یادوي خو د ډېرو رایې دا ده چې په مدینه کښې په حق رسېدلے وۀ او په جنت البقیع کښې ښخ شوے دے. د کیسانیه فرقې عقیده ده چې هغه جبل رضوي نوم ځاے کښې غائب شوے دے او څۀ وخت هم د دغه ځاے نه راوتونکے دے. دجبل رضوي په باره کښې وئیلي شي چې په مکه معظمه کښې دے بعضې وائي چې د مدینې او بحرقلزم په دوه منزل باندې قايم دے.

## د حضرت محمدالاکبر (رض) اولاد:

د بې شمېره تاریخ لیکونکي د محمدالاکبر (رض) زوے د حضرت علي (رض) اولاد لس یولس او څوک دولس زامن یادوي.

(۱) حسن (۲) عبدالله (۳) ابوهاشم (۴) جعفرالاکبر (۵) حمزه (۶) علي (۷) جعفرالاصغر (۸) عون (۹) قاسم (۱۰) ابراهیم (۱۱) عمر (۱۲) عبدالرحمٰن

مشهور تاریخ دان علامه ابن سعد په طبقات ابن سعد اردو ترجمه جلد پنځم د محمدالاکبرد زامنو نومونه داسې لیکي: (۱) عبدالله ابو هاشم (۲) حمزه (۳) علي (۴) جعفرالاکبر اُم ولد د حرم نه زېږېدلي دي.

(۵) حسن بن محمد چې د هغۀ د مور بي بي نوم ئې جمال بنت قېس وۀ.

(۶) ابراهیم بن محمد چې د مور بي بي نوم ئې مسرعه بن عباد وۀ

(۷) قاسم بن محمد (۸) عبدالرحمن چې د مور بي بي نوم ئې اُم عبدالرحمن وۀ

(۹) جعفرالاصغر (۱۰) عون (۱۱) عبدالله اصغر چې د مور بي بي نوم ئې اُم جعفر وۀ.

د دۀ وېنا ده چې د محمدالاکبر(رض) یولس زامن وو. دغه شان نور تاریخ دانان په سوونو هرقسمه تبصرې کړې دي، ماچې څۀ مناسب گڼل هغه مې ولیکل دلته دا خبره ضروري ده چې بعضو تاریخ دانانو یا عامو خلکو څني تاریخونه غلط کړي هم دي او وائي چې علوي شیعه گان دي. بعضې شیعه گانو فرقو په وجه د حضرت علي(رض) اولاد چې پکښې محمدالاکبر (رض) او د هغۀ اولاد هم شامل دے خپلې همدردۍ په وجه د امام حسېن(رض) په واقعه کربلا د معرکې نه پس راپېښې شوې دي لکه چې د مختار ثقفي کیسانیه فرقې د یزیدي ملگرو خلاف د اولاد علي(رض) بدل اخستل او د حضرت محمدالاکبر(رض) مرسته کول شامل دي

## (۱) حسن بن محمد الاکبر(رض) بن حضرت علي(رض)

محمدخواص خان گولړه په تحقیق اعوان چاپ شوي ۱۹۶۶ په لابي نصربخاري د لیکلو سلسلته العلوم په ۳۴۱ ھ په حواله لیکي چې حسن بن محمدالاکبر(رض) بن علي(رض) ډېر لوے عالم فاضل خطیب وۀ او د حضرت حسن بصري (رح) وعظونه به ئې جمع کول حسن بن محمدالاکبر(رض) بن علي(رض) دوي په ۹۵ ھ په حق رسېدلے دے.

## (۲) ابوهاشم عبدالله بن محمد الاکبر(رض) بن حضرت علي(رض):

ابوالحسن بن حسېن بن علي المسعودي ۳۴۶ ھ مروج الذهب ومعاون الجواهر په مشهور تاریخ المسعودي په ترجمه اردو کتاب نفیس اکېډمي کراچۍ کښې لیکي ابوهاشم حسن عبدالله جعفراکبر حمزه او د علي سکه ورور وۀ د دۀ د مور بي بي نوم اُم ولد وۀ ابن قتبه کتاب العارف تاریخ



الانساب کښې ابوهاشم دمحمدالاکبر(رض) زوے ښودلے دے اودمور ذکر ئې نۀ دے کړے. دې وائي چې د دۀ اولاد نۀ وۀ نورو تاریخونو هم د دۀ د اولاد په باره کښې ذکر نۀ دے کړے. ډاکټر زاهدعلي تاریخ فاطمین مصر حصه اول چاپ سوم ۱۹۷۳ء کتاب نفیس اکېډمي کراچۍ کښې ص ۳۸ باندې لیکي چې ابوهاشم عبدالله هشام بن عبدالمالک په زهرو وژلے وۀ. د ابو هاشم زوے نۀ وۀ. په وخت د مرگ ئې وصیت خپل حق د بنو عباس یو سړے محمدبن علي بن عبدالله بن عباس امامت د پاره حکم کړے وۀ.

د تاریخ هارون الرشید لیکونکے عبدالجبار الرجواهر په صفر ۲۷ کښې د محمدالاکبر(رض) د وفات کېدو نه پس خلکو په ابوهاشم د امامت اتفاق کړے وۀ. دراصل ابوهاشم او عبدالله یو نوم دے په وخت د شهادت کېدے شي چې دۀ کوم وصیت کړے وۀ هغه په زبردستۍ ولې نۀ وۀ یا په مصلحت سره شوے وي.

محموداحمد عباسي خلافت معاویه(رض) و یزید په صفحه۲۷۷ کښې لیکي ابوهاشم عبدالله بن محمدالاکبر(رض) د لور بي بي سیده لبابه وادۀ سعید بن عبدالله بن عمرو بن سعید بن العاص بن امیه سره شوے وۀ. دوي وائي چې عبدالله ابوهاشم علوي د شیعه فرقې کیسانیه سره تعلق لرو او هغوي ئې امام گڼې.

## (۳) جعفرالاکبربن محمد الاکبر(رض) بن حضرت علي(رض):

ابن قتبه په کتاب المعارف تاریخ الانساب کښې لیکلي دي جعفرالاکبر د محمدالاکبر(رض) زوے وۀ او د مور نوم ئې اُم ولد وۀ.

## (۴) حمزه بن محمد الاکبر(رض) بن حضرت علي(رض)

حمزه بن محمدالاکبر(رض) حضرت علي(رض) وۀ او د مور بي بي نوم ئې اُم ولد وۀ د دۀ هم اولاد نۀ وۀ.

## (۵) علي بن محمد الاکبر(رض) بن حضرت علي(رض)

ټولو تاریخ دانانو دا لیکلي دي چې علي د حسن عبدالله ابوهاشم جعفر او د حمزه سکه ورور وۀ. د مور بي بي نوم ئې اُم ولد وۀ بعضې شیعه ګان دې چې نوم ئې فرقه هاشمیه دے. اتم امام هم ګڼي د علي بن محمد اکبر(رض) اولاد ډېر وۀ. بعضې تاریخ دانان وائي چې علوي اعوان د دۀ سلسله نسب نه راروان دے او چې تحقیق وکړے نو علوي اعوان د دۀ د پشت نه دے.

## (۶) جعفرالاصغربن محمد الاکبر(رض)بن حضرت علي(رض)

تحقیق الاعوان کتاب مانسهره ۱۹۴۴ لیکونکے محمدخواص خان اعوان ګولړه په سراسلسلته العلویه چې په ۳۲۱ هـ کښې لیکلے شوے لابي نصر بخاري په حوالے سره چې جعفرالاصغر د محمدالاکبر زوے وۀ. دې صاحبِ اولاد وۀ. د یو نوم موسیٰ او دبل نوم عبیدالله وۀ. د دۀ نه نسل مخ په وړاندې تلے دے. په دۀ ډېرو تاریخونو خپلې خپلې تبصرې کړې دي خو د دې کتاب لمنه ډېره تنګه ده ځایول ګران دي.

## (۷) عون بن محمد الاکبر(رض) بن حضرت عليؓ(رض)

د عون بن محمد اکبر(رض) د مور بي بي نوم اُم جعفر ښودلے دے د ډېرو تاریخونو په حواله د دۀ اولاد نۀ وۀ.

## (۸) القاسم بن محمد الاکبر(رض) بن حضرت علي(رض)

سرالسلسته العلویه لابي نصر بخاري ۳۴۱هـ په حواله د القاسم د مور بي بي نوم نوفلیه وۀ د دغې قاسم نوم په وجه محمدالاکبر(رض) ته ابوالقاسم هم وئیلے شو. د دۀ سلسله اولاد مخکښې نۀ دے تلے ځکه چې دې بې اولاده وۀ.

## (۹) ابراهیم بن محمد الاکبر(رض) بن حضرت علي(رض)

دې هم د القاسم سکه ورور وۀ. د مور بي بي نوم ئې نوفلیه وۀ. ابن حزم جمرت النساب العراب کتاب کښې لیکلي دي چې د دۀ دوه زامن وو چې نومونه ئې داسې وو، اسماعیل او محمد د دوي اولاد په کوفه کښې وۀ.



## (۱۰) عمربن محمد الاکبر(رض) بن حضرت علي(رض)

د معتبرو تاریخونو په حواله د دۀ تاریخ ګمنامه دے.

## (۱۱) عبدالرحمٰن بن محمدالاکبر(رض) بن حضرت علي(رض)

اکثر تاریخونه وائي چې د عبدالرحمٰن تاریخ ګمنامه دے بعضې تاریخونو خو د محمدالاکبر(رض) زوے ښودلے دے د دۀ د اولاد څۀ پته نشته د دې نه پس دغه سلسله اولاد یعنې د دۀ نسب په تاریخونو کښې نۀ ملاوېږي.

## سیّد او علوي اعوان:

څنګه چې د مخکښې نه بیان شوے دے چې د حضرت علي(رض) اولاد د څلورمې یا پنځمې صدۍ پورې یو تاریخ دان دا نۀ دي ثابت کړے چې اولاد علي(رض) فاطمي او کۀ غېر فاطمي اولاد د خپل نوم سره سید نۀ دے لیکلے بلکې علوي به ئې لیکلو د علي(رض) اولاد به په یو ځاے د هر قسمه جدوجهد یعنې په شریکه هڅې کولې دوي چې چرته تلي دي هلته ئې یو ځاے کډې هم کړې دي. کۀ تاریخ وګورئ نو د محمدالاکبر(رض) او د عمرالاطراف اولاد په شریکه د حسنېنو(رض) د اولاد د امامت او خلافت د پاره حکمرانانو سره جنګېدلي دي او د خپلو کورونو نه بې کوره شوي هم دي. د اعوانانو نه چې کله دا تپوس وکړے شو تاسو د کله نه اعوان شوئ هغوي ځواب ورکړو چې د محمود غزنوي او سلطان سبکتګین څلورمه هجري دور ورته بیان کړے دے. سید او علوي صرف علویان وو سیدان نۀ وو. د دې ټولو حسب نسب په حضرت علي (رض) باندې ختمېږي. د دې نه پس فاطمي اولاد په سید او غېرفاطمي اولاد په علوي یا اعوان مشهور شو. پخواني سندهـ کښې او ملتان کښې علویان ځان ته

سېدان یا اعوان نهٔ وائي بلکې علوي وائي اعوان هغه خلک دي کوم چې د سالار قطب حېدر نه خپله سلسله نسب ملاوي.

قطب حېدر د محمد الاکبر(رض) بن علي(رض) د اولاد نه دے.

وخت او حالات د وخت سره سره د حضرت محمد الاکبر(رض) محمد حنیفه ټول اولاد د محمود غزنوي په دور کښې قطب شاه یا سالار ساهو په جهاد هند کښې شامل شو نو دا نور اولاد هم په اعوان مشهور شو یعنې هغوي د ځان سره اعوان لیکل شورو کړۀ. په هندستان پاکستان کښې چې څومره خاندان سېدان دي د دوي هندوستان ته راتګ یو لوے وجوهات هم دے. دوي دلته د اسلام د دعوت تبلیغ د پاره یا جهاد في سبیل الله له راغلي وو. دوي سره اعوانان هم یو ځاے راغلي وو بزرګان دین چې څومره دي او د دوي چرته مزارونه دي اکثر سېدان د دوي په ګدو ناست خلک یا ګېرچاپېره ابادي د اعوانانو وي. د سېدانو اعوانانو یو ځاے راتګ د دې خبرې غمازي کوي چې دوي د علویانو په حېث دلته کډې کړي یا راتګ کړے دے چې دا علویان د ایران او افغانستان په لاره پاک و هند ته داخل شول نو د تعارف د پاره غېر فاطمي اولاد د پاره اعوان او فاطمي اولاد د پاره سید یعنې سردار او مددګار نومونو باندې بېل بېل مشهور شو. دا سېدان یاعلویان چې په کومو لارو پاک هند ته هجرت کړي دي راغلي دي د هغوي مختصر شان د راتګ حال.

## په مصر کښې د علویانو حکومت:

ادریس علوي ۱۷۴ ھ نه تر ۱۷۵ ھ مدینه کښې د حسېن بن علي بن حسن مثلث بن حسن مثنیٰ بن حسن سبط د دوي ترۀ ادریس او یحیٰ د نورو علویانو سره ملګرے شو او د خلافت اواز ئې پورته کړو. دغه وخت د خلیفه مهدي خلافت وۀ. د علویانو د خلافت قایم کېدو په وجه د مصر خلافت دپاره لویه خطره جوړه شوه. د مکې نه تر درې میلو پورې جنګ د



علویانو او خلیفه مهدي تر مېنځه وشو. په دغه جنګ کښې د علویانو سردار حسېن بن علي شهید شو، نور ډېر فوځیان شهیدان شو، څوک قېد شو، د حسېن بي علي ترۀ ادریس مصر ته وتښتېدۀ. د یو خپل خادم سره المغرب الاقصیٰ ته ورسېدۀ. دغلته ئې پناه واخسته. د دغه ځاے حاکم محمد بن عبدالحمید ادریس ته د آل رسول(ص) په وجه پناه ورکړه او ورته ئې ووې چې د اسلامي حکومت جوړولو د پاره مشوره هم وکړه. په دغه علاقو رواغه لور ته سدراته غیاثو نقره کلنامه غماره وغېره د بربریانو شمېره ډېره وه. دې خلکو اسلامي حکومت غوښتو چې دوي ته پته ولګېده چې ادریس علوي راغلے دے، دوي ډېر خوشحاله شو. دې ئې دخداے رحمت ګڼلو او بیا دوي ادریس علوي خپل حاکم کړو. دغې خلکو د ادریس علوي بېعت هم وکړو. ادریس علوي په دغه موقع خپل تقریر کښې ووې چې خپل سرونه اوچت کړئ ماسوائے د نورو خلکو ته مهٔ ګورئ ځکه چې تاسو ته به هدایت زما په خبرو منلو کښې ملاوېږي.

د ادریس علوي حکومت قایم شو او خپل فوځونه ئې هم جوړ کړل. په دغه موقع د مغرب نه ځني بربریان چې اسلام ئې قبول کړے نهٔ وۀ. دا خلک مجوسي نصراني او یهودي عقیدې منونکي وو. علوي په دوي هم حمله وکړه چې برے ئې بیاموندو او د اسلام دعوت ئې ورکړو چې اسلام کښې داخل شئ. هغوي زر اسلام قبول کړو. دوي دغلته جوماتونه او قلعې جوړې کړې. دا حکومت د دولت ادریسیه په نوم مشهور شو. عباس خلیفه هارون الرشید د علوي حکومت خلاف هلې ځلې شورو کړې او د خلیفه مهدي یو منصبدار سلمان بن جریر ئې جاسوس مقرر کړو او دې په څۀ چل دعلوي دربارته ولېږلو. په دربار کښې د هرقسمه رسېدلو نه پس ئې ځان له ځاے پېدا کړو او په ۱۷۵ھ کښې دغه سلمان بن جریرادریس علوي له زهر ورکړۀ او دې ئې مړ کړۀ. ادریس علوي د مړ کولو نه پس عباسي

خلافت په خپل مقصد کښې کامیاب نۀ شواوبیابربریانود ادریس علوي زوے خلیفه کړو، حالانکې هغه نابالغ وۀ نو په ۱۸۸ ھ کښې باقاعده د خلافت بیعت واخستو۔

محمدبن ادریس ۲۱۳ ھ تر ۲۲۱ ھ پورې کامیابۍ سره حکومت کولو خو اخر محمدبن ادریس وفات شو۔ بیا د دۀ زوے محمد تخت نشین شو۔ بیا په خپلو کښې په تقسیم جګړې شورو شوې۔ بیا وروستو د دۀ زوے تخت نشین شو علي بن عمر بن ادریس ۲۲۱ ھ تر۲۳۳ ھ پورې کامیابۍ سره حکومت چلولو۔ په ۳۳۴ ھ وفات شو۔ بیا د دۀ زوي یحیٰ حکومت ترلاسو کړۀ۔ وائي چې د دۀ په دور کښې حکومت ډېره ترقي کړې وه۔

د یحیٰ د مرګ نه پس د هغۀ زوے حکمران جوړ شو خو کامیاب نۀ شو۔ خلک خفه وو۔ خلکو د دۀ خلاف بغاوت وکړو۔ یحیٰ اندلس ته وتښتېدۀ۔ دې نه پس علوي حکومت انجام ته ورسېدو۔ د دۀ نه پس علي بن عمر حکومت ترلاسو کړو۔

## دریمه صدي هجري دسلاطین علویه دورحکومت

دریمه صدي هجري د سلاطین علویانو دور حکومت شمارلے شي۔ داسلطنت د علویانو تقریباً ۲۵۰ کاله د ۳۰۳ نه تر ۵۶۷ کالو پورې په ډېرو ښوچرچو روان وۀ۔ د دې لوے علوي حکومت عبیدالله المهدي بن حسین اتقي بن احمد الوفي بن عبدالله بن محمدبن اسماعیل بن صادق جعفربن محمدباقر بن علي زین العابدین(رض) بن حسین(رض) بن علي(رض)۔ داهغه زمانه وه چې دبغدادنه تراندلس پورې د علویانو د لرې لرې پورې حکومت وۀ چې په تاریخ کښې دعلویانواوفاطمین مصرپه نوم مشهوروۀ۔ د علویانو په دې دور کښې جامعه الاظهر مصر، جامع مضریه، جامع نور، جامع حاکم او داسې نور د قدر وړ عمارتونه جوړ شوے وو چې تراوسه ئې نمونه په تاریخ کښې ژوند دي۔



تاریخ دان احسان الله عباسي په تاریخ اسلام کښې په صفحه ۴۲۲ لیکي چې د دریمه صدئ هجرئ په اخره کښې یو زبردست د علویانو مملکت جوړ شوے وۀ چې مغرب باندې ئې لاس برے هم وۀ، څۀ موده پورې خو د اندلس پورې د علویانو بادشاهت وۀ، څۀ موده مکه مدینه او په شام د علویانو ډېر زور شور وۀ۔ خطبه بغداد کښې د مستنصر علوي نوم اخستے شو۔ په اندلس مستقل او لوے حکومت سلطنت اسلام د علویانو په لاس وۀ۔ د علویانو بااختیاره خلیفګان او د عباسي پابند احکام شریعت د کبله عیسائي تاریخ دانو تعصب کولو۔

علامه علي حیدر لیکي چې سلاطین علویه فاطمین په نوم مشهور وۀ دا د امام جعفر د نسل نه وۀ د امام جعفر صادق زوے اسماعیل څوک چې د دوي مشر زوے وۀ په خپل ژوندانۀ په حق رسېدلے وۀ خو د دۀ وادۀ شوے وۀ او د دۀ یو زوے هم وۀ چې نوم ئې محمد وۀ۔ بیا د دۀ زامن چې نومونه ئې دا وو عبدالله الراضي بیا د دۀ زوے الوفي د دۀ زوے حُسن التقي بیا د دۀ زوے عبیدالله المهدي چې خلفائے فاطمین یو لوے بزرګ هم وۀ۔ په دې وجه ورته اسماعیله وائي، اثنا عشري فرقې خلک شش امامي هم وائي ځکه چې د دوي دولس امامان نه شپږ امامان مني او د امام جعفر صادق نه پس امام موسیٰ کاظم نۀ مني بلکې د اسماعیل زوے محمدامام مني او د دې خبرې قائله دي چې امامت صرف د اسماعیل د اولاد حق دے او دا به تر قیامته پورې وي۔ د پاکستان او هندوستان د بوهده یانو (یعنې بودهي) او آغاخان شیعه ګانو دغه عقیده ده۔

تاریخ دان ذاکرحسین لیکي چې ۲۱ ربیع الاول۲۲۷ ھ نه ۹۰۹ھ دا مملکت جوړ شوے وۀ، په دغه اوچته زمانه کښې د بحرظلمات او صحرا د شام پورې او د بحر روم نه صحرائے اعظم افریقې پورې خور وور شوے وۀ۔ مراکش بلادالجزائر تیونس طرابلس برقه مصر شام حجاز

یمن جزیره عقلیه او د بحر روم بعضې جزیرې په دغه مملکت کښې شاملې وې. ډېره موده خو په مصر کښې د علویانو چرچې وے، د خاندان فاطمیه او خاندان علویه شان و شوکت او تجارت د بحر روم د خوشحالۍ باعث وۀ.

## ابوقاسم محمد القاسم بامرالله:

د ابو عبدالله د حق رسېدو نه پس د دۀ زوے ابو قاسم محمد امام شو او د عنان مملکت ئې ترلاسه کړو دۀ ۳۲۲ هـ په بحر روم حمله وکړه. د جزیره سردانیه وغېره کښې ئې ماتې ګوډې وکړې او د لویدیز اقصیٰ ترلاسو واخستو د هغه ځاے حاکم ئې ونیوۀ چې نوم ئې موسیٰ وۀ د ابو قاسم هم چرچې د لویدیز پورې خورې شوې. په ۱۳ شوال ۳۳۴ هـ په حق ورسېدو او د مرګ نه پس ئې خپل زوے په کرسۍ وتاکلو.

## ابو محمد عبدالله المهدي:

ابومحمدعبدالله المهدي ۱۲ شوال ۲۶۰ په ځاے سلمیه یا کوفه کښې پېدا شوے وۀ. دې د فاطمین علویه باني یعنې وړومبے سړے وۀ. دۀ د قېروان مملکت فاطمیه علویه دارالخلافه ګرځولې. وه په طرابلس ئې قبضه وکړه او په مصر کښې داخل شو. دا د خلیفه مقتدر عباسي زمانه وه. عباسیانو حمله وکړه خو ابو محمد ورله ماتې ورکړه او مراکو باندې ئې برے بیاموندواوپه خپل مملکت کښې ئې شامل کړو. دابومحمد مملکت مصر بحر ظلمات او بحیره روم نه صحرائے اعظم افریقه پورې خور شوے وۀ. ابو محمد ځلیریشت کاله پورې ډېر په مینه جلال سره حکومت کړے وۀ او ۱۵ ربیع الاول ۳۲۲ په دوه شپېتۀ کاله په عمر کښې په حق رسېدلے وۀ.



## ابو تمیم المعزالدین الله:

د دې خلیفه نوم لقب معزالدین وۀ. د پلار د مرګ نه پس ۳۴۱ د حکومت ذمه واري ترلاسو کړه. په ۲۱ رمضان ۳۲۱ د مهدیه په ځاے پېدا شوے وۀ. مصر عراق شام مکه مدینه سکندریه باندې د دۀ د اثر لاندې ډېر په چرچو حکومت کولو. په ۳۵۲ هـ کښې جزیره صقلیه د رومیانو په قبضه کښې وه. تباه وبرباده کړه او په ټولو نورو ملکونو د فاطمي خلیفاګانو حاکمانو حکم چلېدلو. په ۳۵۷ هـ کښې د اهل مصر په خواست ابوالحسن جوهر مصر ته روان کړو. د بادشاه په حکم غلام جوهر جامعه الاظهر مصر د جوړولو تابیا وکړه چې د دې وخت سره هم د دنیا د اهل اسلام لویه یونیورستي دۀ جوړه کړه.

د دې نه پس جوهر مصر شام خپله قبضه کښې راوستے. د عباسیانو خطبه ئې ختمه کړه او فاطمي بادشاه خطبه ئې جاري کړه. ابو تیمم المعزالدین الله درویشت نیم کاله حکومت وکړو او په ۳۶۵ هـ کال کښې په حق ورسېدو.

## ابوطاهر اسماعیل المنصور باالله:

دۀ د خپل پلار نه پس د مملکت اختیارات ترلاسو کړۀ. د دۀ پېدائش نېټه ۲۱ رمضان (روژه) ۳۱۹ هـ د مهدیه په ځاے شوے وۀ. دۀ چې حکومت ترلاسو کړو نو د ابویزید بغاوت ورله مخې ته شو چې د بلاد سودان په ځاے ډېره سخته معرکه وشوه ابویزید مړ شو. د اندلس خلیفه ناصردلویدیزمغرب اقصیٰ باندې قابض شو. ابوطاهر اسماعیل اووۀ کاله حکومت وکړو. ۲۸ شوال ۳۴۱ کښې په حق ورسېدۀ.

## ابو علي الحسين الحاکم بامر الله:

ابو منصور په خپله زندګۍ کښې خپل زوے نائب ګرځولے وۀ. په ۲۵ رمضان ۳۸۶ د تخت وارث شوے وۀ. د دۀ پېدائش په ۳ ربيع الاول ۳۷۵ کښې په قاهره کښې شوے وۀ. ۳۸۶ په روم حمله کړې وه. د روم بادشاه سره ئې لس کلنۍ روغه کړې وه. په مياشت شوال ۴۱۱ هـ قاهرې ته روان وۀ چې په لار کښې پرې حمله وشوه او په حق ورسېدۀ.

## ابو منصور نزار الغزيز بالله:

د دۀ پېدائش ۱۴ محرم ۳۴۴ په مهديه کښې شوے وۀ. د خپل پلار د مرګ نه پس ئې حکومت ترلاسه کړو. د دۀ په دور حکومت کښې ډېر ښکلي ځايونه جوړ شوي وو. د دۀ په دور کښې حمات شيراز حلب باندې برے بيامونده. د دريائے فرات د لويديز اقصیٰ پورې او د يمن پورې ځايونه علاقې ترلاسو کړے وے. په ۲۸ رمضان په حق رسېدلے وۀ

## ابو تيمم مهد مستنصر بامر الله:

دې د سلطنت علوي اتم خليفه وۀ په ۴۲۰ هـ په قاهره کښې پېدا شوے وۀ. دۀ تقريباً شپېتۀ کاله حکمراني کړې وه.

د دۀ درې زامن وو (۱) نذار (۲) احمد مستعلی (۳) محمد وو. دې په ۴۸۷ ذی الحج مياشت په حق ورسېدۀ.

د مستنصر د مرګ نه پس ۱۸ ذی الحج ۴۸۷ هجرۍ د مستعلی بېعت په عمل کښې راغے (تاريخ فاطمين مصر) د مستعلي مشرورور نذار هم د خلافت دعوه ګير شو د مستعلي وزير افضل هغه له ماتې ورکړه او هغه ئې قېد کښې بند کړو. د نذار زوے د قېد نه راخلاص شو حجم ته لاړو هلته ئې دعوت تبليغ شوروکړو، هغه وخت نه د اسماعيلو فرقو بېلې بېلې شوې يوه فرقه نذار او د هغۀ اولاد امام مني. او دوي خپل



دغې فرقې ته نذاريه وائي. دا خلک د حسن بن صباح تقليد کوونکي. دي هندوستان او پاکستان کښې آغاخاني خوجې د دې فرقې سره تعلق لري او دوېمه فرقه مستعلي خپل امام ګڼي او د خپل ځان مستعليه وائي. دا خلک شيعه بوهدے دي. پاکستان او هندوستان کښې د دوي ابادي شته.

د مستعلي په زمانه کښې په ۴۹۲ کښې په بېت المقدس باندې صليبيانو حمله کړې وه او اخر دا چې بېت المقدس ئې په خپله قبضه کښې اخستے وۀ. مستعلي په ۴۹۵ هـ په حق رسېدلے وۀ چې عمر ئې ۲۸ کاله وۀ.

## ابو معد علي الظاهري الاعزاز دين الله:

په کال ۲۷ شوال ۴۱۱ کښې حاکم قتل شو يا غائب شو. په لسمه نېټه د خپل زوي نه بېعت واخستو. په ځلورسوه شپاړلس کښې فقه مالکه فرقې خلک د مصر نه وخکل لرې کړل او د امام شافعي مسلک اثر ئې په خلکو باندې ومنلو. د دۀ په دور کښې د علويانو نه تلې علاقې بيا واخستې او د علويانو حکمراني ئې په ځاے کړه. په ۴۱۳ کښې ئې د محمد بن سبکتګين سره سفارتي تعلقات قايم کړۀ. په دې شان عباسي خليفه قادر باالله سره ئې هم دوستي وه. ظاهر په لسمه شبقدر مياشت ۴۲۷ هـ کښې په حق ورسېدۀ. د دۀ نه پس د دۀ زوے مستنصر د حکومت ذمه دارۍ ترلاسو کړې.

## ابو الميمون عبد المجيد الحافظ الدين بن الله:

د حافظ مستنصر د پلار نوم محمد عبدالله بن مستنصر وۀ دې په ۴۶۷ هـ پېدا شوے وۀ. ۵۲۴ هـ تخت نشين شوے وۀ او په ۵۴۴ هـ په حق رسېدلے وۀ.

## ابوعلي منصور الامر باحکام الله:

ابوعلي د علویانو لسم خلیفه وۀ دې په ۱۳ محرم ۴۹۰ھ کښې پیدا شوے وۀ. د پلار د مرګ نه پس په تخت کښېناستو په حواله تاریخ ذاکرحسېن وائي چې د دۀ په وخت عیسایانو سره جنګ شوے وۀ او مسلمانانو برے بیا موندے وۀ. دغې عیسایانو ته به ئې اهل فرنګ وئیل په دغه وخت په شام کښې یو خاندان د نذاریه په نوم په طاقت حمکرانی کښې راغلې وه او په څۀ علاقو د علویانو بالادستي وه. د ابوعلي منصور خپل اولاد نۀ وۀ نو د خپل ترۀ حافظ په حق کښې ئې ولي عهد مقرر کړو په ۵۲۴ھ کښې په حق ورسېدۀ.

## ابوالقاسم عیسیٰ الفائزبامرالله:

ابوالقاسم عیسیٰ الفائزبامرالله په ۵۴۲ھ کښې زېږېدلے وۀ او په ۵۵۵ھ کښې په حق رسېدلے وۀ. د دۀ په دور کښې ډېر کمزورے خلافت وۀ.

## ابومنصور اسماعیل الظافرلاعداء الله:

عبدالمجید الحافظ احمد خپل وړوکے زوے اسماعیل جان تخت نشین کړے وۀ. دې په دغه وخت د شپاړلس یا اولس (۱۷) کالو وۀ. دې په ۵۲۷ھ پیدا شوے وۀ او په ۵۴۴ھ تخت نشین شوے وۀ. په ۵۴۸ھ د فلسطین ښار عسقلان علویانو نه د همېشه د پاره د لاسه ووتو او عیسایانو پرې قبضه وکړه. وزیر عباس خلیفه خپل کور ته مېلمه کړو او هغه ئې مړ کړو او دغه شان اسماعیل الظافر حکومت ختم کړے شۀ. په ۵۴۹ھ کښې په حق رسېدلے وۀ.

## ابو محمد عبدالله العاضدالدین الله:

ابو محمد عبدالله العاضدالدین الله په ۵۴۶ھ کښې پیدا شوے وۀ او د ترۀ زوي فائز د مرګ نه پس په تخت ناست وۀ. د دې خلیفه په وخت



اهل فرنګ ساحل مشرق و مغرب تلل راتلل چې مصر باندې قابض شو، غېر مسلمانان په مصر قبضه کول نورالدین محمود ته ګران پرېوتل. والئي شام دمصردامداد دپاره فوځ راولېږۀ چې په اهل فرنګ باندې غالب شو. شامیانو اهل فرنګ د مصر نه لرې کړل خو په خطبه به د عاضد په ځائے د مستغي باالله عباسي نوم اخستو په دغه زمانه کښې عاضد هم مړ شو او د دۀ سره د سلطان علویه اسماعیلیه حکومت ختم شو او د بنو مهدي وران کړے شو. تاریخ اسلام (۴۲۷)

## مدینه منوره کښې علوي حکومت:

تاریخ ابن خلدون کښې بیا د بني جعفر یو سړے ابراهیم بن محمدعلوي بن یحیٰ بن عبدالله بن محمدالاکبر(رض) بن علي(رض) بیان د احمد بن طولون سره په مقام صعید کښې ۲۵۷ نه ۲۵۹ هجري پورې معرکه ارائي په عنوان کښې راځي. ابراهیم علوي چې د صوفي په نوم سره یادېدۀ تاریخ ابن خلدون جلد شپږم څلورمه صدی هجری پورې د محمد الاکبر(رض) اولاد په مقام صعید کښې موجود وۀ او په سیاست کښې ئې ډېر زور شور سره حصه اخسته. بني حسېن نه پس ظاهر بن مسلم د مدینې حکومت ترلاسو کړو

## ظاهر بن مسلم علوي:

ظاهر بن مسلم بن محمد بن عبیدالله بن ظاهر بن یحیٰ محدث بن حسن بن جعفر د شیعه ګانو سره نزدې دے. د حجته الله بن عبیدالله بن حسېن اصغر بن زېن العابدین په نومونو مشهور دي(ابن خلدون پنځم جلد) د ظاهر د وفات کېدو نه پس د دۀ زوم او د ترۀ زوي داود بن قاسم بن عبیدالله ظاهر په مدینه منوره حکومت کړے وۀ. حسن بن ظاهر او د هغۀ د ملګرو د سلطان سبکتګین له خراسان ته لاړل او هلته کښې وسېدل. تاریخ ابن خلدون اتمه او د حصه پنځم ص ۲۴۱ د سبکتګین خاندان سره

د اولاد محمد الاکبر علویانو تلل راتلل- د سن څلورمې صدۍ هجرۍ نه راروان وو- بیان کوي چې ۳۶۵ھ معزالدین الله علوي د افریقې نه مصر ته تلے وو او په قاهره کښې څۀ ورځې ایسار شوے وۀ- د مسلم د یوې لور تپوس ئې کړے وۀ چې نکاح ورسره وشي- مسلم د رشتې نه انکار وکړو. په دې باندې معز خفه شو او مسلم ئې ونیوۀ، جېل ته ئې واچوۀ چې په قېد کښې په حق ورسېدۀ-

ابن خلدون د نصرحجازي تاریخ دان په حوالې لیکي چې قاسم بن حجاز بن قاسم بن مهني ملوک به مدینه منوره کښې وۀ او د حسېن(رض) بن علي(رض) د اولاد نه وۀ- دۀ له خلیفه مستفي له د مدینې منورې حکومت ورکړے وۀ او پنځویشت کاله حکومت ئې کړے وۀ- د دۀ د مرګ نه پس د دۀ زوے سالار علوي د هغۀ زوے؟؟؟ سالم د مدینې منورې حکمران وۀ دا ټول حکمرانان د علوي خاندان سره تعلق لرو- ابن خلدون حصه پنځم ۲۴۲.

## په مکه معظمه د علویانو حکومت:

داؤد بن حسن مثنٰی په مکه معظمه باندې حکومت کړے دے-

## په صعید باندې علوي حکومت:

ابراهیم بن محمد علوي دے چې کله د مدینې نه لرې کړلو دوي صعید ته هجرت کړے وۀ بیا وروستو د ډېرو معرکو نه پس دغلته ئې هم حکومت کړے دے-

## صعره (یمن) کښې د علوي حکومت:

صعره یو غر دے چې د صنعاپه ختیز مشرق طرف دے- په دې کښې ډېرې قلعه ګانې وے چې د صنعا په حکومت کښې شاملې وے- محمد بن ابراهیم ملقب به طباطیابن اسماعیل بن ابراهیم بن حسن داعي



علوي نسل نه وو- ابراهیم طباطیا چې د خلیفه مامون الرشید په زمانه کښې د نیولو د ویرې سندھ اړخ ته تښتېدلے وۀ- دغلته په ۲۴۵ھ کښې په حق رسېدلے وۀ- د مرګ نه پس د دۀ زوے واپس یمن ته راغلے وۀ- په مقام صعده کښې ورځې تېرې کړې وے- حسن بن ابراهیم دنسل نه عیسٰی بن حسېن بن قاسم علوي په ۲۸۸ھ کښې خپل حکومت قایم کړے وۀ او د ابراهیم بن یعفر سره معرکه وشوه- صنعا او بحرین باندې قبضه کړې وه خو دا قبضه ډېره پورې ونۀ ساتلے شوه- د دۀ زوے مرتضٰی علوي نهه ویشت (۲۹) کاله حکومت کړے وۀ- په ۳۲۰ ھ په حق رسېدلے وۀ- د دۀ نه پس دمرتضٰی وروروالناصراحمد علوي حکومت ترلاسو واخستو د دۀ نه پس حسېن حکمران شو- ۳۳۴ھ په حق ورسېدۀ- د دۀ وررور قاسم مختیارعلوي۳۴۴ھ دے، بیا ابوالقاسم ضحاک همداني مړ کړو او دې سره د علوي حکومت ختم کړے شو-

## امارات علویه ویلم او جبل او طبرستان:

حسن بن زېد علوي ۲۵۰ھ دۀ د خلافت عباسي په دور کښې پنځۀ کاله حکومت کړے وۀ-

## قزوبن باندې قبضه:

حسن زېد علوي چې نامه ور سپه سالار وۀ قزدین باندې دۀ برے بیاموندلے وۀ-

## علوي او محمد بن عبدالله (مهدي):

(د ۱۵۸ھ نه تر ۱۶۹ھ پورې) په سن ۱۵۸ھ کښې مهدي بن ابوجعفرمنصورعباسي حکومت ترلاسوکړے وۀ- د خلیفه مهدي په دور کښې د علویانو سره ډېر ظلمونه شوي وو- د دغه ظلمونو ذکر په تاریخ طبري حصه۸ صفحه ۴۶۱مخ باندې لیک دے- یوه ورځ مهدي یعقوب

بن داؤد راوبللو. یعقوب د مهدي په دربار کښې حاضر شو چې ګوري
خلیفه په یو داسې ښکلې ځاے کښې ناست دے چې په کښې ګلابي فرش
غوړېدلے دے، ګېرچاپېره ټول ماحول ګلابي ګلابي وۀ، په هرلورې د
ګلابونو رنګونه خوارۀ وو، دۀ چاپېره ماحول نه سمې مزې په نظر کښې
اخستې نۀ وے چې یوه ښکلې بې مثله جینۍ ناسته وه چې د حسن
ښاپېرۍ ګڼلې شوه. دۀ ووې چې ماداسې منظر په زندګۍ کښې لیدلے نۀ
وۀ. د کمال خبره خو دا وه چې دې جینۍ هم ګلابي جامې اغوستې وے.
ټول رنګونه ګلابي ګلابي وو. خلیفه یعقوب ته ووې چې نن څنګه
محسوسوې. یعقوب ووې امیرالمؤمنین ډېر ښکلے تاسو ته دے مبارک
شي. امیرالمؤمنین دا هرڅۀ زۀ تاسو له درکوم چې تۀ د دې محفل نه ښې
مزې واخلې. دا هرڅۀ واخله او دا ښکلې جینۍ هم واخله دا هرڅۀ ستا شو
او امیرالمؤمنین ته ئې ډېرې دعاګانې وکړې. د دې نه پس خلیفه ووې چې
تاسوسره مې ضروري کاردے. دخلیفه د دې خبرې سره په یعقوب ویره
راغله چې ګني خلیفه زما نه خفه دے. زۀ د امیرالمؤمنین نه د الله پناه
غواړم. یعقوب زر د خپل ځاے نه راوچت شو. خلیفه ووې نه داسې خبره نۀ
ده خبره دا ده چې تاته زما د خدمت ضرورت پېښ شوے دے. زۀ غواړم
چې تۀ زما دغه کار وکړے خو تۀ به زماسره وعده کوې او زماسره د
وعدې پاسداري به هم کوې. یعقوب ووې چې څۀ حکم کوے زۀ به ئې
سرته رسوم یعقوب درې پېرې اقرار د خلیفه سره وکړواوبیائې ورته ووې
زۀ په سر لاس کېږده یعقوب هم دغه شان وکړۀ اوقسم ئې تېرکړۀ چې
ستاد حکم پاسداري به کوم چې خلیفه د یعقوب نه وعدې واخستې نو بیا
ئې ورته ووې چې فلانے بن فلانے علوي پېژنے ستا ورسره ډېر تعلق دے،
زۀ غواړم چې هغه ختم کړے او دا کار ډېر زر وکړے. یعقوب ووې چې
ډېره ښه ده خلیفه ووې دا ټول سامان دا جینۍ او یو لاکه درهم زۀ تاته



بخښنه کوم. یعقوب دا ټول سامان درهم او جینۍ کورته رورسوله. یعقوب
ووې زۀ د دې جینۍ او سامان او درهم سره څۀ بل شان شوم. زۀ دومره په
ځان نۀ پوهېدم چې ما کله دغه علوي راوغوښتو نو صرف یوه پړده وه.
ماچې علوي سره خبرې کولے زما نه دا هېر وو چې دا خبرې به دا جینۍ هم
واوري. ما علوي ته ټول حال احوال ووې، علوي خو اول ډېر ویرې واخستۀ
اویعقوب ته ووې چې تۀ ماقتل کوے، یادساته زۀ د فاطمې د پلار
محمد(ص) د اولاد نه یم، یاد ساته الله ته به مخامخ کېږے، کۀ نه یعقوب
علوي ته ووې یاد ساته هېڅ کله به داسې ونۀ شي. زۀ ښۀ سوچ ستا د بچ
کېدو کوم. علوي ووې کۀ تۀ ښۀ سوچ زما د پاره کوے زۀ به د الله تعالٰی نه
ستادپاره دعاګانې غواړم، زۀ به ستاشکرګزار یم. یعقوب علوي ته ووې
چې خپل ملګري د چا سره چې ستا نزدې تعلق دے هغوي زمونږ کور ته
راوله. یعقوب ورته د بچ کېدو د پاره خپل منزل وښودلو چې فلانے نوم
ښار ته به لاړ شې ۔ ۔ ځان سره به دا یو لاکه روپۍ واخلې خپل منزل به د
شپې د تیارې نه کوے. یعقوب چې کومې خبرې علوي ته کولې هغه ټولې
خبرې به هغه جینۍ اورېدې او دغه خبرې ئې د خپل خادمې په ذریعه
خلیفه ته نېغ په نېغه ورسولې هغه جینۍ ورته ووې چې ستا د هغه ښو دا
اجر وۀ چې تا دځان نه هم غوره ګڼلو. خادمې هغه ټوله قیصه مهدي خلیفه
ته ووئیله. مهدي زر خپل کسان ولېږل او ټولې لارې ئې ورته بندې کړې،
سختې لټنې شورو شوې، څۀ وخت پس علوي او ملګري ونیول شو او
مهدي ته ئې مخ کړل او یعقوب ئې هم حاضر کړۀ. هغه علوي چې دې باره
کښې بې خبر وۀ دا خبره ئې په ذهن کښې هم نۀ وه مهدي په کرسۍ ناست
وۀ او د ښېرې جاړه ئې په لاس کښې نیولې وه. مهدي د یعقوب نه تپوس
وکړو چې د علوي دې څۀ چل وکړو. یعقوب ووې امیرالمؤمنین له مې د
هغۀ نه نجات ورکړو. خلیفه ووې مړ دې کړو. یعقوب ووې او. خلیفه ووې

ربنتیا وایي. خلیفه ووې زما په سر لاس ربنتیا وایي. یعقوب ووې چې ربنتیا وایم. خلیفه ووې زما په سر لاس کېږده. یعقوب د مهدي په سر لاس کښېښودهٔ او قسم ئې وخوړو. خلیفه مهدي غلام ته حکم ورکړو چې هغه کسان حاضر کړه، په کومه کوټه کښې دي. غلام دروازه خلاصه کړه او هغه علوي او د هغهٔ ملګري ئې بهر خلیفه ته حاضر کړل او هغه رقم کوم چې یعقوب دوي له ورکړے وهٔ دا هر څهٔ چې یعقوب ولیدل د ېښو نه ئې ساه لاړه او ژبه ئې تته شوه. مهدي ووئیل زړهٔ خو مې غواړي چې تا قتل کړم خو زهٔ تا په جېل کښې قېدوم سرکاري اهل کارو ته ئې ووئیل دې په جېل دننه بندي کړئ او دې د جېل داسې کوهي ته وغورزوئ چې یاد وساتي. یعقوب ډېره زمانه په جېل دننه وهٔ، چې ازاد شو د سترګو نظر ئې هم تلے وهٔ او لوے لوے وېښتهٔ ئې لکه د ځناورو په شان راختلے وو. تاریخ طبري او د جلد آتمه ص ۶۳-۴۶۱ دا واقع مې څکه بیان کړه چې عباسیانو په علویانو کوم کوم ظلمونه نهٔ دي کړي. د عباسیانو دا خیال وهٔ کهٔ چرې هم علویانو سیاسي ځانګونه پورته کړل نو اولاد علي(رض) علویان به برے مومي. دوي سره صرف د خلافت غم وهٔ. د محمدالاکبر(رض) اولاد شجره نسب مکمل ملاوېږي علویان په ډېر شمېر سره په طبرستان کښې مېشته وو. مهدي د خپل پلار او نیکونو په نقش قدم تلو او په طبرستان ئې حمله وکړه. هلته امن وهٔ او امن ته هېڅ خطره هم نهٔ وه او دا خبره وه چې په ډېر شمېر سره علویان موجود وو د دوي د سکون د بربادولو هڅې ئې کولے چې دوي عباسیانو ته رانېغ نهٔ شي.

## محمدبن علوي او د دهٔ پرېوتل

په ۲۵۳ھ کښې موسیٰ بن یفانے د دارالخلافه په مدد سره په محمد بن زېد باندې حمله کړې وه، چې کامیابه شوې وه. په دغه جنګ کښې علوي حکومت د قزوین نه لاسونه ووېنځل او ورپسې کرج هم د علویانو نه خالي شو.



## علویان د عباسیانو د سترګو ازغي:

د علویانو خلافت باندې د عباسیانو قبضه د علویانو ډېر زور په دې اړخ وهٔ چې هر څنګه وي خو اُمیانو حکومت ختم کړے شي او چې نوے دور شورو شي. دلته د ابي هاشم بن محمدالاکبر(رض) دا وصیت کړے وهٔ چې علویان دې د عباسیانو مدد شورو کړي. دغه شان شیعه ګوندونو هم د علویانو په خبره لبېک ووې. د دې نه ابو مسلم خراساني فایده اوچته کړه او د مروان حکومت ئې ختم کړو او جنډه بېرغ د عباسي منصب د ورور په لاس کښې راغله. د محمدالاکبر اتباع کوونکي خبره منونکي په عراق او په خراسان کښې بې شمېره وو او د دهٔ اولاد په دغه علاقو کښې اباد شوي وو نو ابوهاشم بن محمد الاکبر(رض) د وصیت مطابق امامت محمدبن علي بن عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب ته وسپارلے شو. ټولو دې امام ومنهٔ او دهٔ نه ئې بېعت وکړواو دغه شان عبدالله بن عباس حکومت ترلاسه کړویعنې د علویانو په مرسته عباسي خاندان ته حواله شوحالاتکې دعلویانو د ډېرو قربانو په وجه دعباسیانوحکومت په عملي وجودکښې راغلے وهٔ. د ابن خلدون د وېنا مطابق دولت شیعه شوروعات کړي وو. د شیعه ګانو بعضې فرقې د کسیانیه په لقب یاد وے. دا هغه خلک وو چې د علي(رض) یا محمدالاکبر(رض) د امامت قائله وو او بیا ئې ابوهاشم عبدالله امام منلو په وجه د وړاندې وصیت او بیا ئې د دوي امام ته امام ووې د بني امیه د ختمېدو نه پس بنوعباس چاچې د اهل بېتو په دعوت د بنو عباس تیګه کښېښودې وه او چې کامیاب شو او تخت نشین شو نو د اهل بېتو اولاد علي(رض) د توقع خلاف دوي سره ترخه رویه وساتله ټول خپل خلک ئې ګورنران او وزیران واخستل چې د چا په مرسته ئې حکومت اخستے وهٔ د هغوي سخته نګراني شورو کړه. یو ځاے په بخارا کښې دېرش زره کسانو

د بغاوت اعلان هم وکړو خو د ابو مسلم د زور تاب ئې ونهٔ لرلو دوي به
خپل دښمنان امیان نه بلکې علویان ګڼل. دوي چې څومره هم حکومت
کړے دے علویان ئې په نخښنه کړي وو. ابوالعباس ۱۳۶ھ کښې په حق
رسېدلے دے او حکومت ئې خپل ورور خلیفه ابوالنصرته سپارلے دے.

## په علویانو د بنو اُمیه او عباسیانو ظلمونه:

د کربلا د واقع نه پس د حضرت علي(رض) اولاد د ډېرو سختو
سره مخ شو، تر دې چې د افریقې په ملکونو کښې ځاے په ځاے د
زندګۍ ساه ګانې اخستې، نور خو د هرڅهٔ نه بې نیازه وو خو د علي(رض)
د اولاد په وجه چې مونږ به د انسانیت خدمت کوو او د توحید اواز به کهٔ په
پټه وي کهٔ ښکاره، دا فرض به پوره کوو.

## علوي اعوان د حضرت عباس(رض) اولاد نهٔ دے:

تاریخ د ډېرو کتابونو د وخت حاضر او د معتبرو ښاریو نه اخستے
شوے نچوړ په رڼا تاکلے کېږي. د یو کتاب په حواله بس د هغه مخصوص
نوم ته تاریخ نهٔ وائي لکه څنګه چې ځني تاریخ لیکونکیو د زادالاعوان او
باب الاعوان نه اخستے. د دروغو اخستے شوے لیکونه دي. مړ شوي
نورالدین د دروغو حوالې د میزان قطبي میزان هاشمي او خلاصته
الانساب په احوالو د حضرت عباس(رض) شجره نسب قطب شاه بابا ته
رسولې ده. د حضرت عباس اولاد په هند و پاک کښې نشته. دلته د
عمرالاطراف اولاد چې په سندهـ کښې مېشته دي او نور ټول اولاد د
حضرت محمدالاکبر(رض) قطب شاه ته رسېدلے اولاد دے چې نوم ئې د
قام اعوان علوي دے. ځني خلک ځان ته سید وائي او یا علوي وائي او د
دروغو شجره حضرت عباس(رض) ته رسوي چې نهٔ په مستند کتابونو
کښې شته او نهٔ ثابتولے شي. مړ شوے نورالدین داسې دروغ کتابونه نور
هم لیکلي دي. دهٔ د خپل مالک غلام نبي په وېنا د هغهٔ په خرچ دا قسم
کتابونه لیکلي چې وروستو ورته بیا احساس هم وشو او وې وئیل چې ما



د غلام نبي په وېنا داسې غلطۍ کړې دي چې اوس پرې ملامته یم. داسې
کتابونه چې د چا کتاب دے هم دغه ګمان به کوي چې مونږ د حضرت
عباس(رض) اولاد یُو. یو مشهور شیعه عالم مولانا سید نجم الحسن په
صفحه ۲۸ ذکر عباس(رض) چې ۱۹۵۶ء کښې چاپ شوے دے. وائي چې
د حضرت علي(رض) پنځهٔ زامن وو چې کوم اولاد د بي بي فاطمې(رض)
ابۍ نه پېدا شوے دے هغه هغوي ته درجه په نورو علویانو زامنو
اوچتوالے دے. زما په رایۍ د حضرت علي(رض) ټول زامن سادات دي
یعني سېدان دي بعضې خلک حضرت عباس(رض) علویانو شجرې سره
تړې چې دا صحیح خبره نهٔ ده. دې وائي علویانو ته هم سېدان وئیل پکار
دي. دهٔ وئیلي دي چې بعضې خلک خپلې شجرې د عباس(رض) په نوم
علویانو ته رسوي چې ښه خبره نهٔ ده او نهٔ ئې څهٔ حقیقت شته دے. وائي د
حضرت عباس(رض) اولاد مکه معظمه، مدینه منوره، مصر، بصره، یمن
سمرقند، طبرستان، اردن، کوفه، صمر، شیراز، او د ازربائیجان په
لویدیز مغرب کښې اباد دي.

## سید موسیٰ پاک شهید ملتاني (رح):

سید موسیٰ پاک شهید ملتاني (رح)غوث پاک د اولاد نه وهٔ دې د
خلب نه په لاره ایران خراسان ته هندوستان ته او بیا اوچ شریف ته راغلي
وو. (ملتان دي شان از منشي عبدالرحمٰن)

## سید شاه قمیص (رح):

د دهٔ پلار د ټولو مخکښې د بغداد نه هندوستان ته راغلے وهٔ چې
نوم ئې تاج الدین محمود وهٔ. د دهٔ زوے اکبرشاه محمد قمیص دربت
ګولړه شریف رسېدلے وهٔ او پیر مهرعلي شاه د دهٔ د اولاد نه دے
(میاشتنۍ رساله الحبیب پهلواري شریف اکتوبر ۱۹۴۰ء)

## امیرشریعت سید عطاءالله شاه بخاري(رح):

د دوي بزرګان سيدعبدالغفار بخاري قاضي خانقاهي د بخاره خپل پلار سيدمحمدبخاري سره کشمير ته تشريف راوړے وۀ. (عربي النسل مسلمان وۀ)

## سيد ابوالفرح واسطي(رح):

د دوي بزرګان د څۀ وجې نه خپل ځاے پرېښے وۀ. دوي د اهل عيال سره عزم غزني شو. په دغه وخت د غزني حاکم محمود غزنوي وۀ څوک چې د سېدانو قدردان وۀ سلطان د سيد واسطي زامنو ته د فوځ منصب حواله کړو اخري جنګ سومنات ۴۱۷ هـ کښې شريک شوي وو د سومنات د کاميابۍ نه پس د هغوي زامن په هندوستان کښې مېشته شو (تاريخ سادات باهره)

## ميرسيد کمال الدين ترمذي کيهتلي قادري:

مير سيد کمال الدين د خپلو ملګرو سره د ترمز نه د دعوت تبليغ د پاره هندوستان ته تشريف راوړے وۀ. د دوي زوے سيدابراهيم سلطان شهاب الدين غوري په فوځ کښې شريک شول.
(باغ سادات. شجره ئې سعادت تهوړه از مولانا عبدالرشيد ندوي)

## ميرعلي کبير همداني:

دوي په همداني کښې پېدا شوي وو. نوے مسلمان راجه سلطان شهاب الدين په دور کښې سيد علي کبير همداني د خپلو ۱۷ فوځي ملګرو سره کشمير کښې داخل شو. (ماهنامه نديم مارچ ۱۹۳۲ء از سيد حميدالدن ازاد بهار)

## سيد محمدبندۀ نواز ګيسو دراز:

ګلبرګ شريف د نن دور د خپل پلار نيکونو سره د هرات نه دهلي ته راغلے وۀ (عربي النسل مسلمان)



## سيدعثمان مدوند المعروف لال شهباز قلندر:

د دوي پلار سيد ابراهيم کبيرالدين ازربائي جان دارالسلطنت په دور کښې څلوېښت ميله لرې په مغرب کښې موضع مسروند وسېدونکي وو. (تذکره اولياء سنده)

## سيدفريد الدين عطار(رح):

مولانا جلالدين رومي بلخ ته د تلو په وخت کښې فريدالدين عطار د سره ملاو شو. دغه ملاقات په نشاپور کښې شوے وۀ فريدالدين عطار په ۶۲۷هـ په نشاپور کښې په حق رسېدلے وۀ(نغمات الانس).

## ميرشاه ثمن بخاري(سنده):

دوي هم په بخارا کښې پېدا شوي وو او بيا ئې هند ته تشريف وړې وۀ.

## سيد علي اکبرشاه:

پيربابا ترمذي، بونېر سوات، سيد مصطفى، پيربابا د کونړ افغانستان نه هجرت وکړو او په مانسهره (هزاره) کښې اباد شو (اشرف عرب از نجم الحسن)

## سادات نهوړ، يوپي انډيا:

د دوي وارث اعلى سيد کمال الدين ترمذي کيهتلي وو. کوم چې د ترمذ کلان (ترکستان) نه هند ته راغے (عربي النسل مسلمان).

## سادات علوي تهانوي(مولانااشرف علي تهانوي):

محمدالاکبر(رض) بن علي د اولاد نه وۀ، د دوي بزرګ محمودغزنوي سره هندته راغلل (اشرف عرب از نجم الحسن)

## شاه سالار مسعود غازي:

د سالار مسعود غازي مور ستر معلى سلطان محمود غزنوي خور وه د دوي د پلار نوم سالار شاهو غازي وۀ څوک چې ۴۰۱هـ لشکرجرار سره

غزني نه قندهارته تشريف يوړو اوبياد ټهټه په لاره سره اجمير ته لاړ د
جهاد په وخت کښې شهيد شو او د دوي مزار په برائچ انډيا کښې دے.

## حضرت شاه نياز احمد برېلي علوي:

د دوي پلار نيکيان شاهي خانوادے سره تعلق لرلو د دوي وارث اعلى ايت الله علوي تخت پرېښودو او ملتان ته ئې تشريف راوړو (اشرف عرب از نجم الحسن)

## سيد اشرف جهانګير سمنائي(رح):

دوي د سمرقند نه سيدجلالدين حېدر مخدوم جهانيه جهاګشت په خدمت کښې اوچ شريف ملتان ته راغلل د دوي نه ئې فېض واخستو بيا سير شريف بهار ته لاړل.

## سيد شمس العارفين سيد شمس باباكاظمي:

د دوي مزار په غزني کښې دے. د شمس بابا اولاد کښې دے. سيدشاه عبدالوهاب پېدا شوے وۀ. د دوي مزار کلکړه نواله کالاباغ کښې دے. نواب کالاباغ ملک امير محمدخان د دوي مدبر وۀ. (تذکره سادات دوست محمدخېل)

## خواجه معين الدين چشتي سنجري(رح):

سلسله چشتيه باني خواجه معين الدين چشتي سجستان کښې پېدا شوے وۀ. د الله تعالى په مينه سمرقند ته رسېدلے وۀ او عراق ته لاړو. بيا د هلته نه نېغ لاهور، ملتان، دهلي او اجمير شريف ته داخل شو (بزم صوفيه)

## سيد شمس الدين مشهدي(رح):

دوي د مشهد نه هندوستان ته راغلي وو د دوي اولاد ضلع ګيامين کښې اباد شوي وو (تحقيق الاقوام).



## مخدوم سيداحمد چرميوش:

دوي په همدان کښې پېدا شوي وو هلته نه ئې تبليغ شورو کړو او بيا ملتان ته راغلۀ. زېبردرګاه بهارشريف کښې د دوي مزاردے. (تاريخ باره ګيا)

## سيد عبداللطيف بهټائي:

بټ شاه هاله حېدراباد سندھ دے خاندان کښې يو بزرګ سيد حېدر د هرات نه سندھ ته تشريف راوړے وۀ (تذکره صوفيه ئے سندھ) مخدوم

## خواجه قطب الدين بختيار کاکي(رح):

دوي ماوراءالنهرکښې پېداشوي وو. داوولس کالوپه عمر کښې خواجه معين الدين چشتي(رح) په لاسو کښې بېعت وکړو بيا هند ته لاړو.

## سرسيد احمدخان:

د دوي پلاران نيکيان شنهشاه اکبر په دور کښې د عرب نه هرات ته او بيا هند ته لاړو.

## حضرت نظام الدين اولياء محبوب الٰهي:

د ذوي خاندان بخارانه لاهور ته لاړو او د دوي مزار په دهلي کښې دے.

## سيد شاه يقيق بخاري(سندھ):

دوي په بخاراکښې پېداشوي وو او بيا ئې دلته نه هند ته تشريف يوړو.

## شجره د مير قطب شاه:

مير قطب شاه بن شاه عطا الله غازي بن طاهر غازي بن شاه طيب غازي بن شاه محمدغازي بن شاه عمر غازي بن ملک اصف غازي بن شاه بطل غازي بن شاه عبدالمنان غازي بن امام محمد حنيف (محمدالاکبر)

د تاریخ بنویه په حواله د طفیل احمد خان فیضي تاریخ چې په
اګست میاشت ۱۹۷۹ء صدر بازار بنو نه چاپ شوے دے او د بنو
چاپېرچل یوه خاکه ئې وړاندې کړې ده. په دې کښې د بنو قبائیل شجره
نسب، تاریخ تهذیب او د کلتور ذکر کړے دے. د کتاب ټولې صفحې
۴۲۴ دي. د اعوانو تذکره ئې مختصر هم کړې. دې وائي اعوانان د پښتنو
سره تعلق نۀ لري. دا د نورو علاقو په وجه د اوچ موسم یا د رزق په لټون
دلته مېشته شوي دي. دې وائي چې د بنو په هر کلي کښې څۀ نه څۀ اباد
دي. دې وائي چې دا پښتانۀ نۀ دي خو بیا ئې هم خوي خصلت، رسم و
رواج ټول د پښتنو دي او اکثر علاقو کښې ئې د پښتنو سره رشتې هم
یعني خپلوۍ کړې دي. په بعضو علاقو کښې خو بې شمېره دي. په
زمیدارۍ او نورو د ژوند په تګ و دو کښې د چا نه وروستو نۀ دي. دا ډېر
وفادار قوم دے. دا قوم ډېر محنتي دے، د دوي مړانې د چا نه کمې نۀ
دي. دې وائي چې دا قوم کېدے شي چې پښتنو د خپلو عداوتونو جګړو
په وجه پښتنو د پاره ډال په توګه د سیوري ایسار کړے وي. دې وائي چې
پښتنو خپلې زمکې هم اعوانانو له ورکړې دي. د ګران فیضي صیب ډېرو
خبرو سره خو اتفاق کوم خو ښاغلي فیضي صیب د تاریخ نه بالکل مخ
اړولے دے. فیضي صیب د بنو په حقله لیکي د محمود غزنوي تاریخ چې
د بنو په سرحدي علاقو د افغانستان سره هم تعلق لري بیخي سترګې پټې
کړې دي. دې ښاغلي دا نۀ دي وئیلي چې د دې اعوانو تاریخي حېثیت څۀ
دے، د کوم ځاے نه راغلي دي. د دوي پلارونه نیکونه څوک دي. ښاغلي
ته یادګېرنه کوم تاریخ محمود غزنوي دې وګوري یا نور داسې ډېر
تاریخونه شته چې په کښې د اعوانو د علوي قوم په باره کښې ښکاره
دلیلونه موجود دي.



پاتې شوه خبره د بنو اعوانانو نو نۀ یواځې بنو، ډېره اسماعیل
خان، کوهاټ، هنګو، ټل، پاراچنار، پېښور، نوښار، مردان کښې د
کاغذاتو نه څرګندېږي چې ډېرې زمکې د دوي نه اخستې شوې دي او دا
ډېر زاړۀ خلک دلته مېشته دي. یعني ځینو ناپوهو بیخي هندوانو ته
رسولي دي. دا هغه لیکونکي دي چې ورته خپله د خپل قام پته هم نشته.
ځنو نیتونه بد کړي هم دي. تاریخ ګواه دے چې پښتنو سره په هره معرکه
کښې پښتنو ویونکي اعوانانو برخه اخستې ده او پښتانۀ ئې خپل وروڼه
ګڼلي دي خو د ډېر افسوس خبره ده چې اعوانانو ته هېڅ قسم حق نۀ دے
ورکړے شوے. د اېف سي یا د نورو فورسونو کښې د ټولو قومونو خپلې
خپلې کوټې یعني حصې خو شته خو د پښتو ویونکیو اعوانانو چې د
قومونو په شمېره، په بهادرۍ، مړانې، همت، جائدادونو، تجارت او د
ژوند په هر ډګر کښې د چا نه کم نۀ دي. دغه حق ئې نۀ دے ورکړے او نۀ
اعوانانو د خپلو حقونو اواز پورته کړے دے نۀ ئې ځانونه پېژندلي دي
چې زۀ څوک یم. دوي هر ځاے کښې خپل حق د بل د جولۍ نه په سوال
اخستے دے.

## ابو علي عطاء الله غازي:

د غازي ابو علي عطاء الله نوم د سلطان سبکتګین او سلطان
محمود غزنوي په ګټلې غزاګانو په تاریخونو کښې ډېرې ښکاره دے
سلطان سبکتګین چې کله په ۳۶۷هـ کښې په پخواني هندوستان د حملې
کولواراده وکړه نو علویانو او پښتنو په مدد راجه جے پال پېښور په مقام
حمله وکړه. سلطان ته په دغه معرکه کامیابي نصیب شوه. ډېر مال و
اسباب مال غنیمت کښې جمع شو. سلطان د علویانو او پښتنو د کمال و
جرات او مردانګۍ او د دوي په مرسته ډېر خوشحاله وۀ. دې نه پس
سلطان لس زره سرداران سره د خپل یو نائب ابوعلي عطاء الله غازي

سره تعلق لرڅ د دة پښور كښې پرېښودو. دې سړي د علوي خاندان
شجره د نسب د محمد الاكبر(رض) بن علي ته رسيده. دا وړومبے سړے وه
چې دسلطان دنائب په حېث دپښورد حكمرانۍ كار ئې سر ته رسوو.
تاريخ خورشيدجهان ليک شېرمحمدخان ګنډاپورد ابو علي عطاءالله
غازي درې زامن وو. سالارساهوغازي، سالارقطب حېدر غازي او سالار
سيف الدين. د سالار سيف الدين زامن نۀ وو. د دۀ تاريخ وفات ۱۸ رجب
سن ۴۲۴ هجري دي. هسټري اف انډيا د دۀ مكمل حالات زندګي د تاريخ
په كتابونو كښې نۀ ملاوېږي. البته د سالار ساهو غازي چې د تولونه
مشروۀ. په بعضې تاريخونوكښې ملاوېږي. د اعوان په تاريخونو كښې
دعطاءالله غازي نوم ډېر زيات استعمال شوے بعضې تاريخونو كښې
ابوعلي يا ابي يعلى نوم سره هم ليكلے شوے دے په تاريخونو كښې
معلومات داسې دي چې ۳۸۵هـ چې كله سلطان محمود معركه
نيشاپوركښې داميرابو علي سيجور د معركې ګټلو په وخت نو په دغه
وخت علويانو د سلطان د مرستې اعلان وكړو او په نيشاپورئې دوباره
حمله وكړه او ابوعلي ئې بخارا ته په تښتولو مجبور كړو. په دغه موقع
سلطان ډېر خوشحاله شو سلطان په دربار كښې ډېر لوے عزت سره
ابوعلي عطاء الله او د هغۀ اولاد ته د سردارۍ پګړۍ په سركړه او د اعوان
خطاب ئې وركړۀ. په سن څلورمه صدۍ هجرۍ كښې علويانو ته د
سردارۍ شرف ملاو شوے وۀ. د غزنوي په دربار كښې ابوعلي عطاءالله
غازي او د زامنو سالار ساهو، سالار قطب حېدر د اعوان خطاب هم ملاو
شوے وۀ او بيا سلطان محمود د خپلې خور سترمعلى رشته د سالار ساهو
سره نكاح هم وكړه. دې نه دسلطان محمود غزنوي او د علوي خاندان د
عزت پته لګي چې كله سلطان سبكتګين دپښور دعلاقې فتح كړې نو د
هغه ځاے حكمرانۍ د پاره ئې علوي خاندان غوره كړو او د ابوعلي عطاء



الله غازي د پښور حكمران كړو او پخپله غزني ته لاړو. په دغه زمانه
كښې رياست لاهور هغه حصه چې كومه سلطان سبكتګين فتح كړې وه د
افغانستان نه راواخله تر دريائے سندھ پورې د دې علاقو د سمبالېدو ذمه
واري ابوعلي عطاء الله غازي ته په پښور كښې پرېښوده.
يوپېره القادربالله عباسي خليفه سلطان محمودغزنوي ته خط وليكلو
چې ابوعلي د فرقه قرامطه سره څۀ تعلق لري. سلطان محمود غزنوي
خليفه له ځواب وركړو او ورته وليكل چې ابو علي او د هغۀ خاندان په
مدد سره هندوستان فتح شو او د سندھ قرامطه سره وجنګېدو او د هغۀ
حكومت ئې ختم كړو. د دې نه پس كۀ ابو علي قرامطه وي نو زۀ هم
قرامطه يم. د سلطان محمودغزنوي دې قسمه خبرو ته چې وګورې نو د
سلطان په دربار كښې د ابوعلي څومره شان وۀ او عزت وۀ.
سالارغازي د ابو علي غازي مشر زوے وۀ. د دۀ تاريخ پېدائش د تاريخ په
كتابونوكښې نشته البته د دۀ تذكره مرات مسعودي چې ملا محمد
غزنوي په كتاب تواريخ هند نه ماخوذ كښې ليكلي دي لا غزوني مطابق
مرات مسعودي ليكلي دي چې ملاتور د سلطان محمودغزنوي د نزدې
خلكونه وۀ. اخري عمرد سالار ساهو او سالار مسعود غازي سره تېر كړے
وۀ. د سالار مسعود د شهادت نه پس وفات شوے وۀ. مرات مسعودي په
حواله ليكلي دي چې دا تاريخ نورو معتبرو تاريخونو منلے دے، چې د
سلطان محمود غزنوي اكثر جرنېلان سېدان علويان وو او د دې ټولو امير
او مشر به ابوعلي عطاء الله غازي وۀ. د دۀ د مرګ نه پس سالار ساهو د
علوي قبيلې سردار جوړ شو. سلطان محمود غزنوي د سالار ساهو نه ډېر
متاثره شوے وۀ. سلطان د خپلې خور ستر معلى وادۀ هم د سالار ساهو
سره وكړۀ. د دې رشتې په وجه چې دا د دۀ اوښې هم وۀ. د رشته دارۍ په
وجه د سلطان په دربار كښې د دوي ډېر عزت او احترام كېدۀ او د سلطان

په کور د دۀ نه ستر پرده نۀ وه. په سن ۴۰۱ھ کښې سلطان غزنوي د سالار ساهو په مشرۍ کښې يو لښکر تيار کړو چې د هند راجه ګانو د سرکوبۍ د پاره اجمير ته روان شو. دۀ دا خپل کمال سرته کړو او په اجمير کښې ايسار شو او د نائب سلطنت په عهده حکمران شو. د جنګ پس سترمعلی خپله ښځه ئې هم د غزني نه اجمير ته راوغوښته. په اجمير کښې د دۀ بهادر زوے مسعودغازي چې په ۴۰۵ھ کښې پيدا شوے وۀ (سلطان الشهدائے هند ص۴ سن ۱۹۲۱) سلطان ساهو چې د هلر علاقه فتح کړه سلطان ډېر خوشحاله شو. بعضې تاريخ دان دا علاقه په کشمير کښې يادوي. سلطان محمود غزنوي دا علاقه بطور جاګير دۀ ته وبخښله. د دۀ خپل مسکن په هلر کښې جوړ کړو. دۀ سترمعلی او خپل زوے هلر ته راوستۀ چې کله سلطان محمودغزنوي په سومنات باندې حمله وکړه او فتح ئې بيامونده نو د دې نه پس ئې مسعود غازي غزني ته راوبلۀ. د بي بي سترمعلی مرګ هم هلر کښې شوے وۀ چې بيا ئې په صندوق کښې غزني ته راوړله او په غزني کښې ئې ښخه کړه. د سترمعلی مرګ ۴۲۰ھ کښې شوے وۀ.

سلطان سبکتګين چې په هند کښې څومره معرکې کړې وے. په دې ټولو کښې چې کومو سردارانو حصه اخستې وه په دې سالار ساهو ملک شاهو او قطب شاه غازي، د ملک غازي د پښتنو په تاريخونو کښې موجود دي. تاريخ دان د دې مجاهدينو د شجاعت بهادرۍ په باره کښې ډېر صفتونه کړي دي. دا د هندوانو د پاره يو مرګ وۀ. (تاريخ صوبه سرحد موجوده خېبرپښتونخوا از محمد شفيع صابر) د ملک شاهو او د ملک غازي (قطب شاه غازي) نه علاوه نسبي تعلق چې د علوي خاندان سره تعلق لرو د دې ثبوت دا دے چې د ملک شاهو ملک غازي نه علاوه نور د ټولو افغاني سردارانو د اولاد ذکرونه په افغان تاريخي کتابونو



کښې ليکلي دي خو د ملک شاهو او ملک غازي د اولاد تذکره شجره نسب نشته. د هغوي شجره نسب سره موجود نۀ ده. هم دغه وجه ده او دا معلومه شوه چې دغه شجره نسب د پښتنو نۀ وه بلکې د علويانو اعوانانو شجره نسب ده.

## قطب حېدرشاه علوي اعوان ملک غازي:

حسب نسب د قطب شاه خپل نوم قطب حېدر وۀ. مرات مسعودي سالار قطب شاه په باره کښې ليکي چې نورو علوي اعوان تاريخونو کښې قطب شاه غازي، غازي قطب شاه، مير قطب شاه، سالار قطب شاه يا سالار قطب حېدر علوي غازي نومونه هم د دۀ د پاره استعمال شوي دي. په بعضې تاريخونو کښې د دۀ نوم ملک غازي په نوم سره هم ياد شوے دے. تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني ليکونکے خواجه نعمت الله هروي ۹۹۳ھ کښې ليکلي چې څۀ موده پس په څلور سوه هجرۍ کښې چې الله تعالی سلطان محمود غزنوي ته د سلطنت اعزاز ورکړو او په عراق عجم خراسان او په ماوراالنهر نه کابل وغزني تر حدونو پورې بلکې د سندھ علاقه هم د دۀ د لاس لاندې په سلطنت کښې شامله وه نو نهۀ سرداران چې نومونه ئې د تاريخ په کتابونو کښې په دې نومونو سره ياد دي په دې نومونو کښې ملک خانون، ملک مامون، ملک داؤد، ملک يحيٰی، ملک احمد، ملک محمود، ملک عارف او غازي د سلطان په خدمت کښې حاضر شول. په دې نومونو کښې د ملک غازي په حقيقت کښې ابوعلي عطاء الله زوے قطب شاه غازي نوم دے. د تاريخ صوبه سرحد ليکونکے محمدشفيع صابر ليکي چې د سومنات جهاد صرف د الله تعالی د رضا په جذبه په زرګونو خلکو ډېره لويه قرباني او د خپلو قبائيلو مشرانو سردارانو په مشرۍ کښې د کفر او اسلام په تاريخي معرکه کښې جنګېدلي وو. په دغه سردارانو کښې ملک غازي (قطب شاه غازي) او

ملک شاهو د دواړو ذکر په تاریخ کښې شته او د قربانو ذکر ئې هم تاریخ
کوي چې دا سرداران علوي اعوانان وي کۀ دا دواړه وروریان قبیلې
سرداران وو نو بیا خو پکار ده چې د نورو سردارانو په شان د دوی هم د
پښت نه د پښتنو ګندونه موجود وے خو داسې نۀ ده د دوی د پښت نه
صرف او صرف علویان علوي اعوان دي۔ د قطب شاه پلار ابوعلي عطاء
الله شاه سالار قطب حېدرشاه غازي (ملک غازي) د خپلو ورونو سالار
ساهو غازي (ملک شاهو) نه کشر او د ملک سلار سېف الدین نه مشر وۀ۔
د دوی د پلار نوم ابوعلي عطاء الله غازي وۀ۔ ابوعلي د سبکتګین په
۳۶۶ھ کښې تخت سمبال کړو۔ یعنې په تخت کښېناستو او د پنجاب
تسخیر منصوبه ئې جوړوله۔۳۸۴ھ کښې خپل زوے سلطان محمود ئې د
خراسان په سپه سالارۍ مقرر کړو۔ په دغه زمانه کښې د راجه جے پال ې د
عیسائي د مسلمانانو د ویرې لاهور پرېښودو او قلعه متهیانه کښې
مېشته وۀ۔ سلطان په دۀ حمله وکړه۔ په دغه حمله کښې سلطان محمود د
خپل پلار د فوځونو سپه سالار وۀ۔ علویانو په دغه حمله د سلطان پوره
پوره مدد کړے وۀ۔ د دې په وجه سلطان فتح بیاموندہ چې سلطان غزني
ته واپس روان شو نو په دغه موقع علوي سردار ابو علي د پېښور خپل
نائب مقرر کړو۔

## پېدائش او وفات:

د سالار قطب حېدرشاه غازي سن پېدائش د اعوان په تاریخونو
کښې ۳۸۵ھ لیکلے دے۔ سالار قطب حېدر شاه د سلطان محمود غزنوي
همعصر همځولے وۀ۔ د سلطان محمود غزنوي سن پېدائش په بعضې
تاریخونو کښې ۳۵۷ھ (تاریخ فرشته) دے۔ بعضو کښې ۳۶۱ھ (طبقات
ناصري) دے۔ د سلطان محمود غزنوي او قطب شاه چې همځولي کښې
راځي دغه تاریخ د قطب شاه ۳۸۵ غلط دے او صحي تاریخ ئې ۳۵۸ھ



کال دے بیا هم د تحقیق دروازې پرانستې دي، د زادالاعوان او باب
الاعوان په حواله د قطب شاه په ۵۵۵یا ۵۶۵ھ ۱۳۷ کالو په عمر کښې په
حق رسېدلے وۀ۔

## په پېښور کښې د اعوانانو ورومبۍ حکمراني:

سلطان سبکتګین او د محمود غزنوي په دور کښې د افغانستان ښار
غزني نه د اسلامي کلتور مرکز جوړ کړے وۀ۔ د امیر سبکتګین په زمانه
کښې مسلمانانو په هندوستان ورومبۍ حمله کړې وه۔ دا حمله د راجه جے
پال خلاف وه، ځوک چې د سلطان سبکتګین سره بې وعدې شوے وۀ۔
د آئینه حقیقت نما لیکونکے وائي چې راجه جے پال سلطان ته مخامخ
لاسونه ونیول چې ما نه غلطي شوې ده، مانه خطا شوې ده ما په دې خطا
دا ځل معاف کړه، زۀ به د دې نه پس ستا فرمانبرداره یم او ډېر سرۀ زر او
سپین زر ئې د تاوان په غرض سلطان ته مخکښې کړل خو بیا هم سلطان
ونۀ منل او سلطان د سزا په توګه چې راجه جے پال له ئې ورکوله په
هندوستان د حملې کولو پروګرام جوړ کړو۔ راجه جے پال هم کالنجر،
قنوج، ډهلي او اجمیر د هندو راجه ګانو د مدد د پاره یو لاکھ لښکر تیار
کړے وۀ خو راجه جنګ بائیلۀ او په پېښور باندې ورومبے ځل
۹۷۸عیسوي کښې د اسلام بېرغ اوچت شو۔ په دې جنګ کښې د علوي
اعوانانو قبیلې اباواجدا سالار ابوعلي (عطاءالله غازي) او د دۀ زامن
سالار ملک شاهو او سالارملک ساهو) او سالار ملک غازي (سالارقطب
حېدریا قطب شاه) د سبکتګین په فوځ کښې لوے سپه سالاران وو،
شامل وو او د پېښور پورې علاقه ئې ازاده کړې وه۔ سلطان محمودغزنوي
هم په دې فوځ کښې شامل وۀ۔ پېښور د فتح کولو نه پس سلطان
سبکتګین خپل نائب او د علوي قبیلې سردار ابوعلي (عطاءالله غازي) د
پېښور ورومبنے مسلمان حاکم مقرر کړو۔ سلطان سبکتګین په سن۹۹

عيسوي کښې په حق رسېدلے وۀ. هم په دغه ورځو کښې عنان حکومت د محمودغزنوي په لاس راغې. سلطان محمود غزنوي په اقتدار کښې راتې په دغه وخت د هند راجګانو بيا سر اوچت کړو. د اوډيګرام هندو راجه ګيرا د محمود غزنوي يو سالار لښکر پيرخوشاب بابا غازي نه ماتې وخوړله او باجوړ دير سوات په علاقو ئې برے بياموندو. محمودغزنوي د علويانو د بهادرۍ مړانې اعتراف وکړو او دوي ته ئې په دغه موقع د اعوان يعنې مدد‌ګار اعزاز وبخښۀ او ملک غازي قطب شاه غازي مشر ورور سالار شاهو(سالار ساهو) د خپل فوځ سرلښکر کړو او د دې نه پس ئې د خپلې خور بي بي ستر معلی نکاح هم سالار ساهو سره وکړه.

د سالار ساهو زوے او د سلطان محمود غزنوي خوريې سالار مسعود غازي مشهور بزرګ ځوک چې په بهراچ هندوستان جسدخاکي دے. د سلطان خوريې او د سالار ساهو زوي سلطان چې کومې اوولس حملې په هندوستان کړې وې په دې حملو کښې شامل وو او دۀ سره نور اعوانان سرداران او د پښتنو قبيلو پوره پوره مرسته وه او په هره حمله کښې پښتنوقبيلواواعوانانود سلطان مددکړے وۀ. د تاريخ پښتونخوا ليکونکے محمدشفيع صابر ليکلي دي چې د سومنات په جهاد کښې پښتانۀ د فوځيانو په حېثيت شريک شوي وو ځکه چې جهاد د اشر په لاره د سعادت او مبارک کار ګڼلے شي. دا د کفر و اسلام جنګ وۀ په دغه تاريخي جنګ کښې دغه سرحدي سردارانو کښې ملک عارف، ملک داؤد، ملک محمود، ملک يحٰی، ملک شاهو، ملک خانو ملک مامون او د ملک احمد نومونه شامل دي او دا د لوړ شان خاوندان وو. خو محمد شفيع صابر ملک غازي (سالارقطب شاه) او ملک شاهو (سالار ساهو) په غلطه باندې سرحدي سرداران ليکلي دي.



دا سرداران هم په دغه تاريخي نامورو کښې شامل وو خو دا علوي سرداران وو. چاله چې سلطان په دغه موقع د اعوان يعنې مددګار خطاب ورکړے وۀ. د تاريخ پښنور ليکونکے ګوپال داس ليکي چې د کوم قوم خلک چې خپل ځان په قطب شاهي اعوانانو شمېري يا يادوي دې وائي جلال پور او خواوشاه علاقې او زمکې د اعوانانو دي. د پښنور خواوشا علاقې د اعوانانو دي ځنې ځايونو کښې هندکي هم وئيلے شي او ورسره پښتو هم وائي. د پښنور د ټولو علاقو نومونه راته ياد نۀ دي بخښنه غواړم چې کومې راته يادې دي د هغې نومونه ليکم خو زۀ دا بيا هم وايم چې د پښنور ډېرې کمې علاقې به وي چې په هغې کښې به اعوانان د نورو قومونو نه کم وي.

پښنور اکثر علاقې محلې د اعوانانو په نوم مشهورې دي په پښنور کښې داسې کلي نشته چې په هغې کښې به اعوانان نۀ وي غوريواله، شمشي خېل خو زيات اعوانان دي. حيات اباد سره نزدې اچين پايان اعوانان د نورو قومونو نه زيات دي. محله هشت نګر محله يکه توت محله ګنج د اعوانانو مشهور ځايونه علاقې دي. پښنور ښار، سرايۍ حبيب الله، اکبرپوره، وړيګه، ګلبهار، حاجي کېمپ، صدر ګېرچاپېره چې زۀ د پښنور د هغو کلو نومونه په دې کاغذ نۀ شم ليکلے د اعوانانو نه ډک دے. په ننني دور کښې تاريخ دان دے بيا د سره څېړنې وکړي خو د ايمان په تقاضه نو پته به ورته ولګي چې اعوانان څومره دي.

د هندوستان مشهور فلمستار دليپ کمار يوسف خان هم د اعوانانو کورنۍ سره تعلق دے.

## وادي سون سکېسر:

هسې خو د پنجاب ټول خلک يعنې په اکثريت سره اعوانان دي ځکه چې قطب شاه بابا په پنجاب ډېرې حملې کړې وې او دلته نه ئې بيا

ودونه هم کړي وو او مختلفې ځانګې ئې د اولاد نه خورې شوې وې. د ټول پنجاب ذکر زما د وس خبره نۀ ده او نۀ زما دا وړوکے کتاب دا بوج اوچلے شي خو د وادي سون ذکر ډېر ضروري ګڼم ځکه چې وادي سون داسې دے لکه چې د اعوانانو زړۀ. د وادي سون سکېسر کښې ابادې قبيلې د اعوانانو تاريخي سلسله د کوه نمک يعنې د مالګې غر ته د اعوانانو راتلل د اعوانانو په مخکښې قومونو باندې غلبه موندل د اعوانانو رسم و رواج او کلتور د اعوانانو بهادري د اعوانانو قومونوجدا جدا ځانګې په اعوانانوکښې اولياء کرام بزرګان او د هغوي تفصيلات په زرګونوکتابونوپه حوالوسره يوځانګړې برخه لري د وادي سون يوبېل تاريخ دے اعوان دحضرت علي «رض» د زوي محمدالاکبر «رض» د اولاد نه د قطب شاه اولاد دے قطب شاه په غرض د تبليغ جهاد اسلام د محمودغزنوي د فوځ سپه سالار په حېث هندوستان  ته راغلے وۀ د محمودغزنوي په ټولو جنګونو کښې ئې سره د خاندانه حصه اخستې وه. د دۀ د جذبه جهاد په وجه محمود غزنوي د عقيدت په توګه په دې خطاب اعزاز ورکړو. قطب شاه د محمود غزنوي د فوځ سره کېمبل پور، راولپنډی، د ګجرات مشرقي ختيز حصه باندې برے بياموندلے وۀ او د تله ګنګ چې اصلي نوم ئې طلحه ګنګ دے څوک چې د قطب شاه بابا زوے وۀ، په دغه ځاے يو ډېر لوے عمارت جوړ کړے وۀ او دغه ځاے ئې د اعوان په نوم ياد کړے وۀ.

قطب شاه بابا په وادي سون کښې راجګانو باندې برے بياموندلے وۀ او ګېرچاپېره په نورو علاقو هم برے بيا موندلے وۀ او دا علاقې ئې ابادې کړې وې. قطب شاه مخکښې پېش قدمي د رياست ګولکنډه پورې تلے وۀ. د قطب شاه  عبدالله ګولړه محمدکندان محمدعلي مزمل کلګان دريتم جهان شاه او زمان علي هم دلته اباد وو. معتبر ليکوال تاريخ دان ليکي



چې د اعوان ځانګې د اووۀ سو(۷۰۰) نه سېوا دي. دا ټول دعوه کوي چې مونږ قطب شاهي اعوان يُو. تاريخ دان دا هم وائي چې اعوانان به د ميانه روی په ځاے جلالي وو. يعنې غصه ناک. دا قوم په خپلې مور قسم خوري. د مېلمنو به خدمت کوي، دوست ته دوست او دښمن ته دشمن وائي. دوي خپل قول فعل کښې تضاد نۀ لري، په خپله وعده ټينګ دي، دا يو اعتباري قوم دے.

## خېبرپښتونخوا:

شمال مغربي سرحد صوبه خېبرپښتونخوا د جغرافيائي يو اهم ځانګړے حېثيت لري، دلته په دې سيمه خلکو بې شمېره انقلابونه تحريکونه ليدلي دي او تراوسه انقلابي معرکو سره مخ ده. د دې صوبې شمال مغرب ته چين روس او د افغانستان سرحدونه ملاوېږي. په سوونو کالو وړاندې به دلته د بهرونو ملکونو نه قافلې راتللې او ځنې به پکښې د پنجاب مېداني علاقې ته هم تللې، ځکه خو په برصغير کښې هر قوم خپل کلتورونه پرېښې دي او بعضې بعضې ځايونو کښې هغه نخښې اوس هم ښکاري.

دلته په دې سيمه دنګ دنګ غرونه، درې مېدانونه، ښکلي موسمونه، په غرونو چنارونه او چينې او په تېره تېره په دې غرونو کښې د امدن وسيلې زمرد، ياقوت، فېروزې، پکهراج او نور قيمتي کاڼي او داسې د ژوند نور قيمتي اثاثې سيندونه ګودرونه مېوې او داسې نور چې زۀ ئې نۀ شم رقم کولے د الله تعالی د نعمتونو نه سرشاره صوبه چې نن هم د بارودو لوګو دهماکو او بين المللي شخړې ښکار شوې ده، چې ورته هرڅوک پردي جنګونه راوړي او د وينې صدقه ورته د دې صوبې ګلالي خوانان ګلالي پېغلې ګلونه ماشومان او د دې وطن د سر صدقې ورکوي. پته نۀ لګي چې کله به امن راځي په وينې وينې ژوند کښې د دې صوبې د

دې لويې قربانۍ به څوک تاوان ورکوي. د برطانيې حکمرانانو دې صوبې ته شمال مغربي صوبه وئيله د دې نه به مخکښې په ګندره بګرام پښکل وتي او په نورو نومونو يادېده او نن سبا په خېبر پښتونخوا يادېږي. د دې په شمال هندوکش د غرونو سلسلې شورو کېږي او په جنوب د بلوچستان او پنجاب علاقې په مشرق د پنجاب ضلع اټک او دريائے سندھ او په مغرب افغانستان سره نژدې دے. د غرونو سلسلې د صوبه خېبر پښتونخوا په درېو حصو کښې تقسيم کولے شي (۱) په دريائے سندھ مشرقي علاقه هزاره ډويژن (۲) دريائے سندھ په مغرب مېداني علاقه مالاکنډ مردان کوهاټ کرک بنو او ډېره اسماعيل خان ضلع شامل دي (۳) د ډيورنډ لائن ضلع د سرحد په مېنځ کښې د غرونو علاقې او ايجنسي چې واګې ئې د وفاقي حکومت په لاس دے شاملې دي.

## قبيلې د خېبرپښتونخوا:

د پښتونخوا شمالي علاقې دي چې په کښې دمختلفو قومونو قبائيل مېشته دي. په چترال کښې کاشغري، دير، باجوړ، سوات کښې يوسفزي اودهغې نورې څانګې، په هزاره کښې يوسفزي او نورې څانګې، سواتي، جدون، ډهونډ کړړال، ترين، تنولي، ترک، ګوجر، دلاژاک، اعوان او سېدان، مهمند او په هغې ترک زئي، حليم زئي په خېبر کښې افريدي، شينواري، شلمان خېل، ملاګوري، پېښور کښې خليل، مومند، محمدزئي، داودزئي، خټک، ګګياني، دُراني، اعوانان، کوهاټ خټک، اعوانان، کرک کښې بارک خټک، سيني خټک، په بنو کښې مروت، بنوڅي، وزير، منداڼ خېل، غزني خېل او اعوانان، په وزيرستان کښې درويش خېل، وزير او محسود، په ډېره اسماعيل خان کښې بلوچ، ګنډاپور، قصوريه مياخېل، کوندي، سدوزئي، اسماعيل زئي او اعوان،



جنوبي وزيرستان کښې شيراني، بېټني، محسود، داوړ او کرم ايجنسي کښې طوري، بنګش او داوړ قبيلې ابادې دي.

دخېبرپښتونخوا په ټول ضلعو کښې د اعوانانو قبيلې په ګڼ شمېر سره موجود دي، چې دپخوانه ابادې دي. داعوانانو ډېرشمېر په هزاره ډويژن چې د نورو قومونو په حساب ډېر زيات دي. د نارتھ ويسټ پراونس اېنډ کشمير کتاب کښې سرجېمز ليکلي دي چې په پښتونخوا کښې د پښتون نه پس اعوان قوم او بيا درېم نمبر باندې د ګجر قوم مېشته دے. دې وائي چې د پښتنو قبيلو مشهورې قبيلې په تاريخونو کښې موجود دي خو د اعوانانو قبيلو نومونه د پښتنو په تاريخونو کښې نۀ شي موندې او کۀ بعضې ځاے کښې څۀ تاريخ شته بيا هم هغه د هندکيانو په تاريخ يادېږي. دې وائي چې دغه هم اعوانان دي.د تاريخ هزارې ليکونکي ډاکټر شېربهادر خان د وېنا مطابق د خېبرپښتونخوا اعوانان د قطب شاه اولاد دے چې د هرات حاکم وۀ او وروستو بيا د محمود غزنوي سره په هندوستان د حملې کولو په وخت يو ځاے وو.

## دريائے کلپانۍ:

دريائے کلپانۍ چې مونږ ورته ګودرونه وايو دريائے کلپانۍ د سوره غرونو نه راوځي علاقه بائزي نه مردارا بګيارې لوندخوړ او د ګدر خوړونو سره ملاوېږي. په جنوب باندې باکرے خوړ شاه ګۍ ناله او نارنجي خوړ دے سره ملاوېږي. د سدوم د طرفه د طورو په خوا دريائي مقام سره شامل شوے دے. د نوښار چهاونۍ سره نژدې مخامخ دا کلپانۍ دريائے کابل ته پرېوتے دے.

## درياب د سوات:

د آرياؤ مقدس کتاب "رګ وېد" کښې دريائے سوات ته "سواستو" نوم ليکلے شوے دے. د درياب په نوم باندې دې علاقې ته سوات وئيلے

شي۔ د دریا سوات مېنځ په غرونو په سلسله کښې د ے۔ ندي اوشوندي ګبرال او زندري نهرونه راځي او په دریائے سوات کښې شاملېږي۔ په دي دریاب کښې د کال دولس میاشتې اوبۀ وي۔ بحرېن او کالام ته تلونکې سړک د دریائے سوات په لاړو تېرېږي د لنډاکي په ځا ے سره د ضلع سوات په حدود سره بهېږي۔

دلته لړ وړاندې د پنجکوړې دریاب دې سره ملاوېږي۔ د چکدرې او بټ خېلې کلي هم د دې په غاړه غاړه اباد شوي دي۔ د بټ خېلې سره اماندره هېډورکس هم نزدې د ے۔ دلته نه دریائے سوات نهر هم وتے د ے۔ د مالاکنډ سره نزدې د دریائے سوات یو لوے سُرنګ نه دا نهر جبن ته رسېدلے د ے۔ دلته یو لوے بجلي ګهر د ے۔ د ابازئي سره نزدې دریائے سوات (اشنغرتحصیل چارسده) مېداني علاقو ته داخلېږي د چارسدې پورې دا دواړه څانګې بېلې دي۔

د پړانګو نه وړاندې د نیستې سره نزدې دریائے سوات دریائے کابل ته پرېوځي دریائے سوات او دریائے کابل د ملاوېدو نه پس په لنډي بدلېږي۔ لنډے نوښار چهاوني، اکوړه خټک جهانګیري باندې تېرېږي او د اټک په ځا ے دریائے سندھ ته پرېوځي۔

## ۷ ضلع مردان اعوانان:

۔ په ضلع مردان کښې د اعوانانو شمېر د نورو قامونو په نسبت زیات د ے۔ د تاریخ علوي اعوان کتاب لیکونکے محبت حسېن دې خبرې سره اتفاق نۀ کوم چې په هر کلي کښې یوه دوه کورنۍ موجود دي یا دوي په هندکیانو سره یادولے شي۔ نۀ خو ښاغلے دې علاقې سره تعلق لري، نه ئې جاج اخستے د ے۔ زما په خیال لیکونکي ته چا هسې په ټیلي فون وئیلي دي اوهغۀ د خپل کتاب تاریخ ګرځولے د ے۔ ښاغلے خو مردان یادوي زما د دې ټول پښتونخوا جاج د ے زما سره نن واخلي چې زۀ ورته



په هر کلي کښې د اعوانانو شمېره د نورو قامونو نسبت ځومره ښایم۔ د پښتنو ټول قامونه په خپل خپل ځا ے د ګلونو ګلدستې دي۔ ترڅوپورې داعوانانو تعلق د ے زۀ پخپله دروغ نۀ وایم زۀ پخپلۀ او د خاندان څو ملګرو ما سره د اعوانانو تنظیمونه د مردان په خواوشا علاقو کښې جوړول چې پکښې حاجي صدبرګ، حاجي ریاض خان، استخاراعوان او نور خپلوان شامل وو۔ داسې ډاکټر اسماعیل اعوان، معراج اعوان، ګلزار اعوان، طاهراعوان ملګري شامل دي۔ د مردان په هر کلي محله کښې د اعوانانو شمېره په سلو کښې د دېرش پورې ده۔ بعضو کلو کښې اتیا فیصده پورې اعوان دي۔ د دې خبرې وروستو په بل پړاؤ خبره کوم۔ ښاغلے خو د دې صوبې نه خبر نۀ د ے سره د دې نه چې محبت حسېن خپله هم د اعوانانو تاریخ لیکلے د ے خو هسې په توک ئې غشے خطا کړے د ے۔ ښاغلي ته د ے پته ولګي چې څۀ نه څۀ کلي د هندکیانو شته خو هغه هم په پېښور، جهانګیري، ډېره اسماعیل خان، کوهاټ او داسې نور څو ځایونو کښې هندکیان هندکو وائي چې هغۀ پخپله د دې خبرې ذکر کړے د ے چې چرته کومه ژبه وئیلے کېږي هغه ژبه دغه اعوانانو زده کړې ده او هغه هغوي وائي۔ ښاغلے دې ماته په مردان کښې هندکیان وښائي چې هلته هندکو وئیلے کېږي او هغه هم د ے اعوانان وي۔ د مردان ټول ښار او خواوشا کلو کښې صرف پښتو وائي۔ دلته د یوسفزیو، خټکو مهمندو، افریدو او داسې نورو قامونه اباد دي چې اعوان په کښې د یوسفزو نه علاوه په ډېر شمېر سره مېشته دي۔ دا اعوان خپل رسم و رواج دود دستور د پښتنو سره یو شان د ے۔ د پښتنو د ټولو قامونو سره ئې رشتې هم کړې ورکړې دي۔ پښتو وائي پښتو لیکي پښتو کوي بلکې په شناختي کارډ کښې قام افغان لیکي۔ سره د دې نه چې ورته پته ده چې مونږ اعوانان یُو۔ دلته په مردان کښې دا فرق ختم کړے شو ے د ے چې څوک د کوم یو قوم

نه دے. دا د پښتو سره د مینې یو لوے دلیل دے. دلته خو اکثره اعوانانو ته پته هم نشه اعوان څوک دے، د چرته نه راغلے دے. د دوی پلارونه او نیکونه څوک دي او دا ځکه چې د پښتنو تاریخونو کښې چ ذکر نۀ دے کړے او یا ئې د اعوانانو تاریخ غلط کړے دے.

## د ازاد کشمیر علوي اعوان:

د جنګ ازادۍ ۱۹۴۷ء په نتیجه کښې رسېدلې حصه د پاکستان سرحد سره نژدې تقریباً اووۀ سوه میله اوږد او یوسل پورې نژدې وړوکے فاصلې پورې دے. دې ځاے ته ازاد کشمیر وئیلے کېږي.

د دې لویدیز د پنجاب ضلعو راولپنډۍ او جهلم سره هم ملاوېږي. جنوبي حصه ئې د سیالکوټ او د قبضه شوے کشمیر سره ملاوېږي. میرپور د دې تحصیلونه دي خو په ۱۹۴۷ء کښې دې ته د ضلع حېثیت ورکړے شوے دے. د ازاد کشمیر ټولې تاریخي خبرې نۀ شم رقم کولے البته د اعوان خال خال خبرې چې د اعوان علوي سره تعلق لري رقم کړم. یوه ضلع میرپور کښې د اعوانانو ابادي د شمېر نه وتې ده. د منګلا جهیل سره خوا کښې ټول اعوانان دي. میرپور، کوټلي دننه او بهر ټوله ابادي د اعوانانو ده. بمبهر کښې هم د اعوانان ابادي ډېره وه. د ټولو کلو ښارونو نومونه اخستل ګران دي خو دلته اکثریت د ګولړه اعوان او مزمل کلګاني اعوانان ډېر بې شمېره دي. میرپور، ګولړه اعوانان، النار، بدربنیو، برسالي، قاضي، چکرفوان، ګران رائے، کلان رائے، پور ګهسټ، لورچکر، کهان ډوبے، جالي، باغ، ډهمک، چنبه، کیري اعوانان، پرهاړګولړے، ملکي چهمب، تحصیل بهمبر اټکر، ډډیال شامل دي.

دغه شان په ضلع باغ کښې هم بې شمېره اعوانان موجود دي. تحصیل دهیرکوټ، تحصیل حوېلي، د کهوټه نه ګېرچاپېره اعوانان موجود دي، د آرجه باغ، دهمني اعوانان، د ضلع پونچهـ ملوک شاهي



اعوانان، داعظم ابادملک اعوان، تحصیل راولاکوټ ډېرکلي، د ضلع پونچهـ ډېر کلي، واړۀ واړۀ ښارونه، یونین کونسلې ټولې د اعوانانو نه ډکې دي، ابادې دي. د تحصیل پلندرۍ واړۀ او غټ کلي کوځې، د تحصیل هیچره تقریباً پنځۀ لکهه ابادي ده خو د اعوانانو شمېر پکښې د ټولوقامونونه زیات دے. دغه شان مظفرابادکومه چې د ازاد کشمیر د زړۀ ښار دے یعنې دارالخلافه ده اعوانان بې شمېره دي. چمیلا.، بانډي حسن ګلیان سریان بټمنګ تلګران ګل بنه بال سیري او کړیال پجکران کټهرچوګلي مشهور ځایونه دي چې اعوانان پکښې بې شمېره د نورو قامونو په نسبت زیات دي. جیډیاړیان، سلام پور، پلنګ پالړي، راوټه کیل، کلاٹوټ اعوانان د نورو قامونو په نسبت زیات او بې شمېره بلکې د اعوانانو کورونه ګڼلي کېږي.

## د بلوچستان علوي پښتانۀ اعوانان:

د بلوچستان علوي اعوانان او علوي سېدان چې په مردم شمارۍ کښې د افغان پښتانۀ شمار کړي دي خو دوي هم لکه د خېبر پښتونخوا په شان په شناختي کارډونو کښې هم د قام په ځاے د اعوان نه بلکې افغان لیکلے شوے دے ځکه چې دلته هم رواج کلتور د پښتنو سره یو ځاے شوے دے دا اعوانان هم د مختلفو قبیلو اعوانانو سره تعلق لري. د افغان دور حکومت کښې دوي ډېر با اثر وو او دغه شان د دوي نه به ئې ټېکس مالیه نۀ اخسته. د برطانوي دور حکومت کښې به هم دوي نه ټېکس مالیه نۀ اخسته. په بلوچستان کښې د اعوانانو قبیلې زیاتې دي خو خصوصاً په دارالحکومت کوئټه کښې په لکهونو دي. په سبي کښې د اعوان ګوټهـ یو ډېر لوے کلے هم اباد دے. دغه اعوان سندهي یا براهوي ژبه وائي. د دې نه علاوه حاجي شهر جامي، ډېره مراد جمالي اوستر محمد ډېره الله یار، ډهاډکومیلو، مستونګ، لسبېله، نوشکي،

کجهلي، تربت، ګوادر، پجګور کښې هم ابادې دي. دې نه علاوه د بلوچستان په ښار چمن کښې ډېر زيات دي. ژوب ،ډوکي، لورلائي، قلعه عبدالله کښې اعوانان مېشته دي چې پښتو وائي پښتو ليکي او د پښتنو سره ئې شريک رسم و رواج او کلتور کوي. غم ښادي او رشته داري هم د افغانستان سره نژدې چمن د اسلامي ملک افغانستان کښې دننه په سرحدونو اعوانان اباد دي. د افغان مشهور کمانډر احمدشاه مسعود هم د اعوانانو قبيلې سره تعلق لري، دې هم اعوان دے.

کرال يا کرل قبيله هم اعوان دي. دا د افغان حکومت نه پورې راپورې ابادې دي.

مشواني اعوان، مشواني سيد محمدګيسو دراز اولاد دے. دوی د سيد محمد ګيسو دراز د بي بي څوک چې کاکړه وه د هغوي اولاد دے. دوي پشين او د پاکستان افغانستان په سرحدي علاقو اباد دي. دوي د خپلو نومونو سره مشواني اعوان ليکي. دوي هم دا وائي چې زمونږ مشران د عربو ملکونو نه راغلي وو هجرت ئې دلته کړے دے.

استرانه اعوان دسيدمحمدګيسو دراز يو بي بي کراني اولاد دے چې څان ته وردګ هانيه يا مراني وائي. دوي څان ته وردګ اعوان وائي. دوي د محمودغزنوي سره دمجاهدينوپه حېث راغلي وو. دغه خلک ډېر جګړمار هم دي. کوئټه کښې په نواک ګلستان کلي کښې ډېر بې شمېره اعوانان دي. دوي په پخواني هند په وخت د احمدشاه ابدالي سره راغلي وو او دلته مېشته شوي دي. زۀ د بلوچستان د ټولو ښارونو کلو د سردارانو نومونه څکه نۀ ليکم چې دغلته زما ډېر اديبان شاعران قلمکاران ورونه هم دي کۀ څوک پاتې شو خفه به شي. زۀ د بلوچستان د ټولو ښارونو کلو نومونه نۀ شم ليکلے چې هلته تلل ضروري دي بخښنه غواړم.



## په کراچۍ کښې اعوانان او اعواړان

د ابادۍ په لحاظ کراچۍ د پاکستان لويه صوبه سندھ دننه (۵) اضلاع دي. په دې ټولو ضلعو کښې په ګڼ شمېر اعوانان يا عواړان هم مېشته دي. هسې خو په تاريخي وجه د سندهۍ ژبې ويونکي هم بې شمېره دي. د پاکستان ګټ ګټ نه د روزګار د پاره کډې کړې دي. د ازاد کشمير، جهلم، چکوال، طلحه ګنګ، چکوال، سرګودها، خوشاب، اټک، هزاره، سوات، دير، باجوړ، مالاکنډ، بابوزئي، کاټلنګ، رستم، صوابۍ، شهباز ګړه، مردان د ټولو ښارونو کلو نه د روزګار د پاره کډې کړې دي. په دې ټولو ښارونو کلو کوم چې ما نومونه واخستل اعوان د پنجاب او کشمير نه او د پښتونخوا نه څومره اعوانان چې اباد دي د دوي زيات شمېر محموداباد، اعظم بستي، اخترکالوني، قيوم اباد، سلطان اباد، شېرشاه، بکره پيړهي، بلديه ټاؤن، ملير، لانډهي، لسبېله، بهټروېلج، کېماړي، بجلي نګر، اورنګي ټاؤن، پهاړګنج، اورنګي، ناتهاخان، ګوټھ عثمان اباد، نډاليا، هجرت کالوني، کلفټن، سولجربازار، ګلشن اقبال، ډيفنس هاؤسنګ سوسائټي کښې مېشته دي. د کراچۍ اعوانان د خېر ښېګړې او سياسي مذهبي او د ژوند په نورو اړخونو کښې برابر حصه اخلي.

### هغه ناوې چې په خپله ښائسته نۀ وي:

هغه ناوې چې په څان ښائسته نۀ وي
څوک ئې څۀ کاندي ښائست د مور او نيا

عبدالرحمان بابا

دا د الله خوښه ده چې خپل مخلوق ئې په خپل خپل قام سره پېدا کړے دے، د پاره د پېژندګلو، دلته د دې خبرې ذکر نشته چې فلانے قام

اوچت دے او فلانے قام ښکته دغه شان مونږ ته د نوح علیه السلام او د هغوي د زوي مثال څرګند دے. خبره د ایمان ده، د توحید ده، د رسالت ده، د اخرت ده، د تقوی یعني د پرهېزګارۍ ده. هرسړے به خپل ځان پخپله جوړوي کۀ هغه د دنیا څۀ بهادري وي او کۀ د اخرت د پاره څۀ کامیابي وي، بې شکه چې علویان یا اعوان د محمدالاکبر(رض) زوے د حضرت علي(رض) اولاد دے. د دوي د مړانې بهادرۍ ایمان افروزه لاره زمونږ د پاره بل مشال دے خو د هغې هرګز دا مطلب نۀ دے چې مونږ به د دغې سپېڅلو پلارانو نیکونو د دومې ملنګان یُو بې شکه د دغو اسلافو برکتونه پخپل ځاے زمونږ د پاره سیورے دے د هر سړي خپل خپل کردارونه وي چې خپل خپل کردار یعني عمل به خپل عمل جوړوي او عمل د لارې مل دے. د الله تعالی فضل ته به مو سترګې وي.

## پېشه په قوم نۀ بدلېږي:

حضرت شیش علیه سلام نستاجي، حضرت ادریس علیه سلام خیاطي، حضرت نوح علیه سلام نجاري، حضرت ابراهیم علیه سلام معماري، حضرت داؤد علیه سلام حدادي یعني مختلف هنرمندۍ کولې نو ولې د هغوي اولاد ته به خلک یا درزي، ترکان یا د لوهار په نوم سره یادوي بې شکه چې دا پېشې دې انبیاء علیه سلامو هم کړې دي. د وخت دغه شتۀ مند دې ورته سپک ګوري کۀ دغه مالدار سباله د چمیارۍ یوه کمپني یا یو کارخانه جوړه کړي یعني باټا سروس نو بیا ولې دغه خلک دوي ته سپک نۀ ګوري، حالانکې دغه چمیارانو ترقي کړې وي او د چمیارۍ کمپني چلوي. په دې معاشره کښې څومره غلط رواج دے. په حدیث شریف کښې ثابت دي چې حضرت علي (رض) پېزار ګنډلو. حضور(ص) حضرت علي (رض) ته پېزار ګنډلو والاوفرمائیل حضور(ص) حضرت ته خپل پېزار ورکړو او حضرت علي (رض) هغه پېزار ګنډل نو



ولې حضرت علي(رض) ته به خلک چمیار وائي یا به حسنېنو(رض) ته به خلک د چمیار زامن وائي. غلطې خبرې دي، قوم په کسب یا هنر سره نۀ بدلېږي چې په دنیا کښې استوګنه کوې خو څۀ کسب تجارت زمیداري مستري توب یا څۀ نوره وسیله به د روزګار خامخا کوے.

داسې لوے لوے خلک بزرګان دین چې ګلکارۍ، ترکاڼی درزیتوب، زمیدارۍ، ګډې بېزې څرول روزګارونه ئې کړي. دي حضرت علي(رض) خو امام وۀ، سید وۀ، ټولو سېدانو ته به خلکو چمیار وئیلے ځکه چې هغۀ د چمیارۍ کار هم کړے وۀ.

حضرت بهاالدین بن نقشبندي بخاري صاحب پیرصاحب د سېدانو نه وۀ، د هغۀ نوم سید امبرکلال وۀ. په تاریخ کښې هم هغه سیدامیرکلال درج شوے دے. د هغۀ پېشه وه نو ولې چې هغه دغه پېشه کوله نو د سیدانو د قوم نه به ئې خلک وباسي.

## قوم ــ او کسب:

الله تعالی خپل مخلوقات په خپل خپل قوم سره پېدا کړے دے او بې شکه چې اوچت والے یا برتري د الله تعالی حکمونه منل دي یعني تقوی پرهېزګاري ځان د حرامو نه بچ کول او د الله تعالی او د هغۀ د نبي(ص) اطاعت کول الله تعالی ته نزدې کېدل د دین اسلام په لاره تلل دین فطرت دے. په دے برتري حاصله کېدے شي د نورو مخلوقاتو نه اوچت والے دے په بعضو کښې د بعضو نه بعضې خلک د کسب په لحاظ سره مشهور شي نو هغه بیا هم خلک په هغه کسب سره یادوي پښتنو کښې دا خبرې ډېر عام دي او دغه کسب ګر چې هر یو کسب کښې مشهوروي د پېسې خاوندان ورته ډېر سپک ګوري او هم دغه کسب کوونکي له چې پېسې راشي نو ځان د یوسفزو خان خېلانو قبیلو ته رسوي حالانکې خپل قوم به ئې په یو غوري قوم سره یاد وي د هغۀ نه بیا خپل کسب هم هېر وي

او خپل ذات هم — زما په خیال نه بلکې دا حقیقت دے چې د ډېرو خلکو نه خپل قام ورک شوے دے او نامي ګرامي قومونو ته ئې ځان سپارلے دے. په دغه ښکاره قومونو کښې سېدان، اعوانان، یوسفزي، اخونزادګان، خټک، افریدي او داسې نور قومونه چې مشهور شوي دي. ځان ئې پېژندلے نهٔ دے او د پردي پلار زوے ئې ځان ګرځولے دے. دا داسې ده لکه چې څوک چاله د بلنې دعوت ورنهٔ کړي او هغه ورته د محفل په مېنځ کښې کښېني.

## جولا:

پخوا به جولاګانو چې مشینرۍ نهٔ وے، کپړې کمبل شړۍ او نور څیزونه په کډو جوړول. د جولاګانو د مختلف قبیلو سره نسبت دے. کهوکهر جولاګان د لاهور مغربي ډویژن سره تعلق لري، سندهو جولاګان د امرتسر او د لاهور ډویژن جریال جولاګان. دي په کانګړ کښې د بنارس بګهت کبیر هم جولا وهٔ، د دهٔ تعلیمات د هندوانو د پاره د لارې بل مشال وهٔ.

زمونږ د پښتنو په علاقه هم ډېر زیات دي چې اوس ئې روزګارونه بدل کړي دي خو دا جولاګان مسلمانان دي.

## کسب ګر:

د نن نه څهٔ مودې وړاندې خاندانونو به دخپل خاندان دپاره د کسب ګر خاندان نیولے وهٔ. دوي به دغه کسب ګر د غم ښادۍ په موقع د خبر ورو راوړو او داسې نورخدمتونه کول. فصل کښې به ئې ورله خپله برخه ورکوله. ځنې کسب ګراوس هم دبعضې خاندانونوسره خپل روزګار کوي. د دغو کسب ګروتعلق د نایانوسره دے دخپل قام ورته څهٔ پته نشته.



## چنګړیان:

چنګړیان دا خانه بدوش دي چې چرته ئې ښه وي هلته ئې شپه وي. څوک د وړوسامانونه جوړوي خرڅوي ئې، څوک ګډې بیزې څروي او هلته ورته تمبوان ښخ کړي، چرته چې ګیاګانې وي هلته ژوند کوي، کله خېرونه غواړي. د خپل وخت سره وخت تېروي، اکثر د شیعه ګانو سره د امامانو په میاشت په دیارۍ ځانونه هم ټکوي. دا خلک د څوکیدارۍ د پاره سپي هم ساتي. د ۱۹۱۵ء د سروۍ رپورټ په وېنا چنګړیان د امرتسر، لاهور، فېروزپور، فریدکوټ او سیالکوټ ډویژنونو کښې په ډېر شمېرې سره موندلے کېږي. دا مسلمانان دي د دوي ودونه د اسلام په رسم و رواج سره کېږي. د دوي وېنا ده چې مونږ د شمس تبریز اولاد یُو. دا خلک ځان ته چنګړیان نهٔ وائي بلکې چینا وائي. دوي وائي چې دا الفاظ چینا چهنا نه وتے دے.

## کولال:

د نن نه څهٔ موده وړاندې به کولالانو د خاورو نه لوښي جوړول او بیا به ئې خرڅول. ځنې کولالان اوس هم د خاورو نه لوښي تنورونه، منګي، چاټۍ او داسې نور څیزونه شامل دي، جوړوي. دې نه علاوه به ئې د ګودر نه شګې ویستلې، ځنې اوس هم د ګودر نه شګې راوباسي. وائي چې د کیور تهله کلال ساهده سنګهه کلال نه دا نسل راروان دے. وائي چې په کلالانو کښې څوک مالدار شي نو هغه ځان ته ککے زئي وائي.

بعضې مسلمانان کلالان د راجپوت کهتري د نسل نه ځان ګڼي. ځنې کلالانو ته شېخ هم وائي. ګوړهي کرنال، حصار، رتهنت، سرها. انبالا، لدهیانه، شملاء، جالندهر، هوشیارپور، کانګړ، سیالکوټ، لاهور، ګوجرانواله، فېروزپور، پېښور، نوښار، اکوړه خټک، مردان، صوابۍ، سوات د ملک په هر ښار او کلي کښې دا خلک په ډېر شمېر

تاریخ د اعوانانو سره اباد دي. سره د دې نه چې اوس ئې روزګارونه بدل کړي دي او ... نورو خلکو تجارتونه، سرکاري نوکرۍ او داسې نور روزګارونه هم کوي. (نقل: پنجاب کاسټس سرائټ سن).

## دوبیان:

دوبیان په ټولو علاقو کښې او په اکثرو ژبو کښې هغه خلکو ته وائي چې دوي جامې کپړې وینځي. لاهور او پېنډۍ کښې د چهمبا قبیلو په نوم مشهور دي. دهوبي په ټول برصغیر کښې د دستکار په نوم هم یادېږي. دوي له هم لکه د نورو پېشه کسب ګرو په شان لوے لوے خاندانونه په فصل کښې څۀ حصه ورکوي. اکثر د دوي ښځې د لویو لویو زمیدارانو په کورونو کښې جامې کپړې وینځي. دهوبیان د نایانو نه کم او د کلالانو نه زیات حېثیت لري. بعضې ځایونو کښې دهوبي ته بارتینا هم وائي. بعضې ځایونو کښې ورته خلیقه هم وائي.

بارام، مهمل، کوهان، اګرے، نجرائے، اخرا، سارل، سپل، کهوکهر او د کمبوه خاندانونه اکثر دهوبیان دي.

## چمیار:

د څرمنو پېزار ګنډلو والا ته چمیار وائي چې څوک پېزار جوړوي هغوي ته هم چمیار وائي. پخوا زمانه کښې چې به د زمیدارانو پېزار ګنډلو نو ورته به ئې د موسم مطابق غله غنم جوار په کال پس ورکول. چمیار د چمار نه وتے دے. دا لفظ د سنسکرت نه وتے دے. لفظ چارم کارا یا د هډوکو سره لوبې کول دي. د انګرېزانو په دور کښې به ئې د چمیارانو نه بیګار کار اخستلو. دوي د باهتیا بونیا او د ډهیډ قبیلو سره تعلق لري.



## ګجران:

د پښتنو په ټولو علاقو کښې هم لکه د پنجاب په شان خلک مېښې ساتي. دلته ورته خلک ګجران وائي. ګډبه او ګجر کېدل څۀ وي چې مېښې ساتي هغه ګجر دے او چې ګډې ساتي ګډبه، خو چې د ګېډې دوزخ پرې درې وخته وساتي. د نصیبې خبره ده چا له یو روزګار ښۀ شي او چا له بل. مېښې یا نور څاروي وریورې ښې رانۀ شي په چا سپېرې راشي او چا باندې دومره ښې راشي چې د محلونو مالکان ئې جوړ کړي. پخوا پخوا چې مونږ واړۀ وو د یخو یخو ځایونو نه کوهستاني ګجران راتلل او دلته به ئې د یخنۍ موسم تېرولو او بیا به په اوړي کښې واپس تلل. په بعضې ځایونو کښې اوس هم دغه خلک د ژمي په موسم کښې کډې راوړي او په اوړي کښې واپس کېږي. د ګجر قبیلې څۀ بلها شې ډلې دي چې په سوونو دي آوانه، امرانه، آمني، اوهانه، اووال، امارتا، الکاري، اتالا، امبک، اتري، المیم، اندوه، افتالي، انته، امروال، اونتا، برسویه، بډګجر، بیلي، مکهن، بډګجر، بیرګجر او داسې په سوونو نورې ډلې دي. (نقل شاهان ګوجرمرتبه ابوبرکات مولوي عبدالمالک خان صاحب ګجرات).

## ډېنډتي:

دې خلکو به اکثر برسټنې تولایانې د مالوچو د ډېنډت په لرګي وهل او په لارو کوڅو کښې به ګرځېدل چې اوس نشته.

## ګډبانۀ:

چې څوک ګډې بیزې څروي هغوي ته ګډبانۀ وائي. ګډبانۀ د ملک په ګټ ګټ کښې مېشته دي. ګډبانۀ د دې ګډو بیزو نه پې او وړې د نفې دپاره په بازارونو کښې خرڅوي اوپه دې ژوندژواک تېروي. ځني

سره اباد دي۔ سره د دې نه چې اوس ئې روزګارونه بدل کړي دي او لکه د نورو خلکو تجارتونه، سرکاري نوکرۍ او داسې نور روزګارونه هم کوي (نقل: پنجاب کاسټس سرائټ سن)۔

## دوبیان:

دوبیان په ټولو علاقو کښې او په اکثرو ژبو کښې هغه خلکو ته وائي چې دوي جامې کپړې وینځي۔ لاهور او پېنډۍ کښې د چهمب قبیلو په نوم مشهور دي۔ دهوبي په ټول برصغیر کښې د دستکار په نوم هم یاد دي۔ دوي له هم لکه د نورو پېشه کسب ګرو په شان لوے لوے خاندانونه په فصل کښې څۀ حصه ورکوي۔ اکثر د دوي ښځې د لویو لویو زمیندارانو په کورونو کښې جامې کپړې وینځي۔ دهوبیان د نایانو نه کم او د کلالانو نه زیات حېثیت لري۔ بعضې ځایونو کښې دهوبي ته بارتینا هم وائي۔ بعضې ځایونو کښې ورته خلیقه هم وائي۔
بارام، مهمل، کوهان، اګرے، نجرائے، اخرا، سارل، سپل، کهوکهر او د کمبوه خاندانونه اکثر دهوبیان دي۔

## چمیار:

د څرمنو پېزار ګنډلو والا ته چمیار وائي چې څوک پېزار جوړوي هغوي ته هم چمیار وائي۔ پخوا زمانه کښې چې به د زمیدارانو پېزار ګنډلو نو ورته به ئې د موسم مطابق غله غنم جوار په کال پس ورکول۔ چمیار د چمار نه وتے دے۔ دا لفظ د سنسکرت نه وتے دے۔ لفظ چارم کارا یا د هډوکو سره لوبې کول دي۔ د انګرېزانو په دور کښې به ئې د چمیارانو نه بیګار کار اخستلو۔ دوي د باهتیا بونیا او د ډهیډ قبیلو سره تعلق لري۔



## ګجران:

د پښتنو په ټولو علاقو کښې هم لکه د پنجاب په شان خلک مېښې ساتي. دلته ورته خلک ګجران وائي۔ ګډبه او ګجر کېدل څۀ وي چې مېښې ساتي هغه ګجر دے او چې ګډې ساتي ګډبه، خو چې د ګېډې دوزخ پرې درې وخته وساتي۔ د نصیبې خبره ده چا له یو روزګار ښۀ شي او چا له بل۔ مېښې یا نور څاروي وریورې ښې رانۀ شي په چا سپېرې راشي او چا باندې دومره ښې راشي چې د محلونو مالکان ئې جوړ کړي۔ پخوا پخوا چې مونږ وارۀ وو د یخو یخو ځایونو نه کوهستاني ګجران راتلل او دلته به ئې د یخنۍ موسم تېرولو او بیا به په اوړي کښې واپس تلل۔ په بعضې ځایونو کښې اوس هم دغه خلک د ژمي په موسم کښې کډې راوړي او په اوړي کښې واپس کېږي۔ د ګجر قبیلې څۀ بلها شې ډلې دي چې په سوونو دي آوانه، امرانه، آمني، اوهانه، اووال، امارتا، الکاري، اتالا، امبک، اتري، المیم، اندوه، افتالي، انته، امروال، اوتنا، برسویه، بډګجر، بیلي، مکهن، بډګجر، بیرګجر او داسې په سوونو نورې ډلې دي۔ (نقل شاهان ګوجرمرتبه ابوبرکات مولوي عبدالمالک خان صاحب ګجرات)۔

## ډینډتي:

دې خلکو به اکثر برستنې تولایانې د مالوچو د ډینډت په لرګي وهل او په لارو کوڅو کښې به ګرځېدل چې اوس نشته۔

## ګډبانۀ:

چې څوک ګډې بیزې څروي هغوي ته ګډبانۀ وائي. ګډبانۀ د ملک په ګټ ګټ کښې مېشته دي. ګډبانۀ د دې ګډو بیزو نه پې او وړۍ د نفې دپاره په بازارونوکښې خرڅوي اوپه دې ژوندژواک تېروي. څني

خلک ورته شپونکے هم وائي. دې خلکو دا پېشه د صدو صدو نه خپله کړې ده. ځني خلک خپلې زمیدارۍ هم کوي او ګډې بیزې هم ساتي. دې کښې داسې ګډبانۀ هم شته چې د وخت سره د ګډو لېن دېن وکړي او ګډېد شي. ځنو ګډبنو ته د خپل قام پته هم نشته ځني ګډبانۀ د اعوانانو دعوه هم کوي. ضروري نۀده چې کسب دے قام وګرځي او بعضې خلک ځنګه چې د زمکو کرونده کوي. دغه شان ګډې هم ساتي په دوي کښې داسې ډېر خلک هم شته چې د پخوا نه د خپلو زمکو جائدادونو خاوندان دي. په خپل کسب فخر کوي. دا د دې خاورې خپل خلک دے. دوي وائي چې ګډې بیزې حضرت شعیب علیه السلام حضرت موسیٰ علیه السلام او حضرت محمد (ص) ځاروي څرولي دي. دې کښې ثواب دے بعضې خلکو بس ګډې ساتلې دي او ځان ته اعوانان وائي بعضې خلک د اعوان په مطلب نۀ رسي خو بس نوم ئې اورېدلے وي. د کسب د قوم سره تعلق شته او نۀ په ګډو بیزو څرولو کښې جنت دے. د دغه ګډو بیزو اوس نوم نخښه پته نشته بعضې پکښې د مېښو فارمونه چلوي، اوس به دوي ته ګجران وایو دا قسم خلک اوس د نورو کاروبارونو او روزګارونو سرکاري نوکرو او یا د خپلو زمکو سمبالول او په آرمي پولیس ډاکټران وکیلان او په ښو ښو عهدو باندې په روزګار دي.

دا خلک ځان ته ګډبانۀ وائي د ځنو ګډبنو دا دعوه ده چې مونږ بس ګډبانۀ یو اعوانان نۀ پېژنو، مشران وائي چې د علي (رض) اولاد دے. بعضې ګډبنو چې مخ په وړاندې تلي دي یعنې د پیسې خاوندان شوي دي هغوي بیا تجارت سوداګري وغیره شورو کړې ده او هغوي د ملک لوے لوے سوداګر دي، ځني ګډبانۀ په قوم او کسب هم نۀ پوهېږي او لکه د سکهانو سکهان شوي دي او ځني تعلیم یافته شوي دي، چې دا کسب ئې هېر کړے دے. په دې کښې اوس ډاکټران وکیلان پروفیسران او انجنیران



شوي هم دي. بعضې ګډبانۀ تاوې ماوې کوي، خو د خپل قوم ورته هېڅ څۀ پته نشته. بعضې ګډبانۀ شته چې شجرې د خپل قوم لري او د خپلو جائدادونو خاوندان دي او ځان د محمدالاکبر اولادګڼي خوبیا هم دا وایم چې کسب جدا شے دے او قوم بېل څیز دے. قوم د کسب سره تعلق نۀ لري. کسب څۀ وخت پس هم بدلېدے شي خو قوم هیچرې په کسب نۀ شي بدلېدے.

## د اعوان قوم د بېدارۍ تحریکونه:

### او لعل محمد اعوان هستم خېل

د اعوان قوم د بېدارۍ غرږ کښې برخه اخستونکي مشران د قوم یو قیمتي اثاثه وي ځکه چې داسې خلق ډېر کم وي چې خپل قوم ته څوک د شعور ځلا بخښي. دا قسم خلق د نورو خلقو نه مختلف وي، دغه ګران قدر خلق هېرول د قوم سره ډېر لوے ظلم دے، ځکه زۀ اول د یو داسې قامي مشرپه حواله سره ذکر کوم چې زما د سترګو په وړاندې ئې دغه قامي بېرغ اوچت کړے دے. په هغوي کښې لعل محمداعوان هستم خېل یوه نامه وړې هستي هم ده، چې د خپل وخت سره ئې خپل ژوندي کردارونه سرته کړي دي او چې د دنیا نه رخصتېدو نو د علم د ښار د دروازې تول رازونه ئې خپلو اهلو عیالو ته لکه د بل مشال ښکاره کړۀ. د دۀ یقین وۀ چې زما په اولاد کښې به یوه ورځ زماد نیکونو هغه پټ رازونه ښکاره کړي، کوم چې په پښتنو تاریخونو کښې د سره نوم نۀ لري ماسوائے د نورو ژبو اوکۀ داسې وشي نو زماروح به خوشحاله شي.

دغه ژوندے کردار کوونکے زما پلار بابا جان زوے د هستم خان څوک چې په دوېم جنګ عظیم کښې فرانس ته هم تلے وۀ زوے د سیدمیر د چا سلسله نسب چې د مزمل کلګاني ته رسېدلې ده او مزمل کلګاني د

قطب حیدرشاه بابا زوے دے د چا چې سلسله نسب محمد الاکبر (رض) زوے د علي (رض) ته رسیدلې ده۔

## پېژندګلو او شجره د محبت حسېن اعوان:

حاجي ملک محبت حسېن په ۲۴ اګست ۱۹۴۹ء په ایبټ اباد په بیروټ کلي کښې پیدا شوے دے۔ تاریخ علوي اعوان چاپ شوے کتاب ۱۹۹۹ء په صفحه ۴۹۱، تحقیق الانساب جلد اول ص ۹۴، تحقیق الانساب جلد دوېم ص ۱۷۵۔ ۵۷۵، معتبر تاریخ علوي اعوان ص ۳۰۴، تاریخ مطب شاهي علوي اعوان صفحه ۶، په حواله محترم محبت حسېن اعوان شجره نسب داسې ده:

محبت حسېن زوے د محمدعبدالجلیل زوے د میا میرحسن زوے د محمدنور زوے د قاضي تاج محمد زوے د قاضي عبدالشکور زوے د حافظ جان محمد زوے د مبارک خان زوے د فتح نور زوے د عبدالعزیز زوے د عبدالغفور زوے د چراغ زوے د سیدملک زوے د غلام مصطفیٰ زوے د احمدخان زوے د مهل خان زوے د تولال خان زوے د کالاخان زوے د لعل خان زوے د جمعه خان زوے د ګوندل خان زوے د ربیع زوے د تونن جوګي زوے د دیونن ترمهد زوے د پرمدهو زوے د طور زوے د بهادرعلي زوے د حسن دوست زوے د احمدعلي زوے د عبدالله ګولړه زوے د قطب شاه غازي زوے د د ابوعلي عرف میر عطاالله غازي زوے د طیب غازي زوے د محمدغازي زوے د علي غازي زوے د محمداصف غازي زوے د عون قطب شاه غازي لقب بطل غازي زوے د علي عبدالمنان زوے د محمدالاکبر زوے د حضرت علي (رض) کرم الله وجهه

محترم محبت حسېن اعوان وائي چې زهٔ په ۱۹۹۱ء کښې حج



له تللے وم، چې اتفاقاً مکه معظمه کښې د مظفراباد بابائے اعوان حاجي ګل زمان قاصد د مانسهرې، قیوم پیرزاده اعوان دهري پوراو د پېښور د نوروعلاقواعوانانوسره چې مې د ماسپخین مونځ یو ځاے وکړۀ او بیا خپلو کښې مو ګپ شپ لګولو۔ زمونږ ځاے د خانه کعبې شریفې سره نزدې وۀ۔ نو اکثر به مو طواف یوځاے کولو۔ یوه ورځ مې ټولو ملګریو ته درخواست وکړۀ چې نن به طواف کوو او د دې ثواب په بدله کښې به د الله تعالیٰ نه دا دعا غواړو چې تاریخ علوي اعوان مکمل کړے۔
مونږ طواف وکړۀ او بیا مو مقام ابراهیم (ع) سره په جمع دعا وکړه، چې یا الله محبت حسېن اعوان ته د مستند تاریخ اعوان لیکلو او چاپ کولو سعادت نصیب کړے۔ د عمرې کولونه پس بازار کښې د کتابونو غټې غټې دوکانونه وو، یو دوکان ته داخل شو، څهٔ ګورم چې د ابن حزم کتاب جمهرت الانساب العرب باندې مې نظر پرېوتهٔ۔ چې ما کتاب کولاؤ کړو نو د محمدالاکبر بن علي د اولاد ذکر په کښې په تفصیل سره لیکلے وۀ۔ په دې کتاب کښې قطب حیدرشاه او ورپسې د لسو نومونو شجره موندې شوه، چې د مرات مسعودي په حوالې سره مسلسل کتابونو کښې چاپ کیده۔ جمهرت الانساب العرب نهٔ صرف د اعوان شجره مکمل کړه بلکې تاریخ اعوان ئې خپل منزل مقصود ته ورسوۀ۔ د دوي صاحبانو دعا قبوله شوه او مستند کتاب تاریخ علوي اعوان چاپ شو۔ خپلو اعوانانوته په لاس ورغلے دے۔ الله تعالیٰ دې محبت حسېن ته د تاریخ اعوان د دومره ډېر لوے خدمت جزا ورکړې۔ امین
محترم محبت حسېن ورومبے د اعوان تاریخ دان دے، چاچې د مولوي نورالدین کفري زادالاعوان او باب الاعوان غوندې کتابونه غلط وګرځول او د دې قسمه دروغژنو فرضي نومونو باندې مشهور شوي کتابونه میزان القطمي، میزان هاشمي او خلاصته الانساب تردید هم وکړۀ۔ محترم

محبت حسین د تاریخي کتابونو په حوالې سره خپل دلیلونه ثابت کړه، چې په برصغیر او پاک هند کښې اباد علوي اعوان د حضرت علي (رض) د زوي حضرت محمدالاکبر رض (محمدحنیف) او حضرت عمرالاطراف زوے دحضرت علي کرم وجهه په اولاد کښې چرته هم چا دا ثابت کړے نه دي، چې د حضرت عباس علمدار اولاد پاک وهند کښې موجود وي. بلکې دا ثابت شوي دي چې د حضرت عباس (رض) علمدار زوے د حضرت علي اولاد په عرب ملکونو کښې په ډېر شمېر سره موجود دي. د انساب په یو کتاب عربی فارسی تاریخي کتابونوکښې دعباس (رض) اولاد هند ته راتلل ثابت شوي نۀ دي. تر دې چې مثقلته اطالبیه عربی (۴۷۱) هجری د حضرت ابوطالب ټول اولاد چې چرته چرته هم هجرت کړے دے، په هغې کښې هم څۀ ذکر نشته چې د حضرت عباس اولاد برصغیرپاک وهند ته په هجرت تلي دي. نۀ بغداد کښې د مرات الاسرار او مرات مسعودي مصنف حضرت عبدالرحمٰن چشتي خپله شجره نسب د حضرت عباس سره تړلې ده. خو څان ته ئې اعوان نۀ دي وئیلي. تاریخ علوي اعوان د پنځوسو کتابونو نه سېوا تاریخي کتابونو کښې حوالې موجود دي. د دغې تاریخي حوالوېه ډاډ د محمدالاکبر او عمرالاطراف سره ملاوېږي.

میزان قطبي میزان هاشمي تش په نوم یاد شوے کتابونه دي. چې چرته ئې هم نوم نشته هیڅ حقیقت نۀ لري او کۀ وي نو دغه کتابونه دے څوک څرګند کړي.

## د کریم خان اعوان بین المللي خدمات:

محترم محمدکریم خان اعوان د اداره تحقیق الاعوان نائب چېرمېن دے او دې په ۱۵ جنوري ۱۹۶۴ء دین سنګوله کښې پیدا شوے دے. بین الاقوامي تعلقات، ایم اے تاریخ اسلام، بي کام، بي ایډ، ایل



ایل بي ډګری ئې اخستې دي. ازاد حکومت ریاست جمو کشمیر سول سیکټریټ پرائیویټ سیکرټري دے. جدامجد حضرت بابا سجاول علوي قادري دے. د دوي شجره نسب څۀ داسې ده:

نمبردار محمد خان زوے د

محمد کریم خان زوے د حشمت خان نمبردار غلام علي زوے د نمبردار فیض بخش خان زوے د نمبردار تاج محمدخان زوے د نمبردار اول سنګوله زوے د تابوخان زوے د مومن خان زوے د رحمت خان زوے د کالاخان زوے د کلوخان زوے د محمودخان زوے د ګهراج خان زوے د فیروزخان زوے د حضرت بابا اسماعیل خان زوے د حضرت بابا بهرام خان زوے د حضرت حمیدالله عرف بډهابابا زوے د حضرت بابا سادم خان زوے د حضرت سجاول علوي قادري بابا زوے د بابا پیوخان زوے د بابا موپال خان زوے د بابا کالاخان زوے د بابا قابل خان زوے د سانس خان زوے د خلیل خان زوے د مزمل کلګان زوے د سالار قطب حیدرغازي زوے د عطاالله غازي زوے د طاهر غازي زوے د طیب غازي زوے د شاه محمد غازي زوے د شاه علي غازي زوے د اصف غازي زوے د عون غازي زوے د عون عرف قطب شاه غازي لقب بطل غازي جداعلی قطب شاهي علوي اعوان زوے دعبدالمنان زوے دحضرت محمدالاکبر(رض) محمدحنیفه زوے د حضرت علي کرم وجهه(رض).

## ملک امجدحسین علوي اودهغۀ ملي خدمتونه:

ملک امجدحسین علوي دضلع چکوال وادي کلرکهار په جهامره شریف کښې د قطب شاهي اعوانانو په درنه کورنۍ کښې پیدا شوے دے.

د دوي بین اللملي خدمتونه د قدر وړ دي دوي. د پاکستان تنظیم الاعوان موجوده صدر هم دے. د دوي د قوم د خېر ښېګړې او د یتیمانو د پاره ډېرې د قدر وړ هلې ځلې کړې دي. دوي صدر ورلډ پیس مومنټ

پاکستان، صدر پبلک آفېئرزکونسل، صدر نېشنل پیس اېنډ جسټېس کونسل، نائب صدر اېمنسټي انټرنېشنل، چېرمېن سټېزن فورم. صدرچکوال اېسوسي اېشن، نائب صدر اعوان فاونډېشن. چیف اېډیټراعوان خبرنامه، چېرمېن اعوان بک بورډ پاکستان په عهدو سره خپل خدمتونه سرته رسوي.
د اسلام اباد غونډې ښار کښې چې د ملک دارالخلافه ده. د دوي په وجه د اعوانانو ټول خدمتونه د دوي په سر دي. د دوي ملي خدمتونه خان له بېل کتاب غواړي. د دوي شجرهٔ نسب په دې ډول ده:

آرتضٰی علي محسن و مقرب علي محسن رضا بن ملک امجدحسېن علوي اعوان سکنه جهامره علاقه ونهار) صدر تنظیم الاعوان علوي ګروپ

صولت رضا وعون علي بن ماجدعلي، ماجدعلي و محسن رضا بن ملک امجدحسېن علوي جهامره (وعلاقه نهار) صدر تنظیم الاعوان پاکستان علي ګروپ) بن ملک اقبال حسېن، ملک بشیرحسېن و ملک اقبال حسېن و ملک ملازم حسېن و ملک سبطېن حسېن وملک صفدرحسېن بن ملک شاهراخان ملک شاهراه خان و ملک غلام علي بن ملک مقرب خان بن ملک فتح خان بن ملک امیرخان عرف میرن (ګوټ مرښال) بن محمدیار بن برخوردار و امیرخان و شهرباز (اولاد نزد) پنډوري ضلع پنډۍ کښې اباد دي بن اسلام خان ګوټ سلمال) بن میاخان المعروف بهائي خان ګوهرخان بن الله یار بن جیون خان بن حېدرخان (ګوټ حېدرال) حضرت علي کرم الله وجهه زوے د محمد بن حنیفه زوے د غازي عبدالمنان زوے د غازي بطل زوے د ملک آصف زوے د غازي عمر زوے د غازي محمد زوے د حضرت ملک قطب شاه شازي نورالله عطاءالله غازي طاهر غازي طیب ملک شاه محمد کندلان ملک عالم دین



سبوح ملک بدیع الزمان ملک رحمان ریکهي حضرت ملک مانک ملک مهرعلي بهرتهہ ملک غازي کان ګاجي ملک قېصرخان کبیرملک ډهېرو دهر ملک جهان خان جهام ملک خنجرعلي خنجر ملک بروچ فېروزملک الله جوایا ملک حېدرخان ملک جیون جون ملک الله یار الهوملک ګوهر ملک میرن خان ملک محمدیار ملک برخودار ملک اسلام ملک بهائي ملک مقرب خان ملک شاهراه خان ملک اقبال حسېن ملک امجدحسېن علوي اعوان ملک ماجدحسېن ملک عون علي ماجدملک محمدصولت رضا ملک او محسن رضا.

## ملک مشتاق الٰهي اعوان:

ملک مشتاق الٰهي اعوان د تحقیق الاعوان پاکستان د شعبه تحقیق و تالیف چیف ارګنائزر دے، دې د وادي سون سکېسر د قطب شاهي علوي اعوان د حضرت محمد حنیفه (رض) سره تعلق لري. دوي ځلوېښت کاله په تحقیق باندې تېر کړي دي. د دوي د تحقیق د عربۍ فارسۍ پخواني کتابونو نه پس د دې خبرې پخلے شوے دے، چې قطب شاهي علوي اعوان د قبیله محمدحنیفه زوے د حضرت علي کرم وجهه اولاد دے.

د دوي په وجه او سرپرستۍ کښې د منبع الانسان فارسي اتهٔ سوه دېرش هجرۍ کښې ملاو شو. د دې کتاب مطالعه حضرت حنیفه پوتے عون عرف قطب شاه غازي زوے د علي زوے زوے د عبدالمنان د قطب شاهي اعوان قبیلې جدامجد دے او د دهٔ د اولاد نسب سالار مسعود غازي قطب شاهي علوي اعوان د محمودغزنوي خورئے هندوستان ته راتګ تصدیق کولے شي. د ابن بطوطه مطابق د هندوستان اکثر ملکونه دوي فتح کړي دي.

ښاغلے مشتاق الٰهي اعوان د ډېرو کتابونو تحقیق کوونکے او

د ډېرو ښو صفتونو مشهور سړے دے. د دوي په وجه منبع الانساب فارسي ومندۍ شو چې په کښې د قطب شاهي اعوان قبیلې جدامجد عون قطب شاه غازي تولہ شجره ښکاره کړې شوې ده.

## طارق محمود اعوان:

طارق محمود اعوان د چوهړ پنډۍ سره تعلق لري. دوي د اداره تحقیق الاعوان پاکستان د پنجاب چیف ارګنائز دے او چیف اف روپړ اعوان قبیلې نه دے. دوي د محبت حسېن او کریم خان اعوان سره ملکي او غېر ملکي دورې هم کړې دي دوي د محبت حسېن په وېنا د ایران او عراق تحقیقي دورې هم کړې دي، چې د دې خبرې پخلے وشي چې میزان قطبي میزان هاشمي په باره کښې تحقیق وشي چې د دې څۀ ثبوت شته او کۀ هسې بې نومه قیصه ده. دوي د خپلو تحقیقونو روداد کښې هم د دې خبرې رد کړے دے چې زادالاعوان او باب الاعوان او د ملا اختر اعوان غوندې کتابونه هیڅ څۀ وجودنۀ لري او نۀ ئې د حقیقت سره څۀ تعلق دے.

## شوکت محمود اعوان:

شوکت محمود اعوان مشهور محقق او ریسرچ سکالر حضرت علامه یوسف جبرئل زوے دے. د دۀ پېژندګلو د وادي سون سکېسر د علاقې بهکي سره ده حضرت علامه صېب بې شمېره کتابونه لیکلي دي. تاریخ علوي اعوان قبیله اعوان په باره کښې ډېر په دلیل سره د دې خبرې جواب ورکړے دے چې علوي اعوان قبیله د حضرت عباس (رض) سره تعلق لري بلکې د محمدالاکبر سره تعلق لري.

## ښاغلے مختصرخان اعوان:

مختصر خان اعوان د ډهیري ملنګ خان مکړیا ضلع بټ ګرام صوبه خیبرپښتونخوا سره تعلق لري. دوي د محترم محبت حسېن اعوان د ډېرو



خدمتونو نه متاثر شو نو د اداره تحقیق الاعوان سره ملګرے شو. دې د خیبرپښتونخوا چیف ارګنائزر دے او د اداره تحقیق الاعوان د پاره خپلې هلې ځلې په ډېر هنرمندۍ تر سره کوي. د دوي شجره نسب څۀ داسې ده:

مختصرخان اعوان زوے د الحاج کثیرخان زوے د جهنډو خان زوے د کمالیه خان زوے د اسلام دین خان زوے د اله دین خان زوے د الیاس خان بابا زوے د عبدالله خان بابا زوے د ګل خان بابا زوے د مستهرخان زوے دشادم خان زوے داحدخان زوے د محمدخان زوے د فتح خان زوے د سکندرشاه زوے د هاشم زوے د موتمرشاه زوے د رحیم شاه زوے د فضل شاه زوے د یاسین شاه زوے د چچاشاه زوے د بدیس شاه زوے د بهادهوشاه زوے د سندوج شاه زوے د بدهوشاه زوے د ګوراشاه المعروف عبدالله ګولړه زوے د ملک قطب حېدرشاه (جد دوم) زوے د عطاالله غازي زوے د طاهر شاه غازي زوے دطیب غازي زوے دقطب شاه علوي اعوان زوے د علي عبدالمنان زوے د محمدالاکبر(رض) زوے د حضرت علي کرم وجهه.

## ملک شوکت حیات خان:

دوي د متیالمیره راولاکوټ سره تعلق لري د ازاد کشمیر د محکمه سپورټس یوتهـ کلچر ډائرېکټر دے. د اداره تحقیق الاعوان پاکستان او ازاد کشمیر چیف ارګنائز دے او د مرکزي تنظیم الاعوان پاکستان نائب چېرمېن هم دے.

## حاجي صدبرګ خان:

د اعوان قوم تحریک په هغه ورځ رڼا خوره کړه چې کله نه عسکرخېلو د خپلو ماماخېلو اعوانانو په هسکه پېژلے د لار ملګري شول. په دغه ورځو کښې به ځاے په ځاے خبرې کېدې خو د لار د تللو هڅه چا نۀ شوه کولې چې حاجي صدبرګ راپاڅېدو او د دې قامي تحریک مشري

ئې په لاس واخسته چې په کښې صدر رياض خان او شريک سکتر زهٔ او نائب صدر استخار اعوان او داسې نور ملګرو نومونه قابل ذکر دي ملګري شول. دا قامي تحريک تر لرې لرې خور شهٔ چې په کښې اووهٔ دښمنۍ په روغه جوړه رضا شول ځاے په ځاے په کلو کښې حجرې تنظيمونه جوړ شول. دغې قامي تحريک اعوان قامي جرګو ته په مردان کښې ډېره لويه فايده رسولې وه. هسې کهٔ څوک دې پله نظر وکړي نو عسکرخېلو اعوانانو د خپلو ماماخېلو اعوانانو سره د قاموليۍ خپل حق په ډېره مينه ادا کړے دے.

## د اعوان قوم دوېم تحريک:

د اعوان قوم د بېدارۍ په سلسله کښې دوېمه کړۍ د هغې ورخې نه په وجود کښې راغله کله نه چې د طاهرخان اعوان، ما سره د خان سيمنټ والا ذکر کله ناکله کوهٔ چې ګلزارخان اعوان په اعوانانو ډېر فخر کوي او غواړي چې د اعوانانو جرګه کښې خپل يو فعال کردار ادا کړي. زهٔ هم د ګلزار اعوان سره ملاو شوم چې بيا وروستو دغه ملاقات د يو فعال ټولنې روح اختيار کړهٔ.

## معراج علي اعوان:

صدرمعراج علي اعوان او زهٔ سېکټرشوم، دمعراج علي اعوان مشران د علاقه چچ نه کوټرپان ته راغلي وو او بيا وروستو دوي محبت اباد کښې مېشته شو معراج علي اعوان او د دهٔ زوي عامر اعوان زما سره په دې کتاب کښې ډېره مرسته کړې ده. زهٔ د دوي ډېره مننه کوم.

## ډاکټر اسماعيل اعوان:

هر کله چې د لارې تګ کښې اخلاص شامل شي نو د لارې تګ ډېر اسان شي. دغه اخلاص مند ډاکټر اسماعيل اعوان په دې ټولو تحريکونو



کښې زمونږ سره اوږه په اوږه بې د څهٔ عهدې نه کلک ولاړ دے په دې ټولو قامي تحريکونو کښې د ډاکټر اسماعيل اعوان پوره پوره لاس دے. زهٔ د دهٔ مينې ته سلام کوم.

## محمداقبال اعوان او ارشد اعوان:

د مردان د اعوان په قامي تحريکونو کښې د دوو نامه ورو ذکر چې ونهٔ شي نو دا به زياتې وي. په دې نامه ورو کښې ښاغلے محمداقبال اعوان چې زمونږ دوه څله سرپرست اعلی هم جوړ شوے دے دوي د مردان بازار صدر هم پاتې شوي دي. ښاغلے اقبال اعوان ډېر مېلمه دوست دے او په خپلو عزيزانو ډېر فخر کوي.

او دوېم کردار کوونکے ارشد اعوان چې مونږ سره به کلي په کلي ګرځېدهٔ او خپل قامي حق ئې تر ډېره حده ادا کړے دے. د دوي مشران د کاکا صېب نه په ۱۹۵۵ء کښې راغلي وو د دې نه مخکښې د دوي مشران په وجه د قحط سالۍ د موضع توت نکاخېل عيسیٰ مياوالي نه په کډه حضرت کاکاصېب ته راغلي وو.

صفدر کاکا د دعوت تبليغ کار هم کوي او د اعوانانو ورونو سره غم ښادي ډېره په نره پالي د تنظيم اعوان کلک غړے دے.

## معرفت شاه کاکا:

معرفت شاه کاکا هم په سترے نهٔ دے چې چرته کښې هم منډه ترړه وي، لاس په نامه د خپلو کشرانو مشري کوي.

طاهرخان اعوان د نوي کُول يو غېرتي غړے دے، د ډېر وخت نه په دې انتظارکښې دے چې کله به د اعوانانو تحريک يو انقلابي شکل اختياروي چې کله پښتانهٔ اعوانان په خپلو پښو ودرېږي او خپل حق ترلاسو کړي.

## حېدرعلي اعوان:

حېدرعلي اعوان له خېره په ډېر نوي ولولې سره مېدان ته راوتلے دے په منډه کښې چاک دے هر چاسره د خپل تنظیم الاعوان پېژندګلو کوي او په تنظیم کښې د شاملېدو دعوت ورکوي الله تعالٰی دې په خپل کرم د دۀ د اخلاص تنظیم مخ په وړاندې کېدلو ارمان پوره کړي۔

## عدنان اعوان:

عدنان اعوان هم د تنظیم الاعوان یو متحرک غړے دے په سوشل مېډیا د خپلو عزیزانو کارکردګي په ګوته کوي او نورو قامونو ته د دې خبرې څرګندونه کوي چې پښتانۀ اعوانان د چا نه کم دي څۀ.

## علي احمد اعوان:

د بالاګړه ورور علي احمد اعوان د اعوانانو قامي تحریک کښې برابر شریک دے، غواړم چې دغه شان ملګري د خپل الاعوان تحریک سره شامل شي او خپل قامي ورورلي او قامي پت وپالي۔

## فیاض علي فیاض اعوان :

ښاغلے فیاض علي فیاض اعوان د رستم د اعوانانو د ورورولۍ ځلنده ستورے دے په مختلفو موقعو ئې خپل قامي خدمتونه وړاندې کړي دي د دۀ د اعوانانو په قامي تحریک کښې پوره لاس دے

په مردان کښې د اعوانانو قامي جرګې سره مرسته په زرګونو اعوانانو برخه اخستې وه د دغه نامورو نومونه او د هغوي پوره تفصیل کښې به مانه کمے بېشې خامخا راځي زۀ بخښنه غواړم ترڅو چې ماته یاد دي۔ د هغوي نامې ترخپله وسه په دې کتاب کښې ځاے کوم مفتي مولانا فضل اکبر اعوان زوے د محمدصفدرکاکا شمسي روډ مردان، حاجي



عنایت شېرپور، غلام سرور کورغ، زېرالله ناظم وېلج کونسل کورغ، شاه نواز صدر اے این پي تحصیل مردان.

نصیرخان بېنک روډ مردان پاک مېډیکل سټور مردان، عزیز اسراني امن شاه حسن اعوان محمداباد (صحبت اباد عارف اعوان) شاه جهان اعوان، تلاوت شاه اعوان شریف اباد طورو۔

ملک خان شېر ډسټرکټ ممبر اضاخېل پایان، مستقیم ماسټر باغچه ډېرى، طاهر اعوان ګدر زرعي ادویات سټور، ملک معتبر اعوان خواجه، سلیم خان اعوان خواجه۔

ذوالفقار جرنل سټور ممبر جرنل کونسل اکبراباد
ساجداعوان باغ ارم، انورعلي اعوان باغچه ډېرى
برهان الله اعوان خوره بانډه
قاضي سلیم اعوان ایډوکېټ کسکورونه مردان
امیرنواز اعوان ولد عجب خان اعوان کسکورونه
غندل شاه اعوان کسکورونه
محمدولد ظفیرګل کسکورونه
انورعلي محله بلال ټاؤن کنال روډ
نعیم الله مسلم اباد
نوروز خان ګلي باغ
نعیم شاه اعوان ګلي باغ
مهتاب الدین ګلي باغ
اسدالله خان ولد ثواب ګل ګلي باغ
فاضل ولد محمد ګلي باغ
سعیداعوان ولد اول دین اعوان ګلي باغ
شاهداعوان ګلي باغ

محمد منیر اعوان ګلي باغ
فلک ناز، علي زیب ولد اسلم خان اعوان ګلي باغ
اصف اعوان حسن اعوان ولد خانزاده ګلي باغ
عبدالشکور اعوان ګلي باغ
بخت شېر ګلي باغ
حافظ سهیل احمد ولد اعتبارخان فضل کالج ګلي باغ
ملک سبزعلي شاه، پارهوتي محله باغ کالوني
نورسېد اعوان محله ناظران هوتي
محمد عثمان اعوان ولد محمد عمر قاضي خېل هوتي مردان
کمال الدین اعوان شېخ ملتون
ارشد علي اعوان شېخ ملتون
جان خان اعوان باغ ارم
زرشاد مستري اباد
غفران الدین ولد عمران الدین،
محمد اسرار،
ثواب ګل محمد الطاف چاتو چوک باچه ګړهي
حاجي نوروز خان اعوان شمسي روډ باچه ګړهي
سرتاج مهو ډېرۍ
محمد اسماعیل اعوان کورغ
ملک حامد اعوان باغ ارم
نیاز محمد اعوان باغ ارم
مفتي عبدالوکیل قادري جمال ګړهي
اوېس علي اعوان ولد معراج علي اعوان
زاهدشاه زاهد اعوان ۱۹۹۰ء کښې د بېدارۍ تحریک شورو کړے وۀ
ماصل خان اعوان، لائق ضمیر اعوان، اسرار اعوان
ملک فتح اعوان تنګي خټک نوښار
ملک اصف اعوان بالو اکبرپوره



ملک هاشم خان اعوان لالاکلے
ملک بنات شاه اضاخیل بالا
شاعر او ادیب زاهدشاه اعوان اضاخېل پایان نوښار

عجب خان ممبر صېب د حمزه خان: د ګدر حمزه خان یو دروند سیاسي مشر اروانښاد عجب خان اعوان ممبر صېب دے، چې د اعوانانو ملي ذکر کېږي نو د ښاغلي عجب خان اعوان ممبرصېب قامي خدمت به نۀ هېروي. د دوي زوے عالمګیر اعوان اېډووکېټ ته هم تنظیم الاعوان سترګې په لار دي چې دوي به د خپل پلار باباجان نه زیات په عملي رنګ کښې خپله قامي فریضه پوره کړي.

د خیبرپښتونخوا موجوده سپیکر مشتاق احمدغني صاحب هم د اعوانانو ورور دے، یو ځلنده ستورے دے. اعوان قام د دوي په خدماتو فخر کوي.

ښاغلے صابرحسېن اعوان هم د خیبرپښتونخوا یو نامه وړې خېرخواه دے. د دوي خدمات هم د چانه کم نۀ دي.

ملک ګلفام هم یو دروند خوږ د اعوان برادرۍ کلک ملګرے او خدمتګار دے.

# کتابیات

1. اعوان تاریخ کے آئینے میں، محبت حسین اعوان، ۱۹۶۹ء
2. بنو تاریخ کے آئینے میں، طفیل احمد فیضی
3. تاریخ شیعان علی (رض)، علی حسین رضوی
4. تاریخ الاعوان، ملک شیر محمد خان اعوان
5. تحقیق الاعوان، خواص خان گولڑہ
6. تاریخ ابن خلدون، علامہ عبدالرحمٰن بن خلدون، ترجمہ
7. تاریخ ابن کثیر، علامہ ابولفدا عمالدا ین ابن کثیر
8. تاریخ الخلفاء، جلال الدین سیوطی، ترجمہ، شمس بریلوی
9. تاریخ فاطمین مصر، ڈاکٹر زاہد علی
10. تفہیم القرآن، سید ابوالاعلیٰ مودودی
11. تاریخ ملک، عبدالحلیم خواجہ پوری
12. تاریخ علوی، مولوی حیدر علی اعوان
13. تلہ گنگ تاریخ کے آئینے میں، محمد صدیق علوی
14. جناب محمد حنیفہ (رض) بن حضرت علی (رض)، راحت حسین ناصری
15. جنگ زیتون، امیر بخش
16. جنگ نامہ حامد کلان جنگ نامہ، حامد کلان
17. امام حنیفہ (رض)، امام حسین (رض)، حامد
18. حقیقت اعوان، باباہاشم



19. خلافت امویہ اور ہندوستان، مولانا قاضی اطہر اسلام پوری
20. سید سالار مسعود غازی، مولانا بدالقادری
21. شخصیات سرحد، محمد شفیع صابر
22. ضیاء الانصار، عبدالرحمٰن شاد
23. میرا سفر نامہ، میجر طلاخان سدوزئی
24. منظر سون، شاہ دل اعوان
25. وادی سون سیکیسر، احمد غزالی
26. وادی سون سیکیسر، محمد غلام سرور خان اعوان
27. آئین اکبری، علامہ ابوالفضل
28. تذکرہ تیموری، ترجمہ، سید ابوالہاشم
29. اصحاب الیمن، علامہ حسین بخش باری
30. پنجاب کی ذاتیں، ڈینز بٹسن، ترجمہ، یاسر جواد
31. تاریخ الہاشمی، محمد الیاس ہاشمی، ۱۹۹۵ء
32. تاریخ خان جہانی و مخزن افغانی از خواجہ نعمت اللہ ہروی
33. تاریخ پشاور منشی گوپال داس
34. تاریخ الافغان علامہ سید جمالدین افغانی (فارسی)
35. افغانستان در میر تاریخ میر غلام محمد غبار (فارسی)
36. تاریخ نامہ ہرات سف بن محمد یعقوب الحروی ترجمہ اردو
37. تاریخ پشتون سردار محمد خان گنڈاپور
38. تاریخ صوبہ سرحد محمد شفیع صابر
39. یوسف زئی قوم کی سرگزشت خان روشن خان
40. دی پٹھان سر اولف کیرو انگریزی
41. دی نارتھ ویسٹ فرنٹیر آپ پاکستان عبدالقدوس انگریزی

42. حیات لودھی معروف بہ شوکت افغانی محمد عبدالحکیم لودھی
43. تنالوی تاریخ کے آئینے میں طفیل احمد خان
44. تذکرہ پھٹانو کی اصلیت اور ان کی تاریخ خان روشن خان
45. افغان اور افغانستان تاریخ کے آئینے میں (راجہ افتخار علی خان)
46. پشتون تاریخ کے آئینے میں سید ظفر کاکاخیل
47. افغانستان، دارا سے امان اللہ تک از لیفٹننٹ جنرل سر میکسن
48. افغان تنولی از غلام نبی خان
49. عہد بنگش از مفتی ولی اللہ
50. پختونوں کا تاریخی سفر (بنی اسرائیل کے تناظر میں) از سلطان محمد خان
51. اے ہسٹری آف افغانستان (انگریزی دو جلدیں) از پرسی سائیکس
52. سرزمین افغان و بلوچ از ایچ جی راورٹی
53. تاریخ افغانستان بعد از اسلام از عبدالحئی حبیبی
54. پشتون قبائل از لفٹننٹ کرنل محمد احسان اللہ
55. حیات افغانی از محمد حیات خان
56. تذکرہ افغانی از عادل محد خان رءیس
57. دارالاقبال بھوپالی
58. تحقیق الافغان از سمیع اللہ خان
59. تذکرہ افاغنہ جالندھر از محمد ایوب خان
60. مشاہیر سرحد از عبدالقیوم
61. پلوشہ، کراچی، ۱۹



د لیکوال والد محترم
ارواحاد لعل محمد ہستم خیل اعوان



نهار اعوان

د اعواڼانو تاريخ د ګران ملګري نهار اعوان تحقيقي زيار دے او په دغه زيار زما دا خو کرښې نهار د تبرک په طور شاملول غواړي او زۀ ئې د ځان د پاره اعزاز ګڼم نهار اعوان د عبدالروف عارف نه پس دوېم سړے دے چې زما شاعر ملګرے دے او زمونږ د وړوکوالي د ادبي هلو ځلو ډېر يادونه شريک دي.

نهار اعوان ښۀ شاعر دے د شاعرۍ مجموعه ئې "د سبا په لوري" په نوم چاپ ده. د مياشتنۍ ننګ ناموس چيف ايډيټر هم پاتې شوے دے او اوس دا دے د خپلو اعواڼانو تاريخ ئې هم مرتب کړو کۀ څۀ هم ملګرے نهار د ادبي دنيا نه ډېره موده په ډډه پاتې شوے دے خو د خپلو زړو ملګرو سره خپل پټ پالي او په غم ښادۍ کښې په رښه ټنډه شريکېږي او نن چې هغه ماله د دې کرښو ليکلو اعزاز راکوي دا ئې د دغه مينې او خلوص ثبوت دے.

اعواڼان په وصلي لحاظ کلک پښتانۀ دي او د پښتونخوا په بيلو بيلو سيمو کښې په يو ډېر لوے شمېر اباد دي او دا مختصره تذکره به په نورو سيمو کښې ابادو اعواڼانو له دا تحريک ورکړي چې هغوي د خپل اجتماعي شخصيت خوارۀ وارۀ اجزاء راغونډ کړي او د پښتون قام د تهذيبي جمال ښۀ سترګه وکړي.

مننه او مينه
فيض الوهاب فيض
19مه فروري 2019ء

سنګر پبلي کېشنز 0346-9327068